اولني چاپ

ټول حقوق محفوظ دي

مګر که څوک يي د مفت چاپ او ترجمي اراده وکړي د مولف د مراجعي نه وروسته

رابطي لپاره:

islamtorrent@gmail.com

فسح وزارة الإعلام

## دمؤلف دشرحی ترجمة

### شیخ امام عبدالعزیز بن عبدالله بن باز رحمه الله فرمایلي:

:

الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ، وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ، وَصَلَّى اللَّهُ وَسَلَّمَ عَلَى عَبْدِهِ وَرَسُولِهِ نَبِيِّنَا مُحَمَّدٍ، وَعَلَى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ أَجْمَعِينَ.

أَمَّا بَعْدُ..

دا مختصر یوځو کلمات دي چه ددي تعلق ددین سره دي دکوم چه یادول یي په عامو خلکو باندي واجب دي، او دي له مي د ( عامو مسلمانانو لپاره ضروري درسونه) نوم ایخي دي.

د الله نه دا سوال کوم چه ټولو مسلمانانو لپاره فایده مند وي،، او الله دي زما طرف نه قبول کړي،بیشکه الله تعالی نهایت سخي او رحم کولو والا ذات دي.

عَبْدُالْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِاللهِ ابْنِ بَازٍ.

### ولي دامهم درسونه وایو؟

ځکه چه دا ډیر ضروري او اهم کتاب دي،لکه څنګه چه مؤلف رحمه الله وربانډي نوم ایښي دي اوعلماو وربانډي نصیحت هم کړي دي.

که چرته یوڅوک اوایي :چه صحیح ده اهمیت والادي خولیکن دعاموخلکولپاره، اوزه یوطالبعلم یم،زمامقام دعاموخلکونه لوي دي . مرتبه مي دعاموخلکونه اوچته ده!

جواب :مونږ به ورنه ددي کتاب باره کي چه څه پکي دي تپوس وکړوکه چرته نه یي پیژندل بیاعام خلک ورنه ښه دي،اوطالب علم له داپکاردي،چه تواضع وکړی اوپه علماوباندي تکبرونه کړي ځان اوچت ونه ګڼي،اودحق علماویه لاره باندي لاړشي.

## دمهمودرسونوکتاب کي څه دي؟

١ -دسلف صالحينودقران دويپلواودحفظ کولواود تدبر او عمل کولوطريقه.

٢ -داسلام ايمان احسان توحيد او دشرک داقساموبيان.

٣ -دلمونځ بيان

۴ – داودس بيان

۵ -په شرعي اخلاقو او اسلامي ادابو باندي ځان ښايسته کول.

۶ – دشرک اودګناهونوداقسامو نه يرول ځان ساتل.

٧ – دمړي تيارول او په هغه باندي لمونځ کول اودفن کول.

### ولي علماءخپل مولفات کتابونه په (بسم الله) باندي شروع کوي؟

| | | | |
|---|---|---|---|
| دقران اودانبياءاورسولانود اقتداء او تابعداري په وجه. | په دي حديث دعمل کولوپه وجه باندي چه فرمايي : (کل أمرذي بال....)اګرکه ضعيف هم دي. | دسلفوعلماوو پسي داقتداءدوجي نه | دالله تعالى مبارک نوم باندي دبرکت حاصلولودوجي نه. |

# اولني درس

سورة الفاتحه اولنۍسورتونه

دفاتحې سورت اودلنډوسورتونو که امکان یی وي، دسورت زلزلې نه ترسورت الناس پورې تلاوت صحيح کول حفظ کول ،اوهمدارنګه دکوم شی چه پوهيدل يې واجب وي دهغي شرح کول.

وضاحت:

پکارده چه هره ورځ- لکه څنګه چه دسلفو طريقه وه لس آيتونه سره د شرحې يی چه دکوم مختصر تفسير نه ياد کړي، لکه تفسيرابن سعدي رحمه الله شو،اودالله تعالی نه وربانديي د عمل کولومدد وغواړي.

طالب علم دکوم تفسيرنه شروع وکړي؟

طالب علم ته دانصيحت دي چه دتيسيرالکريم الرحمن فی تفسيرکلام المنان چه دشيخ عبدالرحمن بن ناصرالسعدی رحمه الله دي شروع وکړي.

ولې؟

- ځکه چه علماووربانديدي اهتمام اونصيحت کړي دي
- ځکه چه دامختصردي نو نوي شروع کونکي لپاره مناسب دي چه ويي وايي
- ځکه چه عبارت يي اسان او واضح دي پېتوالي پکي نشته.
- ځکه چه د الله په حکم سره قران باندي عمل کولو کي مددکوي.
- ځکه چه مولف رحمه الله پکي توحيدباندي ډيرترکيز اواهتمام کړيدي

قران سره خلک په څوقسمه دي؟

دقران متعلق خلک په دوه طرفه،اووسط باندي تقسیمیږي:

تفریط :داهغه خلک دي کوم چه دقران نه لري دي په:

افراط : داهغه قسم دي کوم چه قران وايي حفظ کوي يي ليکن بغيرددتدبراوعمل نه

وسط : داهغه قسم دي کوم چه دقران په ويلواوحفظ کولوباندي اهتمام کوي اوتدبراوسوچ هم پکي کوي،اوداللّه تعالی نه وربانديدعمل کولومددهم غواړي،اودادسلفوصالحينواودهغوي داتباعوحال دي.

- قراءت نه کولو سره
- حفظ نه کولو
- تدبراوسوچ نه کولوسره
- عمل نه کولو سره
- په قران علاج نه کولوسره

الله تعالی فرمايي(وَقَالَ الرَّسُول يَارَبِّ إِنَّ قَوْمِي اتَّخَذُواهَٰذَاالْقُرْآنَ مَهْجُورًا) اورسول الله صلی الله علیه وسلم فرماييلي دي :(ان من ضئضئ هذا)يعني داسي قوم به وي چه قران به وايی لکن دغاړونه به يي نه تيريږي داسلام خلک به قتلوي اوداوثانو (بوتانو) طرف ته به دعوت کوي داسلام نه به داسي ووځي لکه غشي چه دخپل ځاي(کمان) نه ووځي که چرته ماراونيول نوداسي به يي قتل کړم لکه دعاديانو.

# دتیسیرالکریم الرحمن فی تفسیرالکلام المنان(دعلامه عبدالرحمن السعدي رحمه الله)نه ځيني مقتطفات اوپه هغي باندي ځيني سوالونه

## دسورت فاتحي تفسير اودامکي سورت دي:

﴿الحمدلله رب العالمين» الرحمن الرحيم »مالک يوم الدين ايانعبدواياک نستعين » اهدنا الصراط المستقيم » صراط الذين انعمت عليهم يرالمغضوب.
عليهم ولاالضالين ﴾

---

(١) يعني: شروع کوم په هرهغه نوم چه دالله تعالی دي،ځکه لفظ داسم مفرداومضاف دي نوددي وجي نه دټولو اسماءالحسنی لپاره عام دي. (الله)هغه الله چه اله اومعبود دي اوپه عبادت کي د يواځي خاص کولومستحق دي،دهغه د الوهيت دصفاتو دوجي نه، کوم چه هغه درباندي موصوف شوي دي،اوهغه د کمال صفات دي.

(الرحمن الرحيم) داروه داسي نومونه دي چه په دي خبره دلالت کوي چه الله تعالی دپراخه او دلوي رحمت خاوند دي،داسي رحمت چه هرڅه باندي يي احاطه ده،اوهرژوندي لپاره عام دي اودارحمت يي دهغه متقيانولپاره ليکلي دي کوم چه دانبياو اورسولانوتابعداروي،نودداسي خلکولپاره مطلق رحمت دي اوددوی‌نه بغير نورو خلکو له هم څه حصه ددي رحمت شته.

اوپه دي پوهه شه چه دهغه قواعدونه چه دامت اوداماماانو درباندي اتفاق دي داهم دي چه: دالله په نومونواوصفتونوباندي ايمان ساتل،اوهمدارنګه دصفاتو احکام لکه مثال په دي خبره به ايمان لري چه الله تعالی رحمن اورحيم دي،نعمتونه ټول دالله درحمتونو اثاردي،اوهمدارنګه دالله تعالی په ټولونومونوبه ايمان ساتي.

دعليم صفت باره کي به داسي وايي :چه بيشکه عليم ذات دي دداسي علم خاونددي چه هريوشي پيژني درباندي عالم دي،دقديرمعنی چه دداسي قدرت خاونددي چه په هرشي باندي قادر دي.

-(الحمدلله)دادالله تعالی په کمال صفات باندي ثناده حمددي،اودالله تعالی په

کارونو باندی چه فضل اوعدل لره شامل دی،نودالله لپاره کامل حمددی دهرطرفنه.

﴿رب العالمین﴾ الرَّبُّ: دټول عالم پالونکي اوتربیت کونکي،اوعالم نه
مرادهغه څوک چه دالله نه سوادي،چه پیداکړي یي دي اسباب یي
ورته پیداکړیدي،اوداسي لوي نعمتونه یي وربانديي کړیدي چه
که چرته ورنه لري کړي شي نوددوی‌لپاره به بقاءناممکنه وي
.نوهریونعمت چه دوی‌باندي دي دالله دطرف نه دي.
اودالله تربیت په دوه قسمه دي خاص اوعام:
عام : ددي نه مراد دادي چه الله تعالی ټول مخلوق پیدا کړل،بیا یي ورله رزق ورکړواو د هغه مفاداتو او مصالحو راهنمايي ورته وکړه کوم کي چه ددوي ددنیاوي زندګی بقاء ده.
اوخاص : دا د هغه د اولیاو دوستانو تربیت دي،چه په ایمان یي تربیه کړي دي،اوددي لپاره یي توفیق ورکړي،اوپوره کړي یي دي،اوددوي اودایمان په منځ کي چه کومي پردي دي هغه یي ورنه لري کړي دي،اوحقیقت کي تربیت  هر خیر کار ته توفیق ورکول دي او د هر شر نه بچ کول دي. اوهمداوجه ده چه دانبیاودعاګاني به اکثره درب په لفظ باندي وي،اودهغوی‌غوښتوني مطالبات ټول دالله خاص ربوبیت کي شاملي وي. نودالله تعالی داقول رب العالمین دمخلوق پیدایش او تدبیر او نعمت کولو کي دالله په یواځیوالي اوانفرادیت باندي اودالله تعالی کمال غناءباندي اودبنده ګانورب ته په هرڅه کي فقرباندي دلیل دي.
(مالک یوم الدین):مالک هرهغه څوک دي چه دملکیت په صفت باندي
موصوف وي اونښه اوأثریي دادي چه امر او نهي به کوي،اجراوعقاب اوسزابه
ورکوي،اوهررنګه تصرفات به خپل ماتحت کي کولي شي،اوبیایي مالک سره مالك یوم الدین ذکر وکړوچه ددینه مطلب دقیامت ورځ ده،هغه ورځ چه خلکوته به دخپلواعمالودخیراوشربدله ورکول کیږي.        ځکه په دغه ورځ باندي به خلکوته په واضحه شکل دالله تعالی کمال عدل اوبادشاهي ښکاره شي اودبنده ګانو بادشاهي به ختمه شي،تردي چه په دغه ورځ به بادشاهان غلامان او ازادخلک ټول به برابرکړي،ټول به دالله تعالی عظمت اوعزت ته خاضعه اوټیټ وي،اودبدلي ورکولو ته انتظاربه وي،دالله نه به دثواب طمعه کوي،اودعذاب نه به یي په یره کي وي،نوددي وجي نه ذکر یي خاص کړي دي،اوکنه هغه هسی هم دقیامت دورځي اودنوروټولوورځو مالک اوبادشاه دي.

(٥) اودالله تعالی داقول : ﴿ إيَاك نعبد وإيَاك نستعين﴾: يعني مونږصرف يواځي تاپه عبادت کي اومددغوښتلوکي خاص کوو.ځکه دمعمول تقديم حصرثابتوي،اود حصر نه مراد د مذکور لپاره حکم ثابتول دي،او د هغه نه علاوه دبل چا لپاره د حکم نفي کول دي، ګوياکه وايي :چه صرف ستاعبادت کووتانه بغيرډبل چاعبادت نه کوو .دتانه مددغواړوتانه بغيرډبل چانه مددنه غواړو .اودعبادت مخکي کول به مددباندي دعام مخکي کول دي په خاص باندي اواهتمام دي په دي خبره چه دالله تعالی حق په بنده ګانوباندي مخکي وي.

اوعبادت :جامع نوم دي دهرهغه کارچه الله تعالی يي خوښوي،اودهغه ظاهري اوباطني اقوالواعمالوچه الله ورباندي رضاکيږي .

اواستعانت مدد :دمنفعت جلب کولواودضررپه دفع کولوکي الله باندي اعتمادساتل سره دکيدلو ديقين سره.

اودالله تعالی عبادت کول اودهغه نه مددغوښتل دهميشه خوشبختۍاوسعادت وسيله ده،اودهررنګه شرنه دنجات وسيله ده،نودنجات اوبچ بله لاره ددي دواړو نه علاوه نشته،بلکه عبادت هغه وخت عبادت وي کله چه درسول الله صلی الله عليه وسلم نه اخستل شوي وي،اودالله تعالی رضاپکي مقصودوي،نودی دوه کارونوباندي به عبادت وي،اودمدد ذکردعبادت نه وروسته ځکه دي چه په ټولوعبادتونو کي بنده الله تعالی ته دمددمحتاج دي،که چرته الله تعالی دده مدد و نه کړي نوداچه څه غواړي داوامرواونواهيونه ورته نه شي حاصليدلي،بياالله تعالی فرمايي:

(اهدناالصراط المستقيم ) :مونږته صحيح لاره اوښايه اوپه صحيح لاره دتللوتوفيق راکړه،اواهغه واضحه لاره ده کوم چه الله ته اوجنت ته دي رسوي،اودادحق پيژندنه ده اوعمل ورباندي کول دي .نولاري ته هدايت دادين په ځان لازمول دي،اوددين اسلام نه بغيرنوردينونه پريښودل دي،نودا دعاءيوه جامعه دعاءده اوبنده له فايده ورکونکي دعاء ده،اوددي وجي نه انسان باندي داواجب دي چه دلمونځ هررکعت کي دالله نه دادعاءوغواړي

ځکه چه دی ته یي ضرورت دي،اودامستقیمه لار دا ده:
٧) (صراط الذين انعمت عليهم ) دهغه کسانولار چه تاوربا‌ندي انعام
کړیدي دانبیاونه صادقینواوشهداو  اوصالحینونه، غیردهغه کسانود
لاري نه چه مغضوب علیهم دي یعني هغه کسان چاچه حق پېژندلي دي اوپرېښی
دي،لکه یهوداودهغوی‌په رنګه نورو.)
نودي سورت کي داسي شیان دي چه هغه دقران نورو سورتونوکي نشته،نود
توحید دري واړه اقسام پکي شامل دي،توحیدربوبیت ددي
قول (رب العالمين) نه اخستل کیږي اوتوحیدالوهیت یي چه یعني الله
تعالی په عبادت کي یواځي ګڼل دي ددي قول نه(اياک نعبدواياک
نستعين) نه اخستل کیږي .اوتوحیداسماءوصفات دالله تعالی دکمال
صفتونه کوم چه یي ځان لپاره  ثابت کړي دي اويارسول الله صلی الله
علیه وسلم ورله ثابت کړي وي،بغیردتعطیل اوتمثیل اومشابهت نه
ددي قول نه چه(الحمد)ده وربا‌ندي دلیل دي،لکه څنګه چه مخکي
تېرشو.همدارنګه دنبوت ثبوت هم پدی قول کي دي :(اهدناالصراط المستقيم)
ځکه دابغیردرسالت نه نه کیږي.اوهمدارنګه دالله په دي قول(مالک یوم الدين)کي
په عملونوبا‌ندي دبدلي  ورکولوثبوت دي،اودابدله به په عدل اوانصاف سره
وي،ځکه ددين معنی په انصاف سره بدله ورکول دي.اوهمدارنګه دي سورت کي
قدر(تقدير)هم شامل دي اوهغه داسي چه بنده حقیقي کونکي دي خلاف دقدريه
اوجبریه. بلکه دالله تعالی په دي قول(اهدناالصراط المستقيم)کي په ټولواهل
بدعواوګمراهانوبا‌ندي رد دي،ځکه دي کي دحق پېژندل دي اوعمل وربا‌ندي کول
دي،اوهربدعتي اوګمراه ددي خلاف دي. اوهمدارنګه پدي ايت(اياک نعبدواياک
نستعين)کي اخلاص سره دين کي عبادت اومددغوښتل دي . فالحمدلله رب العالمين.

❁❁❁

## [دآیت کرسي تفسیر]

﴿اللَّهُ لاَإِلَه إِلاَّهُوَالْحَي الْقَيُّومُ لاَتَأْخُذُه سِنَةٌوَلاَنَوْمٌ * لَّهُ مَافِي السَّمَاوَات وَمَافِي الأَرْضِ مَن ذَاالَّذِي يَشْفَع عِندَهُ إِلاَّبِإِذْنِه يَعْلَمُ مَابَيْن أَيْدِيهِم وَمَاخَلْفَهُم وَلاَيُحِيطُونَ بِشَيْءٍمِّن عِلْمِهِ إِلاَّبِمَاشَاءوَسِعَ كُرْسِيُّه السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ وَلاَيَؤُودُه حِفْظُهُمَاوَهُوَالْعَلِيُّ الْعَظِيمُ ﴾

---

رسول الله صلی الله علیه وسلم خبرورکړي دي چه بیشکه دا آیت دقران په آیتونوکي عظیم آیت دي،ځکه په دي کي دتوحیدمعنی پرته ده،اوهمدارنګه عظمت اودالله تعالی پراخه صفات پکي دي،نودایي ویلي دي چه دا(الله)دي هغه الله چه دهغه لپاره ټول دالوهیت صفات دي،اودهغه نه بغیربل څوک دالوهیت اوربوبیت دصفاتومستحق نه دي،نودهغه نه بغیردبل چاالوهیت منل اویادبل چاعبادت کول باطل دي.

اوبیشکه دا الله(الحي)دي هغه داچه دهغه لپاره ټول کامل صفات دژوند دي ...که اوریدل لیدل قدرت اراده اوهمدارنګه نورذاتي صفات

وهمدارنګه(القیوم)دي چه پدي کي ټول صفات الأفعال داخل دي،ځکه ...اهغه قیوم ذات دي چه دنوروټولومخلوقاتونه مستغني دي،ټول مخلوقات وموجودات یي پیداکړل،اوبیایي بقاء ورکړه،اوبیایي هرهغه څه ورله تیارکړه ...وم چه ددوی دوجوداوبقاءلپاره ضرورو،اودکمال حیات اوقیومیت نه یي ...اهم دي چه لاتأخذه سنة (یعني پرکالي پری نه راځي) ولانوم ،اونه خوب ...رځي،ځکه پرکالي اوخوب دامخلوق باندي راځي،ځکه چه کمزوري اوعجز وستړي کیدل پکي وي،اودادوه صفتونه دعظمت اودکبریاءاودجلال ...خاوندباندي نه راځي،اوددي خبریي هم راکړي دي چه دا الله هرهغه څه چه ...سمانونواوځمکه کي دي دهغه ټولومالک دي،نودا هرڅه ټول دالله تعالی بنده ...ګان اوغلامان دي هیڅ څوک دهغه دملکیت نه نشي وتلي

ان کل من فی السموات والأرض الآتی الرحمن عبدا)نوهغه الله دټولومالکانو مالک دي،اودهغه لپاره دملکیت بادشاهي اودتصرف سلطان اوکبریاءلویوالي صفات دي.

اودکمال بادشاهي نه يي داهم دي چه (لايشفع عنده)هيڅ څوک دهغه په وړاندي دچاشفاعت نه شي کولي،مګر(الاباذنه)دهغه په اجازت،نوټول شفاعت کونکي اوغښ خلک دهغه بنده ګان اوغلامان دي،شفاعت دچاهم نه شي کولي مګرترهغه چه اجازت ورته ميلاونه شي ) .قل لله الشفاعةجميعاله ملک السموات والأرض).او الله چاله دشفاعت اجازت نه ورکوي مګردچانه چه راضي وي او الله په توحيد راضي کيږي،اودرسولانو په اتباع کولوبه رضاکيږي،نوڅوک چه دی صفاتو والانه وي نودهغه په شفاعت کي هم بياڅه حصه نشته.
بيايي دالله دپراخه علم باره کي خبرراکړيدي،چه هغه هرڅه باندي احاطه کونکي اوراګيرونکي دي،اودمخلوقاتوپه مخکي چه کوم کارونه دي دمستقبل کي چه دهغي نهايه نشته وربانديي عالم دي،(وماخلفهم)اوکوم کارونه چه مخکي تيرشويدي ماضي کي،اوبيشکه دي الله باندي هيڅ هم پټ نه دي اونه ورنه کوم شي پناه کيدلي شي،(يعلم خائنةالأعين وماتخفي الصدور )اومخلوقات دالله په علم اومعلومات باندي خپله احاطه نه شي راوستلي،مګرکوم چه دالله تعالی ورته خوښه وي (الابماشاء) دهغی نه هغه ورته ښايي،اوهغه هم ځيني شرعي اوتقديري کارونه،اودادالله تعالی دعلم نه ډيره معمولي حصه ده چه خلکوته يی ښودلي ده،لکه څنګه چه رسولانواوملائکوويلي و :(سبحانک لاعلم لناالاماعلمتنا)
بيايي دالله دعظمت اوجلال باره کي خبرراکړو،اودهغه کرسي ځمکی اواسمانونوپوري پراخه ده،اوبيشکه الله تعالی دددي ځمکي اواسمانونواوددي په منځ کي چه څوک دي دهغی حفاظت کړيدي،اوداحفاظت يي نه ستړی کوي دکمال عظمت اولوي والي اوداقتداراودپراخه حکمت دوجي نه په احکاموکي.(وهوالعلي العظيم) اوچت دي په خپل ذات کي په ټولومخلوقاتوباندي،اوچت دي په خپل لويوالي اوصفاتوسره،اوچت ات دي،ټول موجودات ورته تابع دي،اوټول نفسونه ورته ذليل دي،(العظيم)راجمع ؛ونکي دي ټول صفاتولره دعظمت لوی والي کبرياءاومجد. نودداسي يوآيت دي چه دي ولومعناګانوباندي مشتمل دي،چه دټولونه اوچتي معناګاني يکي دي،اودا آيت ددي ستحق دي چه دقران په آيتونوکي دعظيم آيت وي،اوچه څوک يي وايي نوهغه له هم کاردي چه تدبراوفهم سره يي اوايي چه زړه يي ديقين اوعرفان اوايمان نه ډک شي،اوپه ي باندي به دشيطان دشرونونه هم محفوظ وي.

❁❁❁

## [دسورت زلزال تفسیراوودامدني سورت دي]

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿إِذَازُلْزِلَتِ الْأَرْضُ زِلْزَالَهَا (١) وَأَخْرَجَتِ الْأَرْضُ أَثْقَالَهَا (٢) وَقَالَ
الْإِنْسَانُ مَالَهَا (٣) يَوْمَئِذٍتُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا (٤) بِأَنَ رَبَّكَ أَوْحَى لَهَا
(٥)يَوْمَئِذٍيَصْدُرُالنَّاسُ أَشْتَاتًالِيُرَوْا أَعْمَالَهُمْ (٦) فَمَن يَعْمَل
مِثْقَالَ ذَرَّةٍخَيْرًايَرَهُ (٧) وَمَن يَعْمَل مِثْقَال ذَرَّةٍشَرًّايَرَهُ﴾

---

(١-٢) الله تعالی دقیامت دورځي خبرراکوي چه څه حال به وي،اوځمکه به په زلزله باندي شي اوخوزیږي به تردي پوري چه کوم بلډنګونه اواوچت شیان دي ټول به راوغورځیږي،غرونه به یي اوارشي اوچتي غونډۍګاني به یي ختمې شي،اوبالکل به اواره شي ځمکه،هیڅ کوږوالي به پکي نه لیدل کیږي، (واخرجت الأرض أثقالها) یعني ځمکه به دخپلي خیټي نه هرڅه راوباسي خزاني اومړي.

(٣) (وقال الانسان) کله چه انسان داسي غټ کارونه اوتغییرات اوویني اوډیرغټ به یي وګڼي،نووایي به چه(مالها) دي ځمکي باندي څه وشو؟.

(٤-٥)(يومئذتحدث) (یعني ځمکه به خبري وکړي ) (اخبارها) یعني ګواهي به ورکړي په هرهغه چاچه څه یي ددي ځمکي په سرباندي کړي وي،دښه اوبد.ځکه ځمکه دهغه ګواهانونه ده کوم چه به بنده ګانوباندي دخپلوعملونوګواهي ورکوي،(بأن ربک أوحی لها)یعني الله به ورته امرکړي وي،چه څه ورباندي تیرشوي دي دهغي خبردورکړي،نوداځمکه دالله دامرمخالفت اونافرماني نه کوي( .يومئذيصدرالناس)په دي ورځ به خلک راټول شي،دادقیامت دحالاتونه یوحال دي کله چه الله تعالی ددوۍپه منځ کي فیصله وکړي (اشتاتا) یعني ګډوډمتفرق( لیروأعمالهم) ددي لپاره چه الله تعالی ورته کوم عملونه چه یی کړي دي دبدۍاودنیکۍورته وښايي .اوددغه اعمالو پوره بدله هم ورکړي.

(فمن يعمل مثقال ذرةخيرايره*ومن يعمل مثقال ذرةشرايره)نوچاچه دذري برابرنیکي کړي وي وبه یي ویني اوچاچه دذري برابربدي کړي وي هم وبه یي ویني.

اوداشامل دي عام تول خیروشرلره،ځکه هغه چه کله الته دذري برابر چه دېولوشیانونه وړوکي دي بدله پري ورکول کیږي نو غټ شیانو کارونو باندي به خامخابدلي ورکول کیږي،لکه څنګه چه الله تعالی ویلي دي(یوم تجدکل نفس ماعملت من خیرمحضرا وماعملت من سوءتودلو أن بینهاوبینه أمدابعیدا)

(ووجدواماعملواحاضرا )

اوپدي کي دخیرکارونوکولولپاره ترغیب دي اګرکه لرهم وي اودشردکارونونه ترهیب اویرول دی اګرکه ډیرحقیراووړوکي هم وي.

❁❁❁

[دسورت العادیات تفسیراوداملکي سورت دي]

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿وَالْعَادِيَاتِ ضَبْحًا فَالْمُورِيَاتِ قَدْحًا فَالْمُغِيرَاتِ صُبْحًا فَأَثَرْنَ بِهِ نَقْعًا فَوَسَطْنَ بِهِ جَمْعًا إِنَّ الْإِنْسَانَ لِرَبِّهِ لَكَنُودٌ وَإِنَّهُ عَلَى ذَلِكَ لَشَهِيدٌ وَإِنَّهُ لِحُبِّ الْخَيْرِ لَشَدِيدٌ أَفَلَا يَعْلَمُ إِذَا بُعْثِرَ مَافِي الْقُبُورِ وَحُصِّلَ مَافِي الصُّدُورِ إِنَّ رَبَّهُمْ بِهِمْ يَوْمَئِذٍ لَخَبِيرٌ﴾.

---

(۱) الله تعالی په اسونو باندي قسم وکړوځکه په دي کي دالله تعالی دقدرت ښکاره نښې دي،کومي چه مخلوقاتوته معلومي دي،اوالله تعالی وربانديبیاقسم په داسي حال کي کوي چه نورحیوانات پکي شامل نه دي،نوفرمايي(وَالْعَادِيَاتِ ضَبْحًا )عادیات دعدونه اخستل شوي دي یعني تیزرفتارقوي داسی قوي اوتیزرفتار چه دهغی دوجي نه یي دنفس یعني ساه اخستلواوازدسیني نه راوځي دتیزرفتاري وخت کي .

(۲)(فالموریات)اور ویستونکي خپلوخپوباندي کله چه یي په کاڼوباندي اوهي ولږيږي،(قدحا)په وهلوسره دخپوپه کاڼوباندي دخپودسختوالي اودقوت دوجي نه کله چه په منډه وي،(اوراوباسي ) .

(۳)(فالمغيرات)حمله كونكي په دشمنانوباندي(صبحا)دسهارپه وخت كي اوداغالبه وخت كي داسي وي چه حمله دسهارپه وخت كي وي.

(٥-٤)(فأثرن)نوپريږدي دوی‌دي وخت كي په خپل تيزتللواوحمله كولوسره( نقعا)دوړه اوغبار.

(فوسطن به)نودي وخت كي خپلواسونوباندي ددشمن صفونوته دننه كيږي،(جمعا)ډلي ددشمنانوته چه دوی‌وورباندي حمله كړيده.

(٦)(ان الانسان لربه لكنود) دامقسم عليه دي يعني جواب قسم دي بيشكه دا انسان دخپل رب ناشكره دي. (يعني خيراوحق چه دالله تعالى ورباندي دي په هغي كي سستي كونكي دي .اود انسان طبيعت دادي،چه نفس يي دا اجازه نه وركوي چه كوم حقوق ورباندي دي چه هغه كامل شكل باندي پوره اداءكړي،بلكه طبيعت يي سستي اومنع كول دي دمالي اوبدني دحقوقوداداءكولونه .مگرهغه څوك چه الله تعالى ورته هدايت كړي وي،اودي صفت نه خارج وي،دحقوقوداداءكولو صفت ته راغلي وي.

(۷)(وانه على ذلك لشهيد)يعني انسان چه خپل ځان كي منع اوناشكري وينې پدي باندي خپله گواه دي اوانكارورنه نه كوي،ځكه دايوښكاره او واضحه كاردي،اوددي احتمال شته چه داضمير الله تعالى ته راجع دي،يعني بنده دخپل رب ناشكره دي،ځكه الله ورباندي گواه دي،نوپدي كي تهديداويره وركول دي هغه چاله چه څوك دخپل رب ناشكره وي،چه الله ورباندي گواه دي.

(وانه)يعني دا انسان(لحب الخير)يعني دمال(لشديد)يعني دا انسان دمال ډيرخوښونكي دي مينه ورسره لري،اوددي محبت دمال دوجي نه د واجب شوي حقوقو اداءكول يي پريښي دي،دنفس خواهش يی دالله په رضاباندي مخكي كړي دي،اوبياداچه خپل فكريي صرف دي دنياپوري محدودكړي دي،اوداخرت نه غافله شوي دي.اوددي وجي نه دقيامت دورځي په يره ولوخبرداري وركوي

(افلايعلم)ايادي متكبراوغافله ته هغه وخت نه دي معلوم (اذابعثرمافی القبور)يعني : كله چه الله تعالى مړي دقبرونونه راوباسي دحشراونشرلپار (وحصل مافی الصدور) يعني ښكاره به شي څه چه په دي كي دي (سينوكي).اوهرهغه څه چه پټ كړي شوي دي په سينوكي دخيراوشرنه نودی وخت كي به بيارازونه ښكاره شي اوهرهغه څه چه پټ وي ظاهربه شي،اودخلكومخی ته به داعمالونتيجي ښكاره شي.

(ان ربهم بهم يومئذلخبير)يعني الله تعالى ددوی په غتواووړوښكاره اوپټوعملونوخبرداردي،اوبدله ورله په دي عملونووركوي،اوداورخ يي خاص كړه په خبروركولوسره حال دا چه په هغه هروخت په هرڅه خبرداردي،ځكه داعمالودبدلي وركولونه مراد دادي چه داټول دالله په علم كي دي اوپه هرڅه خبرداردي.

❁❁❁

[دسورت القارعةتفسيراوادامكي سورت دي]

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

﴿ الْقَارِعَةُ (١) مَاالْقَارِعَةُ (٢) وَمَاأَدْرَاكَ مَاالْقَارِعَةُ (٣) يَوْمَ يَكُونُ النَّاسُ كَالْفَرَاشِ الْمَبْثُوثِ (٤) وَتَكُونُ الْجِبَالُ كَالْعِهْنِ الْمَنْفُوشِ (٥) فَأَمَّامَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُ (٦) فَهُوَفِي عِيشَةٍرَاضِيَةٍ (٧) وَأَمَّامَنْ خَفَّتْ مَوَازِينُهُ (٨) فَأُمُّهُ هَاوِيَةٌ (٩) وَمَاأَدْرَاكَ ماهِيَهْ (١٠) نارٌحَامِيَةٌ ﴾.

---

(١-٣) (القارعة)دقيامت دنومونونه يونوم دي, اودانوم يي ځكه وركړي دي چه خلك ټكوي اويروي يي دردوي يي په خپلي سختی اورعب باندي،ددي وجي نه ددي ورځي موضوع يي ډيره عظيمه اوغټه ګرځولي ده،په دي قول سره:(الْقَارِعَةُ (١) مَاالْقَارِعَةُ (٢) وَمَاأَدْرَاكَ مَاالْقَارِعَةُ) .

(٤)(يوم يكون الناس) : په دغه ورځ وي به خلك..ددي ورځي دسختۍاويري اورعب دوجي نه. (كالفراش المبثوث)دګډو ووخواره شوملخانوپه رنګه چه ځيني په ځينو باندي ورځي اونه پوهيږي چه كوم طرف ته لاړشي،كم ځاي كي چه ورته اور ښكاره شي هم التة وروان وي دكمزوري ادراك دوجي نه .نودادعقل دخاوندانودخلكوحال به وي.

-

۵ -(اماداخاموش اوقوي ولاړغرونه به) (كالعهن المنفوش)لكه دبيكاره شوي
وړی په شان به وي چه ډيره لړه پاتي اومعمولي هواسره الوزي،الله تعالی
فرمايي :وترى الجبال تحسبها جامدةوهي تمرمرالسحاب)ددي نه وروسته
بيابه هواكي ذره ذره والوزي اوهيڅ شي به ورنه پاتي نه وي چه وليدل
شي،بيابه تله كيښودل شي دحساب اوكتاب اوخلک به دوه ډلوته تقسيم
شي،خوشبخته اوبدبخته.

(۷-٦)(فَأَمَّامَنْ ثَقُلَت مَوَازِينُهُ)يعني دچاچه نيكی په بديوباندي ډيري
شوي،(فَهُوَفِي عِيشَةٍرَاضِيَةٍ)يعني دنعمتونوولاجنتونوكي به وي.

(۸-۱۱)(وَأَمَّامَنْ خَفَّتْ مَوَازِينُهُ)يعني چه دچانيكی دبديو مقابله ونه كړه
لږي وي (فَأُمُّهُ هَاوِيَةٌ)يعني ځاي اومسكن به يي اوروي هغه چه دنومونونه
يي يونوم هاويه دي.

يعني مثال به يي دموريه رنګه وي لكه ځنګه چه مورهروخت وي،لكه ځنګه
چه الله تعالی هم فرماييلي دي) :ان عذابهاكان غراما .(اوداسي هم يوقول دی
چه معنی يي :چه دماغ به يي په اوركي وي،يعني الټه به په سرباندي اوركي
غورزيږي.

(وماأدراک ماهيه)اودادي كاردتعظيم اولويوالي باندي دليل دي،بيايی ددي
تفسيرپه دي قول سره وكړو :(نارحامية).يعني دسخت ګرمی والااور.چه
ددنياداورنه يی ګرموالي اوياچنده نه زيات دي،دالله پناه غواړوددي اورنه.

[دسورت التكاثر تفسیراوودامكي سورت دي]

بِسۡمِ اللَّهِ الرَّحۡمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ أَلْهَاكُمُ التَّكَاثُرُ *حَتَّى زُرْتُمُ الْمَقَابِرَ *كَلَّاسَوْفَ تَعْلَمُونَ *ثُمَّ كَلَّاسَوْفَ تَعْلَمُونَ *كَلَّالَوْتَعْلَمُونَ عِلْمَ الْيَقِينِ *لَتَرَوُنَّ الْجَحِيمَ *ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَاعَيْنَ الْيَقِينِ *ثُمَّ لَتُسْأَلُنَّ يَوْمَئِذٍعَنِ النَّعِيمِ﴾.

---

(۱) الله تعالی خپلوبنده ګانوله زورنه اوتوبيخ وركوي،چه دځه لپاره پيداشوي دي چه هغه دالله وحده لاشريک لپاره عبادت كول دي،اودالله تعالی معرفت اوپيژندنه ده،اوالله تعالی ته انابت كول دي،اودالله محبت په هرڅه باندي مخكي كول دي، ځانونه يي ورنه مشغول كړيدي،فرمايي:
(الهاكم) مشغوله كړي يي تاسودپورته ذكركړي شوي هدف نه،(التكاثر)يعني ډيروالی دمال ،اودمال دډيرونكي ذكريي ونه كړو ددي وجي نه چه مال شامل دي هرهغه څه له چه فخركونكيورباندي فخركوي،مال،اولاد،لښكر،كسان،خدمتګاران،عزت جاه اومكان،اونورهغه څه له چه يوبل باندي دډيروالي لپاره مقصودوي نه دالله درضالپاره.

(۲)نوستاسودامشغولتياپه مال باندي اوغفلت اوپه لهولعب باندي دومره شوه چه(حتی زرتم المقابر)( تردي چه قبرونوته ورسيدی) نوبيادغه وخت كي درنه پرده اخواشوه،حقيقت درته ښكاره شو وروسته ددي نه چه راګرځيدل يكي نه وو،اودالله تعالی داقول په دي باندي دليل دي،چه عالم برزخ داسي مقصود دي چه ددي نه داخرت كورته تلل دي،ځكه الله تعالی دزيارت كونكونوم وركړيدي،دمقيمينواوهميشه پاتي كيدونكونوم يي نه دي وركړي،اوداپه بيا راژوندی كيدو اوهميشه والي اودنياكي داعمالوبدلي وركولوباندي دليل دي دهغي ورځ چه فاني كيدونكي نه ده.

(۳-٦) اوددي وجي نه يي داوعده ورسره كړيده، :(كَلَّاسَوْفَتَعْلَمُونَ *ثُمَّ كَلَّاسَوْفَ تَعْلَمُونَ *كَلَّالَوْتَعْلَمُونَ عِلْمَ الْيَقِينِ)يعني كه تاسوسره داسي علم ووچه كوم زړه ته دننه كيدلوپه هغه څه باندي چه ستاسومخي ته راتلونكي دي،

نوتاسوبه دمال ډیرولو نه وي مشغوله کړي،اونیک اعمالوته به موکوشش کړي وو،لیکن دحقیقي علم نشتوالي تاسوداسي کړی‌چه داهرڅه ویني (لترون الجحیم)یعني قیامت به وینی‌اوبیابه خامخاهغه جهنم وینی‌کوم چه الله تعالی دکافرانولپاره تیارکړیدي.

(ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَا عَيْنَ الْيَقِينِ)یعني په سترګوباندي لیدل،په سترګوبه یي وینی‌حقیقي کتلوسره،لکه څنګه چه الله تعالی فرماییلي دي ) :وراء المجرمون النارفظنوا انهم مواقعوهاولم یجدواعنهامصرفا)

(ثم لتسألن یومئذعن النعیم)دهغه نعمتونوچه تاسوبه دنیاکي وي پکي ایاتاسوبي شکرکړي دي کنه؟اودالله تعالی حق مويکي ورکړي دي کنه؟او دغه نعمتونونه خومودالله دنافرمانی‌سبب نه ووجوړکړي؟چه درله دهغې نه شه نعمتونه درکړي اوکه تاسوبه غرورکي راغلي وی‌اوشکرمو ورله نه ووکړي،بلکه کیداي شي دګناهونوسبب به هم جوړکړي وو،چه سزادرله درکړي؟الله تعالی فرمايي ویوم یعرض الذین کفرواعلی النارا‌ذهبتم طیباتکم فی حیاتکم الدنیاواستمتعتم بهافالیوم تجزون عذاب الهون..)الآیة

❁❁❁

[تفسیرسورة‌العصراوداملکي سورت دي]

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ وَالْعَصْرِ*إِنَّ الإِنسَانَ لَفِي خُسْرٍ*إِلاَّ الَّذِينَ آمَنُواوَعَمِلُواالصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْابِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْابِالصَّبْرِ ﴾.

(۱-۳) الله تعالی په زماني باندي قسم کړی دي چه هغه شپه او ورځ دي دبنده ګانودافعالواواعمالووختونه دي،چه بیشکه انسان تاواني دي اوتاواني دګتي اونکي ضددي،اودخساري اوتاوان مختلف درجي دي کله داخساره اوتاوان مطلق وي لکه څوک چه دنیااودخرت کي تاوان وکړي، اونعمت اوجنت ورنه لاړشي اوجهنم يي په نصیب شي،

اوکله داخساره اوتاوان دځيني کارونودوجي وي نوددي وجي نه الله تعالی
دانسان لپاره داخساره اوتاوان عام ذکرکړومګرهغه کسان په تاوان کي نه
دي کوم چاکي چه څلورصفات وي:
په هغه څه باندي ايمان راوړل چه کوم باندي الله تعالی دايمان راوړلوحکم
کړيدي.اوايمان به دعلم نه بغيرنه وي،ځکه داعلم دايمان حصه ده ددي نه
بغيرايمان نه پوره کيږي.
نيک عمل،اودي کي ظاهري اوباطني ټول دخيرکارونه شامل دي،کوم چه دالله
اودبنده ګانوحقوقومتعلق دي،واجب اومستحق.
اوپه حق باندي وصيت کول چه ايمان اونيک عمل دي،يعني ځيني به ځينوته
په دي باندي وصيت کوي،اوترغيب به ورکوي.
اودالله په اطاعت باندي دصبروصيت کول اودالله تعالی دنافرمانی نه ځان
ساتل ،اوهمدارنګه د الله په تقديرباندي صبر کول کوم چه دردونکي وي.
په اولني دوه کارونوباندي انسان خپل نفس مکمل کوي،اوپه روستني دوه
کارونوباندي نورمکملوي،اوپه څلوراړوکارونوپوره کيدوباندي بنده
دخساري اوتاوان نه بچ کيږي،اوغټه کاميابي ورته حاصليږي

[تفسيرسورت الهمزة اودامکي سورت دي]

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

﴿ وَيْلٌ لِكُلِّ هُمَزَةٍ لُمَزَةٍ الَّذِي جَمَعَ مَالًا وَعَدَّدَهُ يَحْسَبُ أَنَّ مَالَهُ أَخْلَدَهُ كَلَّا لَيُنْبَذَنَّ فِي الْحُطَمَةِ وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْحُطَمَةُ نَارُ اللَّهِ الْمُوقَدَةُ الَّتِي تَطَّلِعُ عَلَى الْأَفْئِدَةِ إِنَّهَا عَلَيْهِمْ مُؤْصَدَةٌ فِي عَمَدٍ مُمَدَّدَةٍ [۱].﴾

---

(ويل) وعيدددي هلاکت دي تباهي ده اودردناک عذاب دي (لکل همزةلمزة) يعني:

دهغه چالپاره چه عيب لټونکي دي اوغيبت کونکي دي،هماز هغه څوک دي
چه دخلکوعيبونه لټوي،اوطعن لګوي په اشاروسره اوکارونوسره،اولمازهغه
چاته وايي څوک چه خبروکي دچاعيبونه لټوي.

۲-اوددي همازاولمازصفت دادي چه بل كاريي نه وي سوادمال جمع كولواوشمارلواوحسدكولونه،اوبيادادي مال دخرچ كولودنيكۍپه كارونو كي رغبت هم نه لري،اونه په صله رحمۍ كي يي لګوي اونه نوردخيركارونوكي.

۳) – يحسب (ګمان كوي دخپل جهالت دوجي نه) أن ماله اخلده چه داما ل به ده سره هميشه لپاره وي،په دنياكي،نوددي وجي دهغه كوشش دمال په ډيرولوكي وي په كوم چه داګمان كوي چه دده عمربه ډيركړي،اوپه دي نه پوهيږي چه بخل عمرونه كموي اوكورونه خرابوي،اونيكي عمرډيروي.

كلالينبذن (يعني خبردارخامخاورغورځيږي به) (في الحطمة* وَمَاأَدْرَاكَ مَاالْحُطَمَةُ ) ورغورځيږي به حطمة كي اوركي اوڅه خبر دركو تاله چه حطمة څه شي دي حطمة يي ددي اوردسختوالي اوهيبتوالي دوجی نه ورته اوييلي .بيايي ددي تفسير په دي قول سره وكړو(نارالله الموقدة ) (داالله تعالی بل كړي شوي اوردي (دكوم چه خاشاک كانی اوانسانان دي) .التي هغه اوركوم چه دډيرشدت اوسختۍدوجي نه (تطلع على الأفئدة) دجسمونونه زړونوته ورخيژي.اودداسي سختي داورګرمۍ كي به دوۍبندوي اود اور نه دوتلو اميدبه يي ختم شوي وي،نوددي وجي نه بيافرمايي :

(انهاعليهم مؤصدة ) يعني دا اوربه دوۍباندي دهرطرف نه بندوي،في عمدممدة (يعني دغټودروازوشاته ددي وجي نه چه ورنه راونه وځي.

(كلماأرادوا أن يخرجوامنهاأعيدوافيها) داالله نه پناه غواړوددي اورنه اودالله نه دبښنۍ اوعافيت سوال كوو)

❁❁❁

## [تفسیرسورت الفیل (اوداامکي سورت دي]

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ أَلَمْ تَرَكَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِأَصْحَابِ الْفِيلِ (١) أَلَمْ يَجْعَلْ كَيْدَهُمْ فِي تَضْلِيلٍ(٢) وَأَرْسَلَ عَلَيْهِمْ طَيْرًاأَبَابِيلَ (٣) تَرْمِيهِمْ بِحِجَارَةٍمِنْ سِجِّيلٍ (٤) فَجَعَلَهُمْ كَعَصْفٍ مَأْكُولٍ .﴾

---

ایاتانه دي لیدلي دالله تعالی قدرت اولوي شان اوبنده ګانوباندي رحمت اودتوحید دلائل اودهغه درسول محمدصلی الله علیه وسلم صدق،دوجي نه هرهغه څه چه الله تعالی دفیلانو والاسره وکړه،هغوی چه دالله دکوربیت الحرام ته یی چل جوړکړي وو اوتدبیریي نیولي وو،اودالله دکوردخرابیدو اراده یي کړی وه اودی ته یی ځان تیارکړي وو،اودځان سره یي داسي فیلان او ډله فوج راوستي ووچه ددي نه مخکي عربوکي داسي نه وویه حبشه اویمن کي .اوکله چه دوی مکي ته نژدي شواو عربوددوی مخه هم نه شوه نیولي،اودمکي خلک ډیرډیدو دوجي نه اوتل،نوالله تعالی درباندي ډلي ډلي مارغان راولیږل،چه دي مرغانوسره داسي کاڼي ووچه (خاوري سره اورکي پاخه کړي شوي وو) نوپه دي کاڼوباندي یي ویشتل،اودهرغټ او وړوکي پسي شول،نوټول ختم شو اوداسي شولکه خوړل شوي واښه،الله تعالی ددوی چل اوتدبیرپخپله په دوی باندي وګرځولو،اوددوی قصه مشهوره ده،اوداهغه کال ووکوم کي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم پیداشوي وو.نودادرسول الله صلی الله علیه دنبوت پیشنګویي اورسالت باندي دلیل هم شو،الله تعالی لپاره ټول شکراوثناده

❁❁❁

[دسورت ایلاف قریش تفسیر(اودامکي سورت دي]

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

﴿ لإِيلافِ قُرَيْشٍ * إِيلافِهِمْ رِحْلَةَ الشِّتَاءِوَالصَّيْفِ * فَلْيَعْبُدُوارَبَّ هَذَاالْبَيْتِ *الَّذِي أَطْعَمَهُم مِّن جُوعٍ وَآمَنَهُم مِّنْ خَوْفٍ*﴾.

---

(۱-٤) (مفسرينوويلي دي :چه جار اومجرور دواړه دمخکيني سورت سره تړلي دي متعلق دي،يعني داصحاب الفيل يعني دفيلانودخاوندانوسره چه موخه وکړل دادقريشو دوجي نه مووکړه،دقريشو د امن اواستقامت اوددوی دمصلحتونو اوپه يخنۍ کي يمن دسفراوګرمۍ کي شام ته دسفردبرابرولودتجارت لپاره

نوالله تعالی هلاک کړل هغه څوک چه چا دوی ته دضرراودبدۍ اراده لرله،اودحرم دخلکوعظمت يي نورهم دعربوپه زړونوکي

ډيرکړو،ترديچه احترام يی وکړواوپه هيڅ يو سفرکی ورته بيامخي ته نه شو،نوددي وجي نه الله تعالی ورته دشکرکولوحکم وکړو .اوويي فرماييل ):

فَلْيَعْبُدُوارَبَّ هَذَاالْبَيْتِ) (نودوی له پکاردي چه ددي کوردرب عبادت وکړي)(يعني الله دي يواځي وګڼي اوخالص عبادت دي دالله تعالی وکړي .

الَّذِي أَطْعَمَهُم مِّن جُوعٍ وَآمَنَهُم مِّنْ خَوْفٍ)*دهغه چاچه دوی‌له يي ولږه کي خوراك ورکړو او يره کي يي امن ورکړو.

نورزق ورکول اوامن ورکول ادادنيا داسي نعمتونه دي چه ددي په بدل کي په انسان باندي الله تعالی ته شکرويستل واجبيږي.نويالله ستالپاره ټوله ثناده اوشکردي ستالپاره په ټولوښکاره اوپټونعمتونوباندي،اوالله تعالی دخپل کوربيت الحرام په ربوبيت باندي خاص کړوددي کوردفضيلت اودشرف دوجي نه کنه الله تعالی دهرشي رب دي.

❀❀❀

## [دسورت الماعون تفسير اوداوكي سورت دي]

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ أَرَأَيْتَ الَّذِي يُكَذِّبُ بِالدِّينِ *فَذَلِكَ الَّذِي يَدُعُّ الْيَتِيمَ*وَلايَحُضُّ عَلَى طَعَامِ الْمِسْكِينِ*فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّينَ*الَّذِين هُم عَن صَلاتِهِمْ سَاهُونَ*الَّذِين هُم يُرَاؤُونَ*وَيَمْنَعُونَ الْمَاعُونَ﴾.

---

(١) الله تعالی دداسي خلکومذمت کوي کوم چه دالله تعالی حقوق اودالله تعالی دبنده ګانوحقوق يي پرېښي دي،فرمايي( ارأيت الذي يكذب بالدين) ايا تا داسي شخص يااداسي څوک ليدلي دي چه دمرګ نه بعدزندګۍ ته ددروغونسبت کوي دقيامت دورځي تکذيب کوي،اوهرهغه څه چه رسولانواوانبياو راوړي دي په هغي باندي هم ايمان نه راوړي، (فذالک الذي يدع اليتيم) اوهمدغه کس ياخپل دزړه دسختوالي سره يتيم له ديکي ورکوي اودزړه دسختوالي دوجي نه يتيم باندي رحم نه کوي اوددي وجي نه يي هم کوي ځکه چه نه دثواب اميدساتي اونه دعذاب نه يرېږي، (ولايحض) اونوروته ترغيب نه ورکوي، (على طعام المسكين) مسکينانوله روټۍورکولوباندي .اوخپله هم مسکينانوله روټۍنه ورکوي پکار خوداوه چه خپله يي هم ورکوله. (فويل للمصلين) هلاکت دي لمونځ کونکولره هغه لمونځ کونکي چه لمونځ کوي ليکن (عن صلاتهم ساهون﴾دخپل لمونځ نه غافله وي .يعني هغه خپل لمونځونه ضايع کوي .خپل وخت باندي يي نه کوي،دلمونځ ارکان په صحيح طريقه باندي نه اداءکوي .اوددي سبب او وجه دالله په حکم باندي اهتمام نه کول دي،ځکه يي لمونځ پرېښي دي کوم چه په ټولوکي اهم اوضروري عبادت دي .همدادلمونځ نه غافله کيدل دي چه لمونځ کونکی دهلاکت اوملامتيامستحق ګرځوي،اوهرچه لمونځ کي سهوه کيدل دي نوسهواوخطادهرچانه واقع کيږي،حتی چه درسول الله صلى الله عليه وسلم نه هم واقع شوي ده،نودډي وجي نه الله تعالی هغه کسان چه دلمونځ نه غافله دي په ريا اودزړه سختوالي اوبيرحمۍصفتونو باندي ستايلي دي،فرمايي (الَّذِين هُم يُرَاؤُونَ (يعني دخلکوته دښودني دوجي عمل کوي، )

(وَيَمْنَعُونَ الْمَاعُونَ) دکوم یوشي چه عاریتا ایادهدیي په شکل باندي
ورکولوکي کوم چه پکي ضررنه وي هم منعه کوي،لکه مثال دلوښواوتبرګي
اونورداسي شیان چه دهغي ورکول عام عادت دي داستعمال
لپاره،نوددیردحرص (بخل)دوجي نه داخلک داستعمال دامعمولي شیان چاله
دورکولو نه هم منع کوي،نودغټوشیانوورکولو وخت کي به يي څه حال
وي.په دي مبارک سورت کي مسکینانواویتیمانوله روټۍورکولوباندي،اوهغي
باندي دترغیب ورکولو اودلمونځ دخیال ساتلواودلمونځ دحفاظت
کولواونورټول اعمالوکی داخلاص ساتلوترغیب ورکړل شوي دي،اوهمدارنګه
دنیکی کارکولوباندي اودمعمولي شیانوداستعمال خلکوله ورکولوباندي
ترغیب دي،لکه لوښی کتاب وغیره،څکه الله تعالی دداسی کارنه کولو خلکو
مذمت اوبدي بیان کړي ده،والله سبحانه أعلم

[دسورت کوثرتفسیراو دا مکي سورت دي]

بِسۡمِ اللَّهِ الرَّحۡمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ اناأعطيناك الكوثر فصل لربک وانحر ان شانئک هوالأبتر﴾.

---

(۱)الله تعالی خپل پیغمبرباندي احسان کوي اوفرمايي: ﴿ اناأعطيناک الكوثر ﴾
يعني مونږتاله ډیرخیراولوي فضل درعطاکړي دي،اودهغي دجملي نه چه الله
تعالی یي دقیامت په ورځ خپل نبي له ورکوي هغه نهردي کوم ته چه
کوثروايي،دحوض کوثراوږدوالي دیوي میاشتي دمزل په اندازه دي
اوهمدارنګه عرض پلنوالي هم دیوي میاشت دمسافي برابردي،ددي اوبه دپیو
(شودو) نه ډیري سپیني دي،اودعسل (شهدو) نه ډیري خوږي دي،ددي
دڅکلودلوښوعدد به يي داسمان دستوروبرابرپه ډیروالي کي،اوپړقاکي به هم
داسمان دستوروپه رنګه وي،څوک چه دي حوض کوثرنه یوځل اوبه وڅکي
نوبیابه کله هم ورته تنده ونه لږي. الله تعالی په هغه باندي داحسان
دذکرکولونه وروسته دشکرحکم کوي،فرمايي:
( فصل لربک وانحر) نودخپل رب لپاره لمونځ وکړه اوقرباني وکړه،

الله تعالی دادواړه عبادتونه ذکرکړل ځکه دابهترين عبادتونه دي اوالله تعالی ته دنژديوالي بهترين سبب دي .اوددي وجي نه يي هم خاص کړل ځکه چه لمونځ په زړه کي اواندامونوکي خشوع اوعاجزي راولي،اودعبادت نوروقسمونوته يي هم نقل کوي،اوپه قربانی‌کي داحکمت دي چه کله انسان سره کوم ښه شي وي هغه دالله لپاره قرباني کوي اوالله ته ځان نژدي کوي،اودهغه مال خرچ کول دي کوم سره چه محبت کول اوبخل وربانديي کول انساني وصف دي. (ان شانئک) يعني تاسره بغض کولووالا اوستانقصان اوکمي بيانولووالا (هوالأبتر) يعني دهرخيرنه محروم دي،دهغه عمل منقطع دي ذکريي منقطع دي،اما محمدصلی الله عيله وسلم په حقيقت کي کامل انسان دي،په کمال کي داسي مرتبي ته رسيدلي دي چه دنورومخلوقاتوهغه درجي ته رسيدل ناممکن دي،لکه :(رفعت ذکر) د ذکراوچتوالي او کثرةالأنصاراوکثرةالمتبعين

[دسورت الکافرون تفسير]

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿ قل يآيها الكافرون*لآأعبد ماتعبدون*ولآ أنتم عابدون مآاعبد*ولآأنا عابد ما عبدتم* ولآ أنتم عابدون مآاعبد *لكم دينكم ولي دين﴾.

---

(١-٦) يعني کافروته ښکاره اوصراحت سره دا اوايه:﴿ لاأعبدماتعبدون ﴾ ) ،يعني ته ددي کفاروڅخه نه جوړشوي خودساخته معبودانونه دبراءت اظهاروکړه،دکوموچه هغوي دالله تعالی نه بغيرظاهراوباطن کي عبادت کولو.﴿ولآ أنتم عابدون مآاعبد﴾

اودچاچه زه عبادت کوم دهغی تاسوعبادت نه کوي،ځکه چه دالله په عبادت کي ستاسودالله لپاره اخلاص نه پيداکيږي،دالله لپاره ستاسوداعبادت کوم کي چه شرک دي اودشرک سره ترلي دي ديته عبادت نه وايي .اوباربارددي تکرارول داول فعل دنه پيداکيدلودليل دي،اودويم دليل دي پدي چه دالازمي وصف گرځيدلي دي دعبادت لپاره .ددي وجي نه الله تعالی ددواړو دلومنځ کي فرق کړيدي،فرماييلي دي :(لکم دينکم ولي دين ) تاسوپه خپل دين زه په خپل دين .لکه ځنګه چه الله تعالی فرماييلي دي : (قل کل يعمل علی شاکلته ) ورته اوايه چه هريوشخص خپل خپل طريقي باندي عمل کوي (بيافرمايي )انتم بريئون مماعمل وأنابرئ مماتعملون).(يونس) کوم څه چه زه کوم دهغی نه تاسوبري يي اوکوم څه چه تاسوکوي دهغي نه زه بري يم.

❁❁❁

[دسورت النصرتفسيراو دا مدني سورت دي]

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ إذاجاء نصرالله والفتح* ورأيت الناس يدخلون في دين الله أفواجا* فسبح بحمدربك واستغفره،إنه كان توابا ﴾.

(١-٣) په دي سورت کريمه کې زيرى اوخوشخبري ده،اوددي خوشخبرى دحاصليدلوسره بيارسول الله صلى الله عليه وسلم ته يوحکم دي،اوهمدارنګه ددي خوشخبري باندي مترتب ځيني حالاتو طرف ته اشاره اوتنبيه ده.خوشخبري دالله رسول ته دالله دمدداودمکي دفتح کيدلوده،اوالله په دين کي دخلکوډله ډله شامليدلوده .په دي کي ډيرخلک ستادشمنان وو،ددي نه بعدبه همداخلک ستاملګري اوانصاروي،اودکوم شى باره کي چه خوشخبري ورکړي وه بالکل هماغه رنګه پوره شوه.اماکوم چه ددى خوشخبري دحاصليدلووخت کي دالله حکم وورسول ته هغه دا ووچه دمدداوفتح نه وروسته دالله شکراداءکړي،دالله دحمداوثناءسره دهغه تسبيح بيان کړي اواستغفاراوبخښنه وغواړي.
اماکومي چه اشاري دي نويوه اشاره : داده چه ددين لپاره مددبه هميشه وي،اوادبه ډيرېږي په تسبيح اوحمداواستغفاردرسول دطرفنه .ځکه دادشکر نه دي،اوالله تعالى فرمايي :لئن شکرتم لأزيدنکم که تاسوشکروکړي نوزه به نورهم ډيردرکم .اوهمداکاردخلفاي راشدينو اودهغوي نه وروسته زمانه کي حاصل وو،دالله مددهميشه ورسره وو، . تردي چه داسلام دين داسي ځاي اوحدته ورسيدوچه نوردينونه هغه حدته نه وورسيدلي،اوبياچه د امت نه دالله تعالى داحکاماتومخالفت صادرشو،نوالله تعالى دتفرق اودحکم په تشتت باندي ابتلاءکړه .نوبياچه څه کيدل هغه وشو،اوسره ددي نه په دى دين باندي دالله تعالى رحمت دي اونرمي ده چه دچاپه عقل کي هم نه راځي،

اوهرچه دويمه اشاره ده هغه درسول الله صلى الله عليه وسلم دوفات طرفته اشاره ده،چه دهغه مرګ رانژدي شوي دي.اوددي وجه داده چه دده عمر مبارک اوفضيلت والاعمردي،چه الله تعالى وربا ندي قسم کړيدي،اوالله دامقرره کړي ده چه دفضيلت والاکارونواختتام به استغفارسره وي،مثلاًلمونځ حج وغيره..نودالله تعالى په داسي حال کي دحمداوشکرحکم کول دي کارته اشاره ده چه درسول الله صلى الله عليه وسلم وفات وخت نژدي شوي دي،نواوس تاله دخپل رب دملاقات لپاره تياري پکاردي تيارا وسيدل پکاردي،اوستادعمراختتام په دي بهترين کارونو کول پکاردي .صلوات الله وسلامه عليه.ددي وجي نه رسول الله صلى الله عليه وسلم به په لمونځ کي رکوع اوسجده کي دادعاءپه کثرت سره ويله):سبحانک اللهم ربناوبحمدک اللهم اغفرلي.

❁❁❁

[دسورت لهب تفسيراو دا مکي سورت دي]

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿ تبت يدا أبي لهب وتب*مآ أغنى عنه ماله وماكسب*سيصلى ناراذات لهب*وامرأته حمالة الحطب في جيدها حبل من مسد ﴾.

ابولهب درسول الله صلى الله عليه وسلم کاکا تره  وواودرسول الله صلى الله عليه وسلم سره يي سخته دشمني کوله،اوهغه ته به يي سخت تکليف رسولو،په ده کي نه دين وواونه دخپلوي غيرت وو،نوالله تعالى ددي وجي نه دهغه بدي بيان کړه اوپه بدصفت يي وستايه،چه دقيامت دورځي پوري به رسواوي،الله تعالى فرمايي :

﴿ تبت يدآ أبي لهب﴾ دهغه دواړه لاسونه هلاک اوتباه شواوبدبختى کي پريوته .﴿ وتب﴾ يعني څه فايده يي حاصله نه کړه (۲) ﴿ مآأغنى عنه ماله﴾ کوم مال چه دده سره وو هغه دده هيڅ پکارنشو،اوهمدى مال داسرکشه کړي وو،﴿ وماكسب﴾ اوکوم مال چه ده حاصل کړي ووچه کله وربا ندي دالله عذاب رالو هيڅ يي هم ورله ونه کړه،دالله دعذاب نه يي بچ نه کړي شو

(۳-۵)﴿ سيصلى نارا ذات لهب ﴾ ډيرزر به بل کړي شوي دلمبووالااورته دننه کړي شي،يعني اوربه يي دهرطرف نه راګيرکړي.

﴿وامرأته حمالة الحطب﴾ اودده ښځه هم کوم چه دلرګو داوربلولوولا
اوچتولوولاوه،
ددي ښځي هم رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ډیرتکلیف
رسولو،ښځی اوخاونددواړوګناه اوظلم کي دیوبل سره مددکولو. .رسول الله
صلی الله علیه وسلم ته یي تکلیف رسولوکي کوم کمي نه دي کړي،ددي په
خیټه به ګناهونه واچول شي لکه څنګه چه لرګی به واچول شي
وربلندي،اوددي په غاړه کي داچولو لپاره یوه رسی(پړي)هم تیارکړي شوي
دي﴿ من مسد ﴾ یعني دکجورودپاڼودریشونه به جوړوي،اویاددي معنی داهم
ده چه په جهنم کي به لرګي اوخاشاک راټولي اوخپل خاوندبلندي به یي اچوي
اودهغه په غاړه به دکجورودپاڼودریشونه جوړه شوي رسی‌وي.
ددواړومعنی ګانومطابق په دي سورت کي دالله دنښونه یوه نښه ده څکه چه
داسورت هغه وخت نازل شوچه ابولهب اوښځه یي هلاک شوي نه وو،الله
تعالی خبرورکړوچه ډیرزربه جهنم کي عذاب ورکړل شي،اوداهم تري ښکاره
شوه چه دادواړه به ایمان نه راوړي .نوهغه رنګه بالکل واقع شوه چه څنګه
عالم الغیب والشهادة خبرورکړیوو.

❁❁❁

[دسورت اخلاص تفسیراو دا مکي سورت دي]

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿قل هو الله أحد *الله الصمد*لم يلد ولم يولد*ولم يكن له كفوا احد﴾.

---

(١) (قل) يعني داسي حقيقت سره چه عقيده وربانديې لري،اوپه معنی يې پوهيږي

اوايه (هواحد) چه دا الله يودي،يعني وحدانيت اويووالي دالله ذات پورې منحصردي،هغه هررنګه کمال کې واحداومنفرددي،کوم چه داسماءحسنی اودکامله اوعاليه اوچت صفاتواودمقدس افعالومالک دي،چه نه يې مثال شته اونه نظيرشته،

(٢) ﴿الله الصمد﴾،الله بې نيازه دي،يعني په ټولوحاجتونوکي هغه مقصوددي،پاس عالمونه اولاندې عالمونه ټول هغه الله ته ډيرمحتاجه دي،اودهمدی الله نه دخپلوحاجتونوسوال کوي،خپل ضروري کارونوکي دالله طرف ته رجوع کوي،ځکه چه دا الله خپل صفاتوکي کامل دي. عليم ذات دي کوم چه په خپل علم کي کامل دي،حليم دي خپل حلم کي کامل دي،رحيم دي دکوم چه رحم يې په هرڅه باندې عام دي،دارنګه هغه په خپل اوصافوکي کامل دي، اوداېي کمال اوپوره والي دي،چه :

(٣) ﴿لم يلد ولم يولد﴾) نه ورنه څوک پيداشوي دي اونه دچانه پيدادي،ځکه چه هغه کامل طورباندې غني دي،

(٤) ﴿ولم يكن له كفوا أحد﴾ دده په اسماء(نومونو)کې اونه يې په صفاتوکي برابر اوهم مثل شته .دالله ذات برکت والااوډير اوچت ذات دي،دامبارک سورت توحيداسماءصفات باندې مشتمل دي،

❁❁❁

[دسورت الفلق تفسیراو دا مکي سورت دي]

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

﴿ قل أعوذ برب الفلق *من شر ماخلق*ومن شر غاسق إذا وقب*ومن شر النفاثات في العقد*ومن شر حاسد إذا حسد ﴾.

---

(١) (قل): دالله دپناه غوښتلولپاره اوایه (اعوذ) پناه غواړم خپل بچاوتلاش کوم،(برب الفلق) درب فلق په ذریعي سره،یعني هغه رب چه کوم داني او زنې چویي،اوسهاریي نموداركوي، (من شرماخلق)دهرشي دشرنه کوم چه الله پیداكړي دي،اوپه دي کي دالله تعالی ټول مخلوقات انسانان اوجنات اوځناورټول شامل دي،نو دي مخلوقاتوكي چه کوم شر دي ددي دشرنه ددي دپیداكونكي باندي پناه غوښتل كيږي،بیاالله تعالی دعام شیانود ذكركولو نه وروسته دخاص شیانوذكر وكړو،فرمايي : (ومن شرغاسق اذا وقب). اودشپي دتیارودضررونونه كله چه راخوري شي.

یعني زه دهغه شرنه دالله تعالی پناه غواړم کوم چه دشپي وي،کله چه داشپه خوريږي اوراخيژي خلكوباندي،اوپه دي کي دشرنه ډک ډيرروحونه اوتكليف وركونكي ځناورخوريږي او راووځي، (ومن شرالنفاثات فی العقد) . یعني دجادوكولووالا دښځودشرنه کوم چه خپل جادوكي دپوكونه کاراخلي په غوټوباندي،کومي چه هغه دجادولپاره تړي، (ومن شرحاسداذاحسد) اودحسدكونكي دشرنه کله چه هغه حسدوكړي،حسدكونكي هغه دي کوم چه دچاسره حسدكوي دهغه نه دنعمت دزوال تمنی کوي،نوبیاددي دشراومكرنه دبچ کیدلولپاره الله تعالی ته دپناه وړلوحاجت وي،نظراچول لګولو والاهم حسدكونكي وي.اودا د شري طبيعت والا اوخبيث النفس انسان نه صادريږي.

[دسورت الناس تفسیراو دا مدني سورت دي]

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

﴿ قل أعوذ برب الناس*ملك الناس*إله الناس*من شر الوسواس الخناس *الذي يوسوس في صدور الناس *من الجنة والناس﴾.

(١-٦) دي مبارک سورت کي دخلکودرب،اوددوی د مالک اومعبودباندي ددشیطان نه پناه ده،هغه شیطان کوم چه دبدیاودفسادجرړه ده،چه دهغه شر اوفتنه داده چه دخلکوزړونوکي وسوسي اچوي،﴿ يوسوس في صدور الناس﴾؛ اودوی‌ته شر بدي ښایسته کوي،بدکاری ورته انتهایي ښایسته کوي بدکاری ورته انتهایي ښایسته کوي اودوی‌ته یي پیش کوي،اوبیاددي بدی‌کارونوکولو لپاره دوی‌کي نشاط اوقوت پیداکوي،خلک دنیکی‌نه لري کوي،اوبل کوم صورت کی ورته مخي ته کوي،هغه همیشه دي حال کي وي چه وسوسه واچوي اوبیاروسته شي کله چه مومن بنده خپل رب یادکړي اوددي ددفع کولولپاره دخپل رب مددغواړي،نوبیاپه شاکیږي،انسان له داپکارده چه دالله نه دالله دربوبیت په ذریعه کوم چه ټولوخلکوکي عام دي مددطلب کړي،اودهغه پناه وغواړي اودهغه پناه ته راشی اوځان بچ کړي،ټول مخلوقات دالله د ربوبیت اودبادشاهی ماتحت دي.

همدارنګه دالله په الوهیت باندي دي پناه حاصله کړي چه دهغي په وجه یي داټوله دنیاپیداکړیده،اوداترهغه نه پوره کیږي چه ترڅوددي ددشمن شردفع نه کړي شي،کوم چه انسان ددي لاري نه لري کول غواړي،هغه ددي انسان اوددي توحیدپه منځ کي حائل اوپرده جوړیدل غواړي،اوهغه غواړي چه داپخپله ډله کي شامل کړي اوجهنمي شي.وسوسه چه څنګه دجناتو پیریانو دطرف نه وي همدارنګه دانساناتوله طرف نه هم وي،ددي وجي نه یي وفرمایيل: ﴿ من الجنة والناس﴾.

وسوسي اچولوولاهغه دپیریانو جناتو نه وي اوکه دانسانانونه .

والحمدلله رب العالمين اولاوآخرا.،وصلَّى الله وسلَّم على رسوله محمَّدٍ وعلى آله وصحبه أجمعين، صلاةً وسلامًا دائمين متواصلين أبد الأوقات، والحمد لله الَّذي بنعمته تتمُّ الصَّالحات.

❀❀❀

## دمقدمي اوتفسيرمتعلق سوالونه

١. دمهمودرسونو كتاب مولف څوک دي ؟

O عبد العزيز بن باز $ O محمَّد بن عثيمين $ O هيثم سرحان حفظه الله

٢. ولي مونږدامهم درسونه وايو ؟

O ځکه چه داضروري دي O ځکه چه علماو وربانديي دويلو وصيت کړيدي.

O ځکه په دي کي هغه ضرورى شيان دي کوم چه مسلمان ورته ضرورت لري.

O داپاسني ټول ذکرشوي اسباب.

٣. دامتن مشتمل دي:

O دمسلمان رابطه(تعلق) دقران اوحديث سره. O لمونځ او اودس باندي. O آدابو اواخلاقو باندي. O ګناهونو نه پرولوباندي. O دمړي تيارولو اوكفن اودفن باندي.

O پاسني ټول كارونو باندي.

٤. **مسلمان به دقراءت دتلقين اودتلاوت دتصحيح اوحفظ اوشرح باندي شروع کوي د:**

O سورة العلق. O سورة الفاتحة. O سورة الإخلاص.

٥. مسلمان په قران کي دغوراوفکرکول اوپه قران باندي عمل کولوپه اعتبارسره په دوه طبقوتقسيم شوي دي اويوه طبقه داعتدال په لاره ده. (صح - خطأ)

٦. طالب دتولو نه اول بايدپه کوم تفسيرشروع وکړي ؟

O ابن كثيرٍ. O ابن سعديّ. O القرطبيُّ.

٧. طالب بايددکتابونو داوږد متن نه مخکي په مختصر متن باندي شروع وکړي (صح - خطأ)

٨. طالب دتفسيرکتابونوکي هغه سورتونه بايدشروع کړي کوم چه يي مطالعي لپاره تشويقوي تياروي يي لکه سورت قصص مريم الكهف. (صح - خطأ)

۹. چه کله طالب ته ویـل کـران وي نـه يـي شـي ويلي،نوهغه کولي شـي چه صـوتي تفسـیريعني اواز والاتفسـير واوري،لکه دتفسـيرسـعدي صـوتي پروګرام واوري(صحيح-خطأ)

۱۰. نبي ﷺ داسـي خلـک خبردارکـړيـدي پرولي يـي دي کـوم چـه دقـران تـلاوت کـوي اوپـه معنی کي یي سـوچ اوتدبرنه کوي. (صح - خطأ)

دسورت فاتحې متعلق سوالات

۱۱. دي سـورت لـه ځکه دانوم ورکړل شـوي دي ځکه چه په ديوالونوبند وي نه پکي کمي کيږي نه پکي زياتوالي کيږي (صح - خطأ)

۱۲. سـورت فاتحه نوم ددي لپاره کيښـودل شـوي ځکه چه:

.....................................................................................

۱۳. دسـورت فاتحې دنومونونه:

O أمُّ القرآن. O السَّبع المثانيُ. O الرُّقية.

O الصَّلاة. O ذکرشـوي ټول نومونه.

۱٤. دتلاوت دشـروع کولونه مخکي اعوذبالله ويـل ضـروري دي حـال داچـه داخوعبـادت دي کوم دګناه کارخونه دي دويلوسـبب يي څه دي ؟

.....................................................................................................................................

۱۵. د (أعوذ) معنی څه ده ؟

.....................................................................................

۱٦. دشـيطان نوم يي رجيم يعني رټلي شـوي کيښـود:

O ځکه چه هغه دالله درحمت نه لري کړي شـوي دي.

O ځکه چه هغه اسماني شـعلو شـهاب ستوروباندي ويشـتل کيږي.

Oځکه چه هغه دانسـانانو زړونو کي وسـوسي اوشکونه اوشـهوات اچوي.

O مخکيني ټول اسباب.

۱۷. بسـم الله کي جارومجرورودفعـل محـذوف سـره تعـلق لـري ځـکـه وروسـته ذکرکـول يي مناسـب دي. (صح - خطأ).

١٨. الله:

O هغه تعظيماًاومحبتاً مألوه اومعبوددي. O دي نوم باندي دالله نه علاوه بل څوک نه دي نومول شوي. O دانوم دټولونومونومرجع ده. O ويل کيږي چه دالله تعالی اسم اعظم دي.

O داواز اونداءپه وخت کي الف او لام نه شي محذوف کيدلي. O ټول هرڅه چه مخکي تيرشو

١٩. د الله دا دوه ښايسته نومونوکي چه (رحمن رحيم) دي څه فرق دي ؟

.......................................................................................................................................

٢٠. دبنده ګانولپاره دالله تربيت په دوه قسمه دي کوم کوم دي ؟

O عام تربيت اوخاص تربيت. O مطلق تربيت اومقيدتربيت.

٢١. داکثره انبياوعليهم السلام دعابه په دي لفظ وه:

O اللَّهمَّ. O الرَّبِّ.

٢٢. يوم الدين نه مراد:

O دقيامت ورځ. O هغه ورځ چه انسان ته به دخپلواعمالوبدله ورکول کيږي.

O ذکرشوي ټولي خبري ورنه مراددي.

٢٣. ﴿ اهدنا الصراط المستقيم﴾ ) دادعاءدبنده ګانولپاره په ټولودعاګانوکي جامع اوفايده منده ده. (صح - خطأ)

٢٤. ددين نه اطلاق په دي کيږي:

O جزاء. O عمل. O کله جزاءاوکله عمل.

٢٥. معمول په عامل باندي مخکي کول فايده ورکوي:

O حصرله. O هيڅ فايده يي نشته.

٢٦. دعبادت په استعانت باندي مخکي کول باب تقديم نه دي د:

O عام په خاص باندي . O دالله تعالی حق دبنده په حق باندي. O ټول ذکرشوي

٢٧. دا آيت (اياک نعبد) دجمع په صيغه باندي ولي ذکرشو ؟

.......................................................................................

۲۸. عبادت:

O دظاهري اوباطني اعمالودمجموعي نوم دي كوم چه الله ته خوښ دي او وربانـدي رضاكيږي..

O دمحبت اوتعظيم دوجي نه الله تعالى ته عاجزه كيدل اومنع شوي كارونونه منع كيدل اودحكمونوپه ځاي كول .(منل)..

O دعبادت اطلاق كله په اولني معني اوكله په دويمه معنى كيږي..

۲۹. دالله تعالى قول (اهدنا) كي دهدايت نه مراد:

O دلالت اوارشاد . O توفيق. O داټول كارونه.

۳۰. دالله تعالى فرمان (صراط الذين انعمت عليهم) نه مقصود:

O ددي امت ټول هغه خلک چه ايمان يي راوړي دي.

O انبياءصديقين اوشهداءاونيكان خلک كوموباندي چه دالله انعام شوي دي.

۳۱. اياک نعبدواياک نستعين شرع اوقدر دواړو له شامل دي . .(صح – خطأ)

۳۲. لاندني ايتونو او يا سورتونو كي كوم ايتونه اويا سورتونه دي چه هغه محتوى موضوع پكي شامل ده چه نورايتونو اويا سورتونوكي شامل نه ده ؟

O سورة الفاتحة. O آية الكرسيّ. O سورة الإخلاص.

۳۳-دالله تعالى داقول (اهدناالصراط) شامل دي:

O دنبوت اثبات لره O په ټولوګمراهانو اوبدعاتيانوباندي رد دي. O دواړه ذكر شوي كارونو لره.

۳٤--دالله تعالى قول (مالک يوم الدين) شامل دي:

O بدله اوجزاءبه دعدل اوانصاف O حقيقت كي بنده فاعل (كونكي دي)

O بدله به صرف په اعمالووي Oداټول ذكرشوي كارونه..

## دایت کرسي متعلق سوالونه:

۳۵--دي لـه يـي دايـت كرسـي نـوم ددي وجي نـه وركړوځكـه چـه دي دكرسـي ذكرراغلي دي. (صح – خطأ)

۳٦--قران كي عظيم آيت كوم يودي ؟
O دَين والايات O لس حقونو والا آيت O آية الكرسيِّ.

۳۷- قران دمعنی په لحاظ ډيرلوي دي. (صح – خطأ)

۳۸- الكرسي كي دالله تعالى دڅو نومونو ذكر دي ؟
O خمسة. O شپږ. O اووه.

۳۹- نوم (حي) كي كمال دي:: O ذاتيٌّ. O سلطانيٌّ.

٤۰- نوم (القيوم) كی كمال دي: O ذاتيٌّ. O سلطانيٌّ.

٤۱- چه (الحي) او (القيوم) نومونه يوځاي شي نوبيادالله تعالى په ذاتي اوسلطاني كمال باندي دلالت كوي.. (صح – خطأ)

٤۲- دالله تعالى نوم (الحي) د (القيوم) سره په قران كي ذكرشوي دي:
O دري ځايونوكي . O څلورځايونوكي. O دوه ځايونوكي.

٤۳-دمنفي صفاتوپه باره كي ضروري ده چه دالله تعالى دذات نه په داسي طريقه منفي شي انكارورنه وشي لكه څنګه چه الله تعالى اورسـول الله ﷺ نفي كړي دي اوانكاريي ورنه كړي دي،سره دمخالف صفات كمال داثبات،ځكه صرف نفي كول كمال نه دي ،مثال: دالله تعالى دستړي كيدلواودخوب صفت نفي كوو،دوجي داثبات دالله تعالى دهميشه والي اوكمال حيات نه.(صح – خطأ)

٤٤-الله چالـه دشـفاعت كولواجـازت نـه وركـوي مګرهغـه چاتـه چـه ورنـه راضـي وي اوهغـه راضي كيږي صرف:
O په توحيد . O درسولانوپه اتباع O ذكرشوي دواړه كارونوباندي.

٤٥- شرعي اوقدري كارونونه چه الله تعالى خپلومخلوقاتوله كوم خبروكړي دي:

O لږدي. O ډيردي.

٤٦-﴿ يعلم مابين ايديهم ﴾ زمانه حال اومستقبل له شامل دي او﴿ وماخلفهم ﴾ ماضي له شامل دي. (صح – خطأ)

٤٧- دالله دنوم ((العليِّ) معنى يعني:

O دهغه ذات O دهغه صفات O دهغه قهاريت په مخلوقاتوباندي O داتولى خبري

٤٨-هغه څه شي دي چه كه دشپي چااوويله نودالله دطرفنه به يي حفاظت كيږي اوترسهاره به شيطان ورته نه نژدي كيږي ؟

O دسورت بقري اخري ايتونه O آية الكرسي

٤٩- ايت كرسي وييل كيږي د:

O فرض لمونځونونه وروسته . O دويده كيدوپه وخت كي.

O سهاراوماښام. O داټول كوم چه ذكرشو.

دسورت زلزلة متعلق كي سوالونه:

٥٠- سورت زلزله: O مكي سورت دي O مدني سورت دي.

٥١- سورت الزلزله كي: O ترهيب دي O ترغيب دي O داداوړه دي.

٥٢- دالله تعالى داقول: ﴿ إذازلزلت الأرض زلزالها ﴾ دالله ددي قول:

﴿ فيذرهاقاعاصفصفا*لاترى فيهاعوجاولاأمتا ﴾. نظيراومثال دي (صح - خطأ)

٥٣- دالله تعالى داقول) : ﴿وأخرجت الأرض أثقالها ﴾ يعني:

O غرونه اوغونډۍ ګاني . O مړي اوخزاني.

٥٤- ځمکه دهغه ګواهانونه یوګواه دي کوم چه دبندګانویه عملونوبه ګواهي ورکوي. (صح – خطأ)

٥٥- دالله تعالی داقول: ﴿ اشتاتا ﴾ أي: O هریوبیل بیل    O مختلفي ډلی.

٥٦- دالله تعالی داقول : ﴿ فمن یعمل مثقال ذرة...﴾[] دالله ددي قول نظیراومثال دي: ﴿ ووددوا ماعملواحاضرا ﴾[الکهف:٤٩]. (صح – خطأ)

دسورت العادیات تفسیرمتعلق سوالونه

٥٧- سورة العادیات : O مکي سورت دي   O مدني سورت دي.

٥٨- دعادیات لفظ معنی:

O خیل : اسونه . O هرهغه شي چه حرکت کوي . O دادواړه ذکرشوي شیان.

٥٩- سورت العادیات کي دواجب حقوقودپیمالولونه یره ورکړل شوي ده.. (صح – خطأ)

٦٠- دلاندي کلماتومعنی ولیکی:

(ضبحًا): ..........................................................

(قدحًا): ..........................................................

(نقعًا): ..........................................................

(لَکَنُودٌ): .......................................................................

سورت قارعه متعلق سوالونه

٦١- سورت القارعه: O مکي سورت دي   .   O مدني سورت دي.

٦٢- دسورت القارعه دمقصدونونه یرول دي د: O دقیامت دسختیونه

Oددنیادازمائش اوامتحان نه.

٦٣- قارعه: O يره وركونكي ايتونه دي . O دقيامت ورځ ده.

٦٤- دلاندي الفاظومعنى وليكى:

﴿ كالفراش المبثوث ﴾: .......................................................

﴿ كالعهن المنفوش ﴾: .......................................................

٦٥- پـه دي سـورت كي دذكرشـوي ميزان نـه مـراد: O حقيقـي ميزان. O عـدل اوانصاف ته اشاره ده كنايه ده دعدل نه

٦٦-﴿ عيشةراضية ﴾ نه مطلب : O په دنياكي . O په جنت كي.

٦٧-﴿ فأمه هاوية ﴾ نه مراد :

O يعني دموربه رنګه به ورسره لازم وي . O دماغو موربه يي په اوركي وي . O ذكرشوي ټول.

٦٨- دالله تعالى قول: ﴿ وماادراك ماهية ﴾ په دي كي: O دمعاملي دنوعيت لويوالي تعظيم . O ددي كارباره كي سوال دي.

٦٩-

٧٠- داور دنومونونه دالله نه داورنه عافيت غواړو :-

O الهاوية. O جهنّم. O الحُطَمة. O لظى. O السَّعير. O سقر. O داټول نومونه.

٧١-﴿ نارحامية ﴾ (الله باندي ورنه پناه غواړو ).- ددي اوركرمي ددنياددګرمئ‌نه څودرجي زياته ده؟ O ٧٠ . O ٩٠. O ٩٩

دسورت تكاثرتفسيرمتعلق سوالونه

٧٢- داسورت : O مكي دي . O مدني دي.

٧٣- په دي سورت كي:

O دخلكو د حالاتو خبر وركړل شوي دي. O دبنـده ګـانو لپـاره تـوبيخ او زجـر دي چـه دزندګی اصل مقصد نه يي ځان په دنيا مشغول كړى دي

۷٤- په دي سورت کي د مال د ډيروالي (کثرت) نه منعه راغلي ده اګر که د الله تعالی رضا هم پکي مقصود وي. (صح – خطأ)

۷٥- دا خبره چه ( اخري ځاى ته ورسيدلو) په دي کي: O دمرګ نه بعد راپاځيدلو نه انکار دي.. O داسي ويبل جائز دي.

۷٦- دالله تعالی دا قول: ﴿ حتى زرتم المقابر ﴾ په دي کي يي دزيارت کونکو لقب ورکړو نه په قبر کي د پاتيدونکو ولي؟

O ځکه چه دار برزخ نه د اخرت ته د تللو مقصد اخستل کيږي.
O ځکه چه دوی ددنيا د کورونو نه قبرونو ته نقل شوي دي او دا ددوی لپاره نه دي.

۷۷- علم دري قسمه دي: علمٌ يقينٌ، وعينُ يقينٍ، وحقُّ يقينٍ. (صح – خطأ)

## دسورت العصر تفسير سوالونه

۷۸- سورت العصر: O مکي سورت دي. O مدني سورت دي.

۷۹- سورت العصر کي ددي څلور مسائلو دليل دي: علم عمل دعوت اوصبر. (صح – خطأ)

۸۰- دالله تعالی نه بغير قسم کولو متعلق لاندي عبارتونو کي کوم يو صحيح دي؟
O الله تعالی له جائز دي چه په کومو مخلوقاتو باندي يي خوښه شي قسم وکړي.
O مخلوق به صرف په الله باندي قسم کوي.
O مخلوق له جائز دي چه د الله نه بغير بل چا باندي قسم وکړيO اولني او دويم جوابونه.

۸۱- صبر: O په دوه قسمه دي: O په دري قسمه دي O په څلور قسمه دي

۸۲- په دي سورت کي د څلور کارونو حکم دي: دوه حکمونو باندي بنده خپله عمل کوي او دوه نورو باندي نورو ته تلقين کوي. (صح – خطأ)

## دسورت الهمزة سوالونه

۸۳- دا سورت: O مکي دي O مدني دي.

۸٤- د (ويل) کلمې معنی:

O دجهنم يوه وادي(کنده). O يو وعيد او يره ورکول دي چه د جهنم کنده او نور پکې شامل دي.

۸۵- همز په قول (خبرو)باندې وي او لمز په فعل باندې وي.. (صح – خطأ)

۸٦- دا ايت:﴿ يحسب ان ماله اخلده ﴾ددې نه دا فايده اخستل کېږي چه نيکي عمر کې زياتوالي راولي. (صح – خطأ)

۸۷- دالله تعالى ددې قول معنی:﴿ وما ادراك ﴾رسول الله ﷺ: O ياد يې کړه .
O ياد يې نه کړه.

۸۸- دالله تعالى قول:﴿ نارالله الموقدة ﴾، کې وقود النار(داور خاشاکو ) نه مراد:
O خلک. O کاڼي. O ذکر شوي ټول شيان

۸۹- دالله تعالى دا قول ﴿ تطلع على الأفئدة ﴾ يعني:
O کوم چه تاسو يقين کوی (عقيده وربانديې ساتی).O دجسم نه زړونو ته رسيږي.

## دسورت الفيل سوالونه

۹۰- سورت الفيل: O مکي سورت دي. O مدني سورت دي.

۹۱- ددې سورت په عبرتونو کې يو ددې بيان هم دی چه په ځمکه دټولو نه لوی څناور(حيوان) ددې نه يريږي چه د الله په کوم کور باندې ظلم او تجاوز وکړي نو بشر (انسانانو ) له خو په طريقه اولی پکاره ده چه ويريږي. (صح – خطأ)

۹۲- درسول الله ﷺ د پيدائش کال: O الفيل. O الحزن. O الرَّمادة.

۹۳- دا سورت د نبي کريم ﷺ د نبوت دارهاصاتو نه دی کوم چه د خارق العاده کار په شکل به د بعثت نه مخکې ظاهر کيدلو. (صح – خطأ)

۹٤- دلاندې الفاظو معنی وليکئ:
﴿ طيرا أبابيل ﴾ يعني: ........................................................
﴿ كعصف مأكول ﴾ يعني: ........................................................

## دسورت قريش سوالونه

٩٥- سورت قريش: O مكي سورت دي O مدني سورت دي.

٩٦- ددي سورت تعلق دي د سورت: O الفيل سره O الكافرون سره O النَّاس سره.

٩٧- دقريشو سفر به ديخنى په موسم كي شام ته وو او د ګرمى په موسم كي يمن ته وو. (صح – خطأ)

٩٨- الله رب العالمين د حرم مكي او د هل حرم عظمت د عربو په زړونو كي واچولو تر دي چه احترام يي كوي او بي احترامي يي نه كوي:

O په مكه كي. O په مكه كي او سفر كي.

٩٩-الله ددي كور ربوبيت خاص كړي دي ددي كور د عظمت او شرف د وجي نه كنه الله تعالى د هر شي رب دي. (صح – خطأ)

١٠٠- ﴿ رب هذا البيت ﴾ دمخلوق اضافت او نسبت د خالق طرف ته ددي دشرف او مقام دوجي نه دي. (صح – خطأ)

## دسورت الماعون سوالونه

١٠١- سورت الماعون: O مكي سورت دي O مدني سورت دي.

١٠٢- دالله په قول كي د (الدِّين) كلمي معنى: ﴿ أرأيت الذي يكذب بالدين ﴾:

O بعث او جزاء O دحقوقو انكار.

١٠٣- د (يدع) كلمي معنى: O پريښودل O زور سره ديكه كول.

١٠٤- يتيم هغه ته وايي :

O دچاچه پلار وفات شوي وي O د چا چه موروفات شوي وي.

١٠٥- همدارنګه يتيم هغه ته وايي:

O څوك چه بالغ نه وي. O اګر كه بالغ هم وي.

١٠٦- په لمونځ کې سهوه کېدل ديته وايي چه سهوه کېدونکي دملامتۍ مستحق دي،او هر چه د لمونځ کې د سستۍ خبره ده نو دا د هر چانه صادرېږي. (صح – خطأ)

١٠٧- درياء کولو حکم: O جائز. O مکروه.
O حرام. O شرك أصغر. O شرك أكبر.

١٠٨- په دي سورت کې نيکۍ کولو ته تشويق دي. (صحيح – خطأ)

١٠٩-په دي سورت کې د ذکرشوي (ماعون) کلمې نه مراد:
O دخوراک څښاک لوښي. O هر هغه شي چه هغي باندي خرچ کېږي او اجازت ورکولي شي..

دسورت کوثر متعلق سوالونه

١١٠-سورت کوثر: O مکي سورت دي O مدني سورت دي.

١١١- کوثر نه مراد: O نهر دي . O دخير او فضل زياتوالي دي

١١٢- الله تعالی دا دوه عبادتونه(لمونځ او قرباني) خاص کړي دي ځکه چه دا دواړه افضل عبادتونه او الله تعالی ته دنزدې والي سبب دي (صح – خطأ)

١١٣- (شانئک) نه مراد: O تاسره حسد کولو والا. O ستا بدی بيانولو والا(مذمت کولو والا). O په تا کې د نقص پيدا کولو والا. O دا ټول ذکر شوي.

١١٤- (هو الأبتر) دا مفهوم بيانوي چه د محمد ﷺ سره مينه او محبت ساتلو والا ذکر باقي پاتي کېږي. (صح - خطأ)

١١٥-په دي سورت کې درسول الله ﷺ داتباعو او انصارو د ډېروالي دليل دي. (صح – خطأ)

١١٦-

## دسورت الكافرون متعلق سوالونه

۱۱۷- سورت الكافرون: O مكي سورت دي O مدني سورت دي.

۱۱۸-سورت الكافرون اولني ركعت كي دسورت فاتحي نه بعد لوستل كيږي:
O دسهار په سنتو كي. O دماښام سنت لمونځ كي. O دطواف سنت لمونځ كي.
O وتر لمونځ كي. O په دي ټول ذكر شوي لمونځونو كي.

۱۱۹-دشرک سره ترلي شوي عبادت:
O ناقص عبادت دي O عبادت ورته نه شي ويىل كيدلي.

۱۲۰-قل) كي خطاب:
O نبي ﷺ ته دي O نبي ﷺ ته او هر هغه چاته چه خطاب ورته صحيح كيدلي شي.

۱۲۱-د الكافرون نه مراد:
O ټول هغه خوک چه د نبي ﷺ دعوت ورته رسيدلي وي او ايمان يي ورباندي نه وي راوړي لكه يهود او نصارى.
O دمكي كافر.

۱۲۲- په دي سورت كي دشرک او اهل شرک نه په زړه او ژبه او اندامونو باندي د براءت ثبوت دي. (صح – خطأ)

۱۲۳-په دي سورت كي تكرار:
O د تأكيد لپاره دي O اولني ددي لپاره چه د فعل په عدم وجود باندي دلالت وكړي او دويم ددي وصف په لازمي كيدلو باندي دلالت.

## دسورت النصر متعلق سوالونه

۱۲٤- سورت النصر: O مكي دي O مدني دي.

۱۲٥- په دي سورت كي خوشخبري خبر وركول، امر او تنبيه خبرداري وركول دي. (صح – خطأ)

۱۲٦- ددي امت او دي دين باندي د الله تعالی رحمت دومره دي چه تصور یی هم نه شي کیدلي. (صح – خطأ)

۱۲۷- په دي سورت کي ددی خبري اشاره ده چه درسول الله ﷺ اجل (دوفات وخت) نزدي شوي دي. (صح – خطأ)

۱۲۸-په دي سورت باندي د عمل کولو لپاره به رسول الله ﷺ په رکوع او سجده کي په كثرت سره دا ويیل: ( سبحانک اللهم ربنا وبحمدک، اللهم اغفرلي).. (صح – خط

## دسورت المسد متعلق سوالونه

۱۲۹- سورت المسد: O مكي دي O مدني دي.

۱۳۰- ابولهب درسول الله ﷺ: O تره (کاکا) وو O هيڅ خپلوان يي نه وو.

۱۳۱- دقيامت تر ورځي به يي مذمت بيانيږي:

O د ابولهب O دهر هغه چاچه درسول ﷺ سره دشمني کوي..

۱۳۲- دلاندي کلماتو معنی بیان کړی:

تبَّت: ..........................................................................

ما كسب: ........................................................................

جيدها: ..........................................................................

مسد: ............................................................................

۱۳۳- په دي سورت کي د الله تعالی د ښکاره نښو نه دادي چه ابولهب او ښځه به يي ايمان نه راوړي (صح – خطأ)

## دسورت اخلاص متعلق سوالونه

۱۳٤- سورت اخلاص: O مكي سورت دي. O مدني سورت دي.

۱۳۵- دي سورت له يي د اخلاص نوم ورکړو:

O ځکه چه د الله د صفتونو خلاصه يي ورانـدي کـره. O ددي ويونكى د شـرک نـه خلاصوي O دا ټول ذکر شوي خبري.

۱۳٦- ددي سورت دثواب اندازه برابره ده:

O دنيم قران سره. O دقران څلورمي حصي سره. O دقران دريمي حصي سره.

۱۳۷-دا سورت دويم رکعت کي دسورت فاتحي نه بعد لوستل کيږي:
O دسهار په سنتو کي . O دماښام سنت لمونځ کي. O دطواف سنت لمونځ کي.
O وتر لمونځ کي. O دفرض لمونځونو نه وروسته O دخوب په وخت کي O. په دي ټول ذکر شوي لمونځونو کي.

۱۳۸- سورت الکافرون او سورت الاخلاص ورځي او شپي ويبل کيږي تر دي چه درى قسمونه د توحيد پکي پوره شي .. (صح – خطأ)

۱۳۹-په سورت الاخلاص کي:
O توحيد الوهيت دي O توحيد ربوبيت او توحيد اسماء وصفات دي

۱٤۰- د (قل) معنى: O په ژبه باندي فقط O قول کي او عمل کي او عقيده کي.

۱٤۱- د الله تعالى دا قول: ﴿ هو الله احد ﴾ يعني: په الوهيت او ربوبيت او اسماء وصفاتو کي تنها او يواځي دي (صح – خطأ)

۱٤۲-د الله تعالى دا قول: ﴿ الصمد ﴾ يعني:
O په ټولو احتياجاتو کي مقصود دي.

O کوم چه په خپل وجود کي د چا محتاج نه دي بلکه نور د هغه محتاج دي.
O هغه سيد دي کوم چه په سيادت، الوهيت ،ربوبيت او اسماء وصفاتو کي کمال ته رسيدلي دي.
O دا ټول ذکر شوي.

۱٤۳-الله ته د پلار اود زوي نسبت کول کفر اکبر دي. (صح – خطأ)

دسورت الفلق متعلق سوالونه

۱٤٤-سورت الفلق: O مكي سورت دي O مدني سورت دي.

۱٤٥- سورت الفلق وييل كيږي:
O دفرض لمونځونو نه وروسته. O دخوب په وخت كي. O دا ټول ذكر شوي

۱٤٦- دلاندي كلماتو معنى ذكر كړى:
أعوذ: ..........................................................................
الفلق: ..........................................................................
غاسقٍ: ..........................................................................
وقبَ: ..........................................................................
النَّفَّاثات: ..........................................................................
العُقَد: ..........................................................................
حاسدٍ: ..........................................................................

۱٤۷- په دى سورت كي:
O عام او خاص طور باندي استعاذه ده. O دسحر حقيقت دي.(سحر حق دي) O ذكر شوي ټولي معنى ګاني.

دسورت الناس متعلق سوالونه

۱٤۸- سورة النَّاس هي سورةٌ: O مكي سورت دي O مدني سورت دي.

۱٤۹- سورت الناس وييل كيږي:
O دفرض لمونځونو نه وروسته. O دخوب په وخت كي. O ټول تير شوي وختونه.

۱٥۰- د (الخناس) څه معنى ده؟
..........................................................................

# دويم درس

## دويم درس: د اسلام اركان

داسلام د پنځه اركانو بيان چه اولني او دېولو نه لوي ركن: د لااله الا الله محمد رسول الله ګواهی وركول دي. دهغي د معنی او شرطونو سره.

معنی يي داده: (لا اله) دټول هغه څه نفي كول كوم چه د الله نه بغير يي عبادت كيږي،(الاالله) الله تعالی لره يواځي بغير د شريک نه عبادت ثابتول.

او هر چه د لا اله الا الله شرطونه دي هغه دادي:

١ – داسي علم چه د جهل سره منافي وي.

٢ – داسي يقين چه د شک سره منافي وي.

٣ – داسي اخلاص چه د شرک سره منافي وي.

۴ – داسي صداقت چه ددروغو سره منافي وي.

۵ – داسي محبت چه د بغض سره منافي وي.

۶ – داسي اطاعت چه دنافرماني سره منافي وي.

٧ – داسي قبلول چه د انكار سره منافي وي.

٨ – او د الله تعالی نه بغير د ټولو باطله معبودانو انكار كول.

او دا ټول شرطونه په دوه شعرونو كي بيان كړي شوي دي:

علم يقين واخلاص وصدقک مع    محبة وانقياد والقبول لها

وزيد ثامنها الكفران منک بما    سوی الاله من الأشياء قد ألها

او همدارنګه د محمد رسول الله ګواهي وركول او ددي تقاضا بيانول چه داده: د هر هغه څه چه يي خبر وركړي دي د هغي تصديق كول، او په هر هغه څه چه يي امر او حكم كړي دي د هغي اطاعت كول، او د هر هغه څه نه چه يي منعه كړي ده هغه نه ځان ساتل،او د شريعت مطابق د الله تعالی عبادت كول،

بيا دي طالب علم ته باقي د اسلام پنځه اركان بيان كړي شي، چه هغه دادي : لمونځ، زكات،درمضان روژه، او حج بيت الله چه دچا استطاعت وي.

د (لا إله إلّا الله) ارکان

| ثابتول (إلّا الله) | نفی (لااله) |
| --- | --- |
| عبادت صرف الله له ثابتول (په الله باندي ايمان) | دالله نه بغيردعبادت کولو نفي کول |

لِکِلْمَـــةِ الْإِخْـــلَاصِ رُکْنَـــانِ هُمَــــا     النَّفْـــيُ وَالْإِثْبَـــاتُ فَاحْفَظَنْهُمَــــا

دلا اله الا الله دشرطونو شرح :

دلااله الا الله د شرطونو مثال د چابي د غاښونو په رنګه دي،او دا کلمه لا اله الا الله د جنت کنجي (چابي) ده،او چابي د غاښونو نه بغير کار نه کوي،نو ددي وچي نه قران او حديث کي چه کوم فضيلت ذکر شوي د ي چه چا لا اله الا الله اوييله دومره اجر دي نو ضروري خبره ده چه ددغه اجر حاصلولو لپاره ددي په شرطونو ځان خبر او پوهه کړي تر څو هغه اجرا او فضيلت حاصل کړي، او دا شرطونه اته دي:

١- ددي په معنى باندي علم حاصلول ( پوهيدل): او ددي ضد جهل او ناپوهي ده، نو هر څوک چه ددي دمعنى نه خبر نه وي ځان پري نه پوهه کوي نو څه فايده ورنه نه شي اخستلي.

نو ددي وجي نه څوک چه اسلام کي دننه کيدل غواړي دا لازمي ده چه ددی معنى باندي ځان پوهه کړي، رسول الله ﷺ فرمايي: (من مات وهو يعلم أنه لااله الا الله دخل الجنة) څوک چه داسي حال کي وفات شي چه د لااله الا الله په معنى باندي پوهه وي جنت ته به داخل کړي شي)(دمسلم روايت).

٢ - يقين: يعني سل په سله يقين کول،چاچه په سلو کي يو فيصد هم د باطله معبودانو نه انکار کي شک وکړو اويا يي توقف وکړو، اويا متردد شو، نو بيا دا موحد نه دي، او که چرته هغه د يهودو او نصارى کفر کي شک وکړو کومو ته چه د اسلام دعوت وررسيدلي دي، نو هم موحد نه دي،رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: (أشهد أن لااله الا الله وأني رسول الله لا يلقى بهما عبد غير شاك فيهما الا دخل الجنة) رواه مسلم.

۳ - اخلاص: نو چا چه رياكاري وكړه او يايي شرک اکبر وکړو،لکه د الله نه بغير يي د بل چا عبادت وکړو، نو بيا ورله څه فايده نه ورکوي، رسول الله ﷺ فرمايي: أسعد الناس بشفاعتي من قال لا اله الا الله خالصا من قلبه او نفسه) رواه البخاري.

(خوشبخته انسان چه زما شفاعت يي په نصيب کيږي، هغه څوک دي چاچه په اخلاص سره د زړه او دنفس نه لااله الا الله اوييله). رواه البخاري.

٤ –ريشتنولي( صداقت): چاچه دا کلمه ددروغو اوييله، لکه منافق، نو هيڅ فايده ورله نه ورکوي، رسول الله ﷺ فرمايي:(ما من أحد يشهد أن لااله الا الله وأن محمدا عبده ورسوله صدقا من قلبه الا حرمه الله على النار) رواه البخاري ومسلم.

(داسي يو کس چه دزړه د صدق نه دا ګواهي ورکړي چه نشته بل معبود برحق مګر الله تعالى، او محمد ﷺ د الله بنده او رسول دي، الله تعالى به يي اور باندي حرام کړي.) رواه البخاري ومسلم.

٥ - محبت: الله سره به محبت کوي او د الله سره به بل څوک محبت کي نه شاملوي او نه به بل چا سره هغه رنګه محبت کوي، او هغه چاسره به هم محبت کوي دچا محبت باندي چه الله تعالى امر کړي وي،او ددي ضد بغض دي،نو لهذا دا د اسلام د نواقضو نه دي،(کوم چاچه د رسول الله ﷺ دراوړل شوي شريعت سره بغض وساته،اګر که عملي شکل باندي هم وي،نو ده کفر وکړو،الله تعالى فرمايي:( ومن الناس من يتخذ من دون الله اندادا يحبونهم کحب الله).

٦ – انقياد: د توحيد په کلمه باندي عمل کول ضروري دي،چا چه ورباندي عمل پريښودلو فايده نه ورکوي ورله. الله تعالى فرمايي: (فلا وربک لا يومنون حتى يحکموک فيما شجر بينهم ثم لا يجدوا في أنفسهم حرجا مما قضيت ويسلموا تسليما).

٧ – قبول: دکلمه توحيد لپاره قول او عمل او اعتقاد ضروري دي، د الله تعالى فرمان دي: ( انهم کانوا اذا قيل لهم لااله الا الله يستکبرون*ويقولون أئنا لتارکوا آلهتنا لشاعر مجنون.).

٨- کفر(انکار): يعني دا عقيده ساتل چه د الله تعالى نه بغير چه د څومره معبودانو عبادت کيږي باطل دي،او د الله نه بغير بل هيڅ څوک د عبادت مستحق نه دي چه عبادت يي وکړي شي.

نوټ:

د کلمه اخلاص لپاره د قول او عمل او اعتقاد ساتل لازم او ضروري دي.

## دمحبت اقسام

**دالله سره محبت:**
دالله تعالی سره محبت کې بل څوک شاملول شرک اکبر دي (ومن الناس من يتخذ من دون الله اندادا يحبونهم كحب الله)

**دالله لپاره محبت:**
دالله لپاره محبت کول صرف واجب نه بلکه د ایمان د مضبوطی رسیو نه یوه رسی ده الله تعالی فرمايي:(محمد رسول الله والذين معه اشدآء على الكفار رحماء بينهم) اودا په څلورو شیانو کې وي:

**طبیعي محبت(فطری محبت):**
او دا قسم محبت جائزدي په دي شرط چه دالله سره محبت باندي به مقدم نه وي،او مثال يي د ښځي او پلار سره محبت.(لا يومن احدكم حتى اكون احب اليه من والده وولده والناس اجمعين).

داسي عمل سره محبت کول کوم باندي چه الله تعالی خوشحالیږي، او هغه هر هغه کار دي کوم چه شریعت راوړي دي لکه توحید

دعمل کولو والا سره محبت لکه انبياء او رسولان او ملائکي صحابه کرام او هر یو موحد انسان

داسي وخت سره محبت ساتل کوم سره چه الله تعالی محبت کوي، لکه ليلة القدر او دشپي دریمه حصه.

هغه ځاینو سره محبت ساتل کوم سره چه الله تعالی محبت کوي لکه مکة المکرمة او مدينة النبوي.

## په کلمه کې دأن محمد رسوالله (عبده) معنی څه ده؟

ددي معنی داده چه (محمد) د الله بنده دي دهغه عبادت نه شي کیدلي، او نه د هغه لپاره دربوبيت او الوهيت او نه د اسماء صفاتو کوم خصائص شته.

بله معنی يي داده چه محمد ﷺ په بنده ګانو کې د تولو نه زیات عبادت کونکي وو ،او هغه د عبودیت مکملي تقاضي او غوښتني پوره کړي دي

## دعبوديت اقسام:

### عام عبوديت::

او دا درب د عبوديت (قهر) اقرار كول دي ، او دا د ټولو مخلوقاتو لپاره دي، الله تعالى فرمايي: ( ان كل من في السماوات والأرض الا آت الرحمن عبدا) او په دي كي مومن او كافر دواړه شامل دي

### خاص عبوديت:

عام عبادتونو كي د الله ربوبيت حاصلول ثابتول، الله تعالى فرمايي: ( وعباد الرحمن الذين يمشون على الأرض هونا)او دا ايت هر هغه شخص ته شامل دي كوم چه د الله تعالى عبادت دشريعت مطابق كوي

### دټولو نه خاص عبادت:

دا د رسولانو عبوديت دي لكه څنګه چه الله تعالى فرمايي:( انه كان عبدا شكورا) دا عبوديت رسولانو له خاص دي، څكه چه دي رسولانو كي چا هم د الله په عبوديت كي اختلاف نه دي كړي.

## مختصر سيرة النبي صلى الله عليه وسلم:

**نسب:**

محمدبن عبدالله بن عبدالمطلب بن هاشم، او هاشم د قريشو نه دي،او قريش د عربو نه دي، او عرب د اسماعيل بن ابراهيم عليهما السلام د نسل نه دي.

**پيدائش:**

رسول ﷺ عام الفيل د ربيع الأول مياشت كي د مكي په ښار كي پيدا شوي دي، او دري شپيته كاله عمر يې وو، څلويښت كاله د نبوت نه مخكي وو او دروېشت(٢٣) كاله د نبوت دي، او رسول الله ﷺ يتيم وو، پلار يي د پيدائش نه مخكي وفات شوي وو، او د خپل نيكه عبدالمطلب په كفالت كي وو،او بيا د نيكه دوفات نه وروسته د خپل تره ابوطالب په كفالت كي وو.

| | |
|---|---|
| بعثت: | رسول الله ﷺ انسانانو او پیریانو لپاره نبي لیږل شوي دي، هر هغه چاته چه يي دعوت رسيدلي دي او ايمان يي وربانديي نه دي راوړي کافر دي. چه هر څوک وي. |
| دعوت: | رسول الله ﷺ توحيد ته او نيک اخلاقو او اعمالو ته دعوت کړي دي، او د شرک او د بدو اعمالو نه يي منعه کړي ده، |
| اسراء اومعراج: | رسول الله ﷺ دشپي د مكي نه بيت المقدس ته بوتلي شو، او بيا اووم اسمان ته وخيژولي شو، او الله تعالى ورسره خبري وكړي، او پنځه لمونځونه ورباندي فرض كړي شول. |
| هجرت اووفات: | دمكي نه يي مديني ته هجرت وكړو، او په مدينه کی وفات شو، او د ام المومنين عائشة رضي الله تعالى عنها په حجره کي دفن كړي شو. |
| بلاغ/تبليغ: | الله تعالى دده په ذريعه دين مكمل كړو، او رسو ل ﷺ ښكاره او واضحه طريقه باندي خلكو ته دين ورسولو، امانت يي پوره كړو، امت ته يي نصيحت وكړو، او د الله په لاره كي يي هر قسمه جهاد وكړو، نو دا امكان نشته چه څوک اوس په دي دين کي زيادتي وكړي. |
| مهمي (مشهوري) غزاګاني: | اووه غزاګاني دي: بدر، أحد، خندق، خيبر، دمكي فتح، غزوه تبوک، غزوه حنين. |

| | |
|---|---|
| اووه اولاد يي وو | قاسم، ابراهيم،او عبدالله (طيب الطاهر) زينب، رقية، أم كلثوم،فاطمة. ټول اولاد يي د رسول الله ﷺ په ژوندکې کي وفات شوي دي مګر صرف فاطمة رضي الله تعالى عنها د رسول الله د وفات نه شپږ مياشتي بعد وفات شوه |
| دولس (١٢)بيبياني يي وي | خديجة رضي الله تعالى عنها، عائشة ﵂،سوده رضي الله تعالى عنها،حفصه ﵂،زينب الهلالية ﵂،أم سلمة هند ﵂،زينب بنت جحش ﵂،جويرية بنت الحارث،صفية بنت حيي او أم حبيبة رملة ﵂،ريحانة بنت زيد او ميمونة بنت الحارث ﵂. |
| رسول ﷺ له يې وركونكي (رضاعي موركانى): | أمُّه آمنة بنت وهبٍ، او ثويبة درسول الله د تره أبو لهبٍ وينځه، اوحليمة بنت أبي ذؤيبٍ السَّعديَّة . |
| اولني وحي | دالله تعالى دا قول دسورت العلق: (اقرأ باسم ربک الذي خلق*خلق الانسان من علق* اقرأ وربک الأكرم* الذي علم بالقلم*علم الانسان مالم يعلم. |
| اول ايمان راوړلو والا | دسړو نه ابوبكرالصديق ﵁، او د ښځو نه ام المؤمنين خديجة رضي الله عنها، او په ماشومانوكي علي بن ابي طالب ﵁، او دازاد کړي شوي غلامانو نه زيد بن حارثة، او غلامانو کی بلال بن رباح رضي الله تعالى عنه. |

**درسول الله صلى الله عليه وسلم حجونه او عمرى**

رسول الله ﷺ څلور عمري کړي دي او ټولي يي د ذوالقعدي مياشت کي کړي دي، او همدارنګه يو حج يي کړي دي، چه هغي ته حجة الوداع وايي او په لسم کال د هجرت باندي يي کړي دي.

**درسول ﷺ اخلاق:**

الله تعالى فرمايي (وإنك لعلى خلق عظيم) او عائشة رضي الله تعالي عنها فرمايي:(كان خلقه القران) درسول الله ﷺ اخلاق قران وو.

**دسيرت دويپلو أهميت**

ابن القيم رحمه الله فرمايي: كه د انسان ددنيا او اخرت كاميابي درسول الله ﷺ د ښودل شوي هدايت او شريعت پوري ترل شوي ده، نو بيا هر څوک چه كاميابي او خوشبختي غواړي نو هغه باندي واجب دي چه درسول الله ﷺ طريقي او شريعت او د هغه د سيرت نه ځان خبر کړي، چه ددي په ذريعه د جاهلانو د صف نه هم اووځي، او د رسول الله ﷺ په اتباعو او ډله کي هم شامل شي، او خلک دي باره کي د افراط او تفريط او محرومي شکار دي، او فضل او هدايت د الله په لاس کي دي، چاته چه يي خوښه شي ورکوى يي. او الله تعالى دلوي فضل والا دي.

# دریم درس

## دایمان ارکان

دایمان شپږ ارکان دي: په الله باندي ایمان،په ملائکوباندي ایمان،کتابونو او رسولانوباندي ایمان د اخرت په ورځ باندي ایمان اوپه دي خبره ایمان چه خیر او شر د الله لطرفه دي.

## دایمان شرعي تعریف او معنی:

په ژبه باندي اقرار کول،په زړه کي عقیده ساتل، او په اندامونو عمل کول، په اطاعت باندي ایمان ډیریږي، او ګناه کولو باندي کمیږي. او دلیل یي دادي:

| دقول دلیل: | د اندامونو دعمل دلیل: | د زړه د عمل دلیل: | دایمان د ډیروالي دلیل: | دایمان د کمیدلو دلیل: |
|---|---|---|---|---|
| درسول الله صلی الله علیه وسلم دا قول:(فأعلاها قول لااله الا الله) | درسول الله صلی الله دا قول: (وأدناها اماطة الأذی عن الطریق | درسول الله صلی الله علیه وسلم دا قول: (والحیاء شعبة من الایمان) | دالله تعالی دا قول: (أیکم زادته هذه ایمانا) | درسول الله صلی الله علیه وسلم دا قول: (مارأیت من ناقصات عقل ودین) |

## دایمان د زیاتوالي اسباب:

- دتوحید مطالعه کول او خاص طورباندي داسماء او صفاتو باب
- په ډیروالي سره د طاعت او فرمانبردارۍ کارونه کول.
- دګناهونو پریښودل
- دالله په مخلوقاتو کي فکر اوسوچ کول

## دایمان د کموالي اسباب:

- دتوحید مطالعه نه کول او خاص طورباندي داسماء او صفاتو باب
- دطاعات او فرمانبردارۍ سره عبادت پریښودل
- ګناهونه کول
- دالله په مخلوقاتو کي فکر اوسوچ نه کول

## دایمان شپږ ارکان:

- په الله باندي ایمان
- په ملائکو باندي ایمان
- کتابونو باندي ایمان
- په رسولانو ایمان
- داخرت په ورځ ایمان
- په تقدیر خیر او شر د الله د طرفه . باندي ایمان

**اولني رکن : په الله باندې ایمان، او دا پو څو کارونه لازمي کوي:**

| په الله تعالی اسماو صفاتو باندې ایمان | دالله تعالی په الوهیت باندې ایمان | دالله تعالی په ربوبیت باندې ایمان | دالله تعالی په وجود (شته والي) باندې ایمان. او دا په څلور کارونو سره وي: |
|---|---|---|---|
| په شریعت باندې: ابن قیم رحمه الله ذکر کړي دي چه: هیڅ داسې یوایت د الله په کتاب کي نشته مګر د الله د توحید دلیل یکي دي | فطرت باندې: رسول صلی الله علیه وسلم فرمایي: ( کل مولود یولد علی الفطرة فأبواه یهودانه او ینصرانه او یمجسانه). | په حس باندې: کله چه پریشانی او سختئ کي یي نو خپل لاسونه الله ته اوچتوي او وایي یا الله ! نو د الله په حکم سره پریشاني دي ختمه شي | په عقل باندې: دعقل لپاره دا ناممکن ده چه داسې مخلوق د وجود تصور وکړي چه خالق یي نه وي(ام خلقوا من غیر شي ام هم الخالقون) |

**دویم رکن: په ملائکو باندې ایمان:**

ملائکي غیبي عالم دي او الله تعالی د نور نه پیدا کړي دي،دالله تعالی اطاعت کوي او نافرماني یي نه کوي، ددوی روحونه دي،(روح القدس) او جسدونه یي دي،(جاعل الملائكة رسلا أولي أجنحة مثنى وثلاث ورباع يزيد في الخلق مايشاء) عقلونه یي دي او زړونه لري( حتى اذا فزع عن قلوبهم قالوا ماذا قال ربكم). مونږ وربانديې ایمان لرو، او په هغه نومونو یي ایمان لرو کوم چه الله تعالی مونږ ته راښودلي دي،لکه(جبريل،ميكاييل،او اسرافیل) او د هغوی په صفاتو ایمان لرو چه(لایعصون الله ما أمرهم ويفعلون ما يؤمرون) او ددوی په اعمالو کارونو باندې ایمان لرو.

## ځيني هغه ملائکي چه مونږ ته يې خبر راکړي شوي دي:

په دي ملائکو کي اته (۸) د عرش اوچتونکي دي،(حملة العرش)، جبريل ته وحي سپارل شوي ده، او ميکاييل ته باران کول... په ټولو ايمان لرو او په هغه خبرونو چه ددوی باره کي اجمالا او تفصيلا راغلي دی.

## دريم رکن : په کتابونو ايمان

دا واجب دي چه په دي ايمان راوړه چه دا کتابونه  حقيقتا د الله کلام دي نه مجازا. او دا نازل کړي شوي دي نه دا چه مخلوق دي.او دا چه الله تعالی د هر رسول سره کتاب نازل کړي دي،او مونږ وربانديي ايمان لرو، او په هغه نومونو  او خبرونو او احکاماتو يې چه الله تعالی راله خبر راکړي دي،اجمالا او تفصيلا.ترڅو چه منسوخ شوي نه وي، او په دي هم ايمان لرو چه قران دمخکيني ټولو کتابونو منسوخ کونکي دي، چه هغه تورات انجيل زبور او دابراهيم او موسی عليهما السلام صحيفي دی.

## څلورم رکن: په رسولانو ايمان

دا ضروري خبره ده چه په دي بانديي ايمان ولرو چه ټول رسولان بشر او انسانان دي، او په دوی کي د ربوبيت هيڅ قسم خصائص او صفات نشته،او دوی خپله بنده ګان دي، ددوی عبادت نه کيږي، او دا چه الله تعالی  دوی راليږلي دي او وحي ورته کړي ده،او په واضحه دلائلو او معجزاتو يي دهغوی تاييد کړی دي، او دا چه دوی امانت پوره اداء کړي دي،او امت ته يي نصيحت کړي دي، او دعوت يي رسولي دي، او د الله په لاره کي يي حق جهاد کړي دي.

ايمان وربانديي لرو،او په هغه نومونو او صفاتو او خبرونو چه الله تعالی يي خبر راکړي دي،اجمالا او تفصيلا. او بيشکه اول د رسولانو نوح عليه السلام دي، او اخري خاتم الانبياء محمد ﷺ دي، او پخواني شريعتونه ټول د محمد ﷺ شريعت بانديي منسوخ شوي دي، او اولو العزم پنځه پيغمبران دي چه الله تعالی قران کي په سورت شوری او احزاب کي ذکر کړي دي:(محمد ﷺ،نوح عليه السلام،ابراهيم عليه السلام،موسی عليه السلام، او عيسی عليه السلام.).

**پنځم رکن : د اخرت په ورځ ایمان**

په دي ایمان کي هر هغه خبر باندي ایمان شامل دي کوم چه د مرګ نه بعد وي او رسول الله ﷺ د هغي خبر ورکړي دي، لکه: دقبر حالات، دقیامت په ورځ شپیلی وهل، د خلکو د قبرونو نه پاڅیدل، میزان، صحیفي، او پل صراط، حوض، شفاعت، جنت اور، د مومنانو د خپل رب لیدل،دقیامت په ورځ او په جنت کي،او داسي نور غیبي کارونه.

**شپږم رکن: تقدیر، خیر اوشر باندي ایمان:**

ددي څلور مراتب دي کوم چه شاعر خپل یو نظم کي یوځاي بیان کړي دي

علم كتابة مولانا، مشيئته وخلقه وهو ايجاد وتكوين

| علم | کتابت | مشیئت | خلق |
|---|---|---|---|
| په دي خبره ایمان چه الله سبحانه وتعالی په هر څه باندي جملة او تفصیلا عالم دي پوهه دي. او دلیل یي دادي:( يعلم مابين أيديهم وما خلفهم) | په دي خبره ایمان چه الله تعالی د هر شی تقدیر لیکلي دي، تر قیامت پوري، او دلیل وربانذي د الله ددا قول دي: ( وما من غائبة فى الأرض ولا وفي السماء الا في كتاب مبين) | په دي باندي ایمان چه الله تعالی څه وغواړي هغه کیږي، او چه ونه غواړي نه کیږي، او د بنده هم (اختیار )اراده شته لیکن د الله تعالی د ارادي او اختیار ما تحت، الله تعالی فرمايي: (وما تشاؤن الا أن يشاء الله) | په دي باندي ایمان چه بنده او اعمال یي مخلوق پیدا کړی شوي دي ، او همدارنګه ټول کائنات. او دلیل وربانذي د الله ددا قول دي: ( والله خلقكم وما تعملون) |

# خلورم درس

## دتوحيد او شرک اقسام

دتوحيد د اقسامو بيان: اودا دري اقسام دي: توحيد الربوبية، توحيد الألوهية، او توحيد الأسماء والصفات.

هر چه توحيد ربوبيت دي: په الله باندي داسي ايمان لرل چه الله سبحانه وتعالى دهر شي خالق پيدا کونکي دي، او په هر څه کي متصرف دي،او په دي کي ورسره هيڅ قسمه شريک نشته.

توحيد الوهيت ديته وايي: داسی ايمان لرل چه الله سبحانه وتعالى معبود برحق دي، او په عبادت کي يي شريک نشته، او همدا د لا اله الا الله معنى ده، څکه معنى يي داده چه: نشته معبود برحق مگر صرف يو الله تعالى . نو ټول عبادتونه لکه لمونځ، روژه، او داسي نور ټول صرف الله تعالى ته خالص کول واجب دي. او ددي عبادتونو هيڅ قسمه شي بل چا لپاره کرځول جائز نه دي.

توحيد اسماء وصفات: د الله په ټولو هغه نومونو او صفتونو چه قران کي او صحيح احاديثو کي ذکر او ثابت دي ايمان لرل،او الله تعالى لره ثابتول چه څنګه د هغه شان سره مناسب وي،بغير د تحريف او تعطيل او کيفيت او تمثيل بيانولو،

د الله په دي قول عمل کولو لپاره:( قل هوالله احد *الله الصمد*لم يلد*ولم يولد*ولم يکن له کفوا احد) او د الله دا قول: (ليس کمثله شي وهو السميع البصير)

ځيني اهل علمو توحيد په دوه قسمه کړي دي ، توحيد اسماء او صفات او توحيد ربوبيت يي يوځاي کړي دي، او دي کي څه اختلاف نشته څکه مقصد او هدف په دواړه تقسيماتو کي واضح دي. اوشرک هم په دري قسمه دي: شرک اکبر(لوي شرک)، شرک اصغر(وړوکي شرک) او شرک خفي شرک اکبر سره عمل برباديږي، او چه څوک په دي حالت کي ورباندي مړ شی نو هميشه لپاره به اور کي وي،

لکه ځنګه چه الله تعالی فرماییلي دي: ولو أشركوا لحبط عنهم ماكانو يعملون) او همدارنګه فرمايي: ( ماكان للمشركين أن يعمروا مساجدالله شاهدين على أنفسهم بالكفر أولئک حبطت أعمالهم وفي النار هم خالدون)

او هر څوک چه دي شرک حالت کې مړ شو الله ورته بخښنه نه کوي او جنت وربانديي حرام دي. لکه الله تعالى فرماييلي دي: ( ان الله لا يغفر أن يشرک به ويغفر مادون ذلک لمن يشاء) او فرمايي: (انه من يشرک بالله فقد حرم الله عليه الجنة ومأواه النار وما للظالمين من أنصار).

ددي شرک ځيني اقسام دادي: لکه د مړو او بتانو نه دعاء غوښتل، او د هغوی نه استغاثه او مدد طلب کول،او د هغوی لپاره حلاله کول، او نذر منل او نور داسي کارونه کول.

شرک اصغر: ددي مطلب دادي چه ددي ذکر قران او حدیث کې راغلي وي چه دا شرک دي ليکن د شرک اکبر د جملې نه ندي،لکه ځيني کاونو کې رياء (ځان ښودنه کول)، الله نه بغير بل چا باندي قسم کول، او دا ويیل چه : که د الله خوښه شی اوفلاني خوښه شي(ماشاء الله وشاء فلان) او داسي نور..

څکه رسول الله ﷺ فرمايي: أخوف ما أخاف عليكم الشرک الأصغر،فسئل عنه فقال الرياء)

او همدارنګه دا قول: (من حلف بشي من دون الله فقد أشرک)

او همدارنګه فرمايي: (لا تقولوا: ماشاء الله وشاء فلان ولکن قولوا: ماشاء الله ثم شاء فلان) اخرجه ابوداود باسناد صحيح.

او دي شرک باندي انسان نه مرتد کیږي. او نه په اور کي هميشه لپاره وي،لکن د کمال توحيد سره منافي دي کوم چه ضروري دي.

هر چه دريم قسم دي شرک خفي: ددي دليل د رسول الله ﷺ دا قول دي:( ألا أخبركم بماهو أخوف عليكم عندي من المسيح الدجال؟ قالوا بلى يا رسول الله! قال الشرك الخفي،يقوم الرجل فيصلي فيزين صلاته لما يرى من نظر الرجل اليه.)

او شرک په دوه قسمه کيدل هم جائز دي، اکبر او اصغر، اما شرک خفي عام دي دواړو له شامليږي، اکبر کي هم شامل دي لکله د منافقينو شرک چه خپل باطل عقائد پټوي، او اسلام ظاهر کوي درياء لپاره، او خپل ځان باندي ديريدو دوجي نه.

او همدارنګه شرک اصغر کي هم وي لکه رياء،لکه څنګه چه مخکي حديث کي د محمود بن لبيد انصاري او ابي سعيد الخدري په حديث کي ذکر شو. والله ولي التوفيق.

## دمحرماتو اقسام:

**شرك اكبر:**
او دا د محرماتو تولو نه اوله درجه كي دي

**شرک اصغر:**
دا د شرک اکبر نه كمه درجه كي دي او د كبائرونه اوچته درجه كي دي

**كبائر(غټ ګناهونه):**
دكبيره ګناه نه مطلب دادي چه هر هغه ګناه چه هغي باندي خاص عقوبت او سزا مقرره شوي وي، او داسي ويل شوي وي چه په فلاني كار باندي د الله لعنت كيږي،يا د فلاني كاركولو والا نه براءت دي، او ياي
يي د مشرک او د كافر د عمل سره مشابهت وركړي شوي وي، يا دا ويل شوي وي چه د فلاني كار والا مسلمان نه دي، او ياي د قبيحه حيواناتو (څناورو) سره مشابهت وركړل شوي وي

**صغائر(واړه ګناهونه):**
هر هغه كار چه شريعت حرام كړي وي خو كوم خاص عقوبت او سزا يي ورله تعيين كړي نه وي.

## كبائر( لوي ګناهونه):

**دكبيره ګناهونو تعداد:**
كوم خاص عدد يي نشته ليكن د ذكر شوي قاعدي مطابق محدود دي.

**دكبيره ګناه مرتكب حكم:**
مومن دي ليكن ددي ګناه دوجي ناقص الايمان دي. يا د خپل ايمان په وجه مومن او د كبيره په وجه فاسق دي، دايمان په اندازه دي ورسره محبت وكړي شي او دكبيره ګناه په مقدار ورسره بغض كيدلي شي،د ګناه د ارتكاب په وخت كي به ورسره ناسته نه كيږي.

**دكبيره ګناه مراتب:**
ددي مرتبي متفاوتي دي، لكه رسول الله صلی الله عليه وسلم په دي قول كي: ( ألا أنبئكم بأكبر الكبائر) متفق عليه

**دكبيره ګناه حكم:**
كبيره ګناه كونكو لپاره توبه ضروري ده، لكه څنګه چه رسول الله ﷺ فرمايلي دي: ( النائحة اذا لم تتب قبل موتها) او بل حديث كي فرمايي: ( اذا اجتنبت الكبائر) رواه مسلم.

# دشرک اکبر او شرک اصغر په منځ کي فرق:

## شرك اكبر:

– انسان د اسلام ددائرې نه خارجوي.

٢ – ټول عملونه بربادوي.

٣ – هميشه لپاره جهنم کي دپاتي کيدو سبب دي.

۴ – دحاکم وقت لپاره مال او ځان او وينه حلالوي.

۵ – شرک اکبر باندي واضح دليل ثابت وي.

۶ – دا عقيده ساتل چه د کائناتو په تصرف کي اسباب شامل دي.

٧ – که ددي شرک حالت کي مړشو بخښنه ورته نه کيږي.

٨ – که توبه اوباسي الله يي قبلوي مګر دوه حالاتو کي نه قبلوي: لمر د مغرب نه دراختلو وروسته،او د مرګ حاضريدلو وخت کي

## شرک اصغر:

١ – داسلام د دائرې نه خارجونکي نه دي

٢ – ټول عملونه نه بربادوي ليکن خاص عمل(شرکي عمل) بربادوي.

٣ – جهنم کي د هميشه والي سبب نه دي.

۴ – حاکم وقت لپاره د مال اوويني حلالونکي نه دي.

۵ – په وړه ګناه کيدلو باندي دليل وي.

۶ – دداسي يو شي سبب ګڼل چه الله تعالی سبب نه وي ګرځولي.

٧ – هر هغه شي چه ګناه کبيره لپاره سبب دي هغه ګناه صغيره ده.

٩ – هر هغه شي ته چه شريعت د شرک او د کفر نوم ورکړي دي او (ال) يي ورسره نه وي ذکر کړي نو دا وړه ګناه ده،تر څوپوري چه قرائن ا ودلائل وربانديى نه وي چه دا کبيره ده.

# پنځم درس

## احسان :

او هغه دا چه ته د الله عبادت وکړې په داسي طريقه ګويا که ته الله ويني،که ته يې نه ويني يقينا الله دي ويني.

## احسان يو رکن دي او دوه يې مرتبې دي:

### دمشاهدي عبادت:

ددې مطلب دادې چه د رب عبادت په محبت او شوق او رغبت سره وکړې، او الله سره چه کوم نعمتونه دي د هغه دحاصلولو جذبه ولري، لکه څنګه چه رسول الله صلى الله عليه سلم فرماييلي دي: ( افلا احب ان اکون عبدا شکورا).
نود عبادت کولو او تشويقولوسبب به محبت او رغبت او شوق د عبادت وي دهغه څه د حاصلولو لپاره چه الله سره دي. سره د يرې (خوف نه).

### دمراقبې عبادت ( عبادة المراقبة):

ددې مطلب دادې چه د الله تعالى عبادت د الله دعذاب ديرې نه وکړې ، چه د الله د عذابونو نه بچ شي،او دا په ټولو مسلمانانو واجب دي.

## دتوحيد متعلق سوالونه

۱. ددين څو مرتبې (درجې) دي ؟ O درې O دوه. O پنځه.

۲. داسلام څو اركان دي ؟ O پنځه. O شپږ. O اووه.

۳. اسلام په مرتبه (درجه) كې د ايمان نه اعلى دي. (صحيح – خطأ)

٤. دكلمه اخلاص څو اركان دي ؟

O اووه. O اته. O دوه.

٥. د (لا إله إلَّا الله) څو شرطونه دي؟

O اته. Oاووه. Oپنځه.

٦. علم د لا اله الا الله د شرطونو نه شرط دي او معنى يې:

O ديوشي ادراك د هغه د اصليت او حقيقت سره كول.

O دالله نه بغير بل معبود برحق نشته

۷- چاچه د هغه خلكو په كفر كې شک وكړو كومو ته چه د اسلام تبليغ رسيدلي دي او ايمان يې نه دي راوړي نو د هغوي حكم:

O يقينا لوي كفر يې وكړو.O كه يقين يې د شک نه ډير وو بيا نه كافر كيږي

۸- قبول او قبلول د لااله الا الله د شرطونو نه يو شرط دي او مراد ورنه قبلول دي:

O قولا. O فعلا. Oاعتقادا. O داټول ذكر شوي شيان.

۹- په لااله الا الله كې رياء كول لكه صدقه كې رياء كول دي چه شرک اصغر دي. (صح – خطأ)

۱۰- چاچه په ژبه باندې د لااله الا الله اقرار وكړو بغير د زړه د تصديق نه نو هغه:

O موحد دي O مسلمان دي مومن نه دي O كافر كفر اكبر دي O كمزروي ايمان والا دي.

١١ - چاچه د نبي سره داسي محبت وکړو لکه د الله سره چه یی کوي نو دي سړي:

O کفر اکبر وکړو O کفر اصغر وکړو O. کبیره ګناه یي وکړه

١٢-دمحبت څو اقسام دي ؟ O څلور. O دري. Oدوه.

١٣- الله لپاره محبت دعمل لپاره دعمل کونکي لپاره دزمان او مکان لپاره وي. (صحیح – خطأ)

١٤-د الله سره د محبت حکم:

O شركٌ أصغر. O واجبةٌ. O شركٌ أكبر.

١٥- دالله لپاره د محبت کولو حکم:

O جائزة. O واجب. O شركٌ أكبر.

١٦-دعبودیت څو اقسام دي ؟ O دوه. O دري. O څلور.

١٧- دالله مخلوقات ټول د الله عبودیت قهر غلامان دي حتی چه کافر هم دي. (صحیح- غلط)

١٨- که چرته چا د لااله الا الله کلمه اوییله ا وعمل یي وربانددي پریښودلو، او عبادات او عملونه یي پریښودل، لکه نه لمونځ کوي او نه کوم نور عبادات، نوداسي حالت کي دا کلمه :

O فایده ورکوي . O فایده نه ورکوي

١٩- په کلمه کي د ( عبده ورسوله)نه مطلب دادي چه رسول الله ﷺ بنده دي او دبنده عبادت نه شی کیدلي او رسول دي تکذیب یي نه شي کیدلي. (صحیح- غلط).

٢٠- په کلمه کي (أن محمدا عبده ورسوله) نه مراد چه په څه یی حکم کړي دي په هغي کي د هغه اطاعت کول او د څه شي چه خبر ورکړي دي د هغی تصدیق کول دي. دا دکلمي:

O معنی ده O مقتضا او غوښتنه ده.

٢١- چاچه نبي ﷺ له د ربوبیت صفات ثابت کړل ، ګویا که هغه ددي خبري ګواهي ورکړي نه ده چه محمد ﷺ دالله بنده او رسول دی. ( صحیح- غلط).

٢٢- د نبی کریم ﷺ لپاره اعلی وصف:

O دالله رسول دي O دالله بنده او رسول دي O خاتم النبین دي.

٢٣- چاچه په دين اسلام كي نوي كار ايجاد كړو او دا ګمان يي وكړو چه دا خه كار دى نو دي داسى ګمان وكړو ګويا چه نبي ﷺ په دين كي خيانت كړي دي، ځكه الله تعالى فرمايي: (اليوم اكملت لكم دينكم) نو كوم شي چه درسول الله ﷺ په وخت كي دين نه وو نو نن هم هغه دين نه دي. دا دچا قول دي:

O شيخ الإسلام ابن تيميَّة. O الإمام مالكٍ. O الإمام ابن بازٍ.

٢٤- نبي ﷺ د كوم نبي د نسل نه وو: O اسحاق عليه السلام O اسماعيل عليه السلام.

٢٥- لاندي خالي ځايونه ډک کړئ:

رسول الله ﷺ په ................. كال كي د ................................ په ښار كي پيدا شوى وو، او د هغه عمر ................. كاله وو،................ دنبوت نه مخكي وو او .......................... نبي او رسول وو.

٢٦- رسول الله ﷺ ليږل شوي وو:

٢٧- O خپل قوم ته O انسانانو ته O پيريانو او انسانانو ته.

٢٨- د معراج نه مطلب درسول الله ﷺ د مكي نه بيت المقدس ته تلل دي. ( صحيح- غلط).

٢٩- رسول الله ﷺ هجرت كړى وو:

O طآئف ته. O حبشي ته. O مديني ته. O دي ټول ذكر شوى ځايونوته.

٣٠- درسول الله ﷺ مهمي (مشهوري) غزاګاني څومره دي ؟

O يوه . O دوه . Oدري. O څلور. O پنځه.

٣١- درسول الله ﷺ څو اولادونو وو ؟ O دريٌ. O څلور. O اووه.

٣٢- رسول الله ﷺ حجة الوداع كړي ده ددي مطلب دادي چه ددي نه مخكي يى بل حج هم كړي وو. ( صحيح – غلط)

٣٣- درسول الله ﷺ سيرت وييل: O واجب دي. Oمُستحب دي. O جائزدي.

لاندي خالي ځايونه ډک کړئ:

ایمان شرعا وینا ده په ............................. او تصدیق (اعتقاد) دي په

................................. او عمل دي په ...................... ډیریږي په

...............................باندي او کمیږي په ............................... باندي.

۳٤- دایمان څو ارکان دي:؟ O شپږ. O پنځه. O أربعةٌ.

۳۵- په الله باندي ایمان یو څه کارونه لازموي څومره دي؟؟

O څلور. Oدري. O دوه.

۳٦- د الله په وجود باند ي اجمالي د لائل: O څلور. O شمارل يي ممکن نه دي

۳۷- میکایل هغه ملائکه ده چه د باران مسئولیت ورکول شوي دي. (صحیح - غلط).

۳۸- زړونه صرف د انسانانو وي ، د ملائکو زړونه نه وي. (صحیح- غلط).

۳۹- مونږ د څومره کتابونو نومونه یاد کړي دي؟:

O شپږ. O څلور. O اووه. O ددي نه هم ډیر.

٤۰- الله تعالی په هر نبي کتاب نازل کړي دي. (صحیح – غلط).

٤۱- اولني رسول ادم علیه السلام دي؟ (صحیح – غلط).

٤۲- محمد ﷺ رسول دي نبي نه دي. (صحیح – غلط).

٤۳- اواو العزم رسولان څومره دي ؟ O پنځه. O څلور. O ډیر دي.

٤٤- په اخرت باندي ایمان دهر هغه کار باندي ایمان لره شامل دي کوم چه دمرگ نه بعد وي د خلکو د قبرونونه د پاڅیدلو پوري. (صحبح – خطا).

٤۵- د قضاء او قدر باندي د ایمان څو مراتب (درجات )دي ؟

O څلور. O پنځه. O دري.

٤٦- ایا الله د کارونو واقع کیدلو نه مخکي وربباندي خبر وي؟ ( وو- نه).

٤٧- ايا ټول کوم کارونه چه انسانان کوي الله ورباندي عالم دي؟ (وو- نه)

٤٨- ايا ټول کوم کارونه چه انسانان کوي الله ورباندي عالم دي؟ (وو- نه)

٤٩- ايا کوم کارونه چه انسانان کوي الله تعالی ليکلي دي؟ ( وو – نه)

٥٠- ايا د بنده افعال مخلوق دي؟ و – نه)

٥١- دتوحيد څو قسمه دي: O دوه.O دري.

دشرک اکبر او شرک اصغر په منځ کي پنځه فرقونه ذکر کړه:

١-.....................................................................

٢-.....................................................................

٣-.....................................................................

٤-.....................................................................

٥-.....................................................................

٥٢- دشرک اکبر او شرک اصغر پنځه مثالونه ذکر کړی:

| الشِّرك الأكبر | الشِّرك الأصغر |
|---|---|
| ................................ | ..................................... |
| ................................ | ..................................... |
| ................................ | ..................................... |
| ................................ | ..................................... |
| ................................ | ..................................... |

٥٣- اعتقادي نفاق شرک اصغر او د اسلام ددائري نه خارجونکي نه دي. (صحيح – غلط).

٥٤- داحسان څو ارکان دي: O يو رکن. O د وه ارکان.

# شپږم درس

## د لمونځ شرطونه

دلمونځ نهه(۹) شرطونه دي:

۱- اسْلَامُ. ۲- عَقْلُ. ۳- تميزُ.

٤- د نا پاکی ( بي اودسي ) ختمول . ٥- دنجاست پاکول. ٦- دعورت پټوالي

٧- دوخت داخلیدل . ٨- قبلي ته مخ کول . ٩- نیت کول.

## اولني شرط: اسلام

او ددي ضد کفر دي،نو که داسي یو کس چه الله ته کنذلي کوي، او یا دعبادتونو نه کوم یو شي کومه حصه د الله نه بغیر بل چا ته ګرځوي نو د هغه لمونځ باطل دي مګر چه الله ته توبه اوباسي

## دویم شرط: عقل

او ضد يي لیونتوب دي، نو ددي وجي نه د لیوني لمونځ قبول نه دي او نه ذ د نشي (په نشه کي مبتلا) انسان لمونځ په طريقه اولی نه دي قبول.

## دریم شرط: تمییز

ددي نه مطلب بلوغ ته رسیدل نه دي، بلکه معنی يي داده چه د شیانو منځ کي فرق کولي شي، یعني سوال او جواب باندي به پوهیږي، او ددي لپاره کوم خاص عمر محدود نه دي، لکن عام طور باندي داووه کالو عمر وي.

د ماشوم لمونځ کله صحیح کیږي؟ کله چه د شیانو منځ کی فرق کولي شي، یعني سوال او جواب پیژني، او مثلا د اور او اوبو منځ کي فرق کول، او کنه لمونځ يي باطل دی.

خلورم شرط: دبي اودسى ختمول:

او ددي لاندي دوه اقسام دي:

**حدث اكبر ( غټ اودس):**

او دا په غسل كولو سره ختميږي

**حدث اصغر ( وړوكي اودس):**

او دا په اودس سره ختميږي

پنځم شرط: دنجاستو ختمول

دبدن نه د ځاي نه ،او كپړو نه،كه چرته يې داسي حالت کی لمونځ وکړو كه هغه باندي نجاست او ګندګي وه، او وربانديي پوهه وو، او د هغي په لري كولو قادر هم وو، او ورته ياد هم وو، نو لمونځ يې باطل دي، او د نجاست لري كول، په دري قسمه دی:

**مغلَّظةٌ:**

او دا د سپي نجاست دی. رسول الله صلى الله عليه وسلم اووه ځل دهغه لوښي د وينځلو حكم كړي دي،كوم كي چه سپي خوله وهلي وي. او اول ځل به يي په خاورو سره وينځي.(رواه مسلم)

**مخفَّفةٌ:**

او دا په اوبه اړولو اويا چنكاوباندي صفا كيږي،بغيرد نچوړولو،لكه د هغه ماشوم متيازي چه خوراک يي نه وي شروع كړي، مذي، او مني اګرچه پاک دي خو بيا هم رسول الله ﷺ به پاكول(چنكاو) چه لامده به وو، اويا به نوكانو به يي لري كول چه وچ به وو.

**متوسِّطةٌ:**

دا قسم په وينځلو باندي ختميږي او هغه په چنكاو او نچوړولو سره،او دا نه مغلظة دي مثال يي لكه د سړي يا د ښځي متيازي، او نور داسي نجاستونه...

نجس شيان

دسرې تشي او وړوکي متيازي، دهغه ځناور چه غوښه يي حرامه وي تشي او وړوکي متيازي، ماتونکي ځناور (حيوانات) مګر هغه چه ځان خلاصول ورنه ګران نوي، لکه پيشو، خچر، او خر، او هغه وينه چه دحيوان د ذبح کيدلو نه وروسته ورنه روانه وي، او هغه وينه چه مخي اوشا له لاري وتي وي، او همدارنګه مردار هم نجس دي ،مګر د انسان مرداره، او داسي نفس والا شي چه وينه پکي نه وي، او د بحر مردار او ملخان.نه دي.

شپږم شرط : دعورت پټول

او عورتونه دري دي

مخفَّفةٌ:

داووه نه تر لسو کالو ماشوم د شرمګاه پټول او شرط پکي دادي چه دواړه شرمګاه يي پټي کړي.

مغلّظةٌ:

او دا د ازادي او بالغي ښځي عورت دي، او هغي له پکار دي چه ټول بدن پټ کړي سوا د مخ نه او هغه به هم د پرديو په مخ کي پټوي

متوسِّطةٌ:

ددي دوه ذکر شوي نه علاوه لپاره دي، خو شرط دادي چه د نامه(ناف) نه تر زنګنونو(ګټنو) پوري به پټوي، او د دواړو اوږو پټول مستحب دي، د هغي لپاره.

اووم شرط: دوخت داخليدل

د وخت داخليدلو نه مخکي او نه وروسته لمونځ کيږي، مګر هغه حالت کي چه د عذر د وجي نه د بل وخت لمونځ سره يي يو ځاي کوي، او که قصدا يي لمونځ د وخت نه وروسته کړو نو ګنهکار دي.

اتم شرط: قبلې ته مخ کول

ددي شرط نه د سفر په حالت کي د نفل لمونځ مستثنی دي، نو دي حالت کي به هغه طرف ته لمونځ کوي کوم طرف ته چه يي د سورلۍ مخه وي، او ددي مثال لکه دي زمانه کی د جهاز دي، همدارنګه ددي شرط نه هغه څوک چه دقبلي ته مخ کولو نه عاجز وي او يا ددشمن يره وي مستثنی دي.

نهم شرط: نيت

دنيت ځاي زړه دي، په ژبه باندي نيت کول بدعت دي، که نيت د لمونځ نه لږ وخت مخکي وکړی او يا دوخت د فرض کيدو وخت کي نيت وکړي نو هم لمونځ يي صحيح دي.

ضروري خبري:

١ –دشرط د پريښودلو لپاره کوم عذر قابل قبول نه دي، که د جهل لاعلمی د وجي وي يا د نسيان د وجي او يا قصدا هم وي، خو که چرته لمونځ يي وکړو او هغه باندي نجاست وو، او ناخبره وو ورنه يا يي هير شوي وو، يا د جهل د وجي نه نو لمونځ يي صحيح دي، ځکه ددي تعلق د ترک سره دي نه د فعل سره.

٢ - د شرط تعلق دعبادت نه خارج وي، اود عبادت نه مخکي کيږي، نو دشرط وجود د اول نه اخر پوري لازمي، ضروري دي.

# اووم درس

## دلمونځ ارکان

دلمونځ  خوارلس(۱۴)ارکان دي:

۱- قیام سره د قدرت او استطاعت　　۲- تکبیر تحریمة

۳- دسورت فاتحی وییل　　۴- رکوع.

۵ - درکوع نه وروسته سیده ودریدل .　۶- په اووه اندامونو سجده کول

۷- دسجدي نه اوچتیدل .　　۸- ددوه سجدو منځ کي کیناستل.

۹- دلمونځ په ټولو افعالوکي اطمئنان　　۱۰ - دارکانو منځ کي ترتیب.

۱۱- اخري تشهد.　　۱۲- تشهد ته کیناستل.

۱۳- درود ویيل .　　۱۴- تسلیمة ( اخري سلام).

اولني رکن : قیام سره د استطاعته

**فرض لمونځ کي:**

قیام په فرض لمونځونو کي رکن دي،او چه کله د قیام استطاعت نه وي بیا کلي شکل باندي ساقط کیږي، او که لږ هم د قیام استطاعت لري نو قیام د وکړي.

**نفل لمونځ کي:**

نفل لمونځ په ناسته باندي هم صحیح دي لیکن د قیام نیم اجر اخلي، او یاپه پریوتلو  خو د ناستي نیمه برخه اجر به حاصلوي.

## دويم رکن : تکبیرة الاحرام

دالله اکبر نه علاوه په نورو الفاظو سره تکبیر تحریمه ویل جائز نه دي

## دریم رکن : دسورة فاتحې قراءت

دلمونځ په هر رکعت کي سورة فاتحه په ترتیب د ایاتو کلماتو مخارجو او صحیح طریقه ویل واجب دي، اګر که لمونځ سري وي او که جهري وي،لیکن کله چه امام دپه رکوع کي راونیولو نو بیا سورة فاتحه ویل ساقط کیږي

## ځهم رکن : په ټولو افعالو کي اطمئنان ا و سکون

او دا هغه وخت حاصلیږي چه کله په هر رکن کي واجب ذکر پوره اوویل شي.

## ضروري یادونه:

رکن دعبادت دننه وي، او ددي د پریښودلو لپاره عذر نه قبلیږی، که سهوا وي او که عمدا وي او که جهلا، او نه ددي اعاده په سجده سهو سره کیږي، او حاضر وخت لمونځ به راګرځوي،اما هغه لمونځونه چه یي کړي وي او ځیني ارکان یي پکي پریښي وي نو بیا پکي معذور حسابیږي،ځکه رسول الله ﷺ دټولو لمونځونو د راګرځولو حکم نه دي کړي بلکه د حاضر وخت لمونځ راګرځولو حکم یي کړي دي، سره ددي چه هغه پکي اطمئنان او سکون پریښي وي حال دا چه دا رکن دي. والله اعلم

## اتم درس

دلمونځ واجبات::

او دا اته (٨) واجبات دي:

١- دتکبیر تحریمه نه بغیر نورتور تکبیرونه.

٢- سمع الله لمن حمده وییل امام او منفرد دواړو له.

٣- ربنا ولک الحمد ویيل ټولو له.

٤- په رکوع کي سبحان ربي العظیم ویيل.

٥- په سجده کي سبحان ربي الأعلی ویيل..

٦- ددواړو سجدو منځ کي رب اغفر لي ویيل.

٧- اولني تشهد.

٨- تشهد ته کیناستل.

<u>ضروري يادونه:</u>

په رکوع کي د سبحان ربي العظيم الفاظ ويیل واجب دي،ددي نه علاوه سنت نبوي نه ثابت شوي نوري دعاګاني ويیل مستحب دي، همدارنګه په سجده کي سبحان ربي الأعلى ويل واجب دي ، ددي نه علاوه سنت نبوي نه ثابت شوي نوري دعاګاني ويیل مستحب دي

# نهم درس

## دتشهد بیان

او هغه داسي دي: (التحيات لله والصلوات والطيبات السلام عليک أيها النبي ورحمة الله وبركاته، السلام علينا وعلى عبادالله الصالحين، أشهد أن لا اله الاالله وأشهد أن محمدا عبده ورسوله).

بيا دي نبي ﷺ باندي درود اوايي : اللهم صل على محمد وعلى آل محمد كماصليت على ابراهيم وعلى آل ابراهيم انک حميد مجيد،اللهم بارک على محمد وعلى آل محمد كما باركت على ابراهيم وعلى آل ابراهيم انک حميد مجيد).

بيا دي په اخري تشهد کي د الله تعالى نه دجهنم د عذاب نه پناه او امان وغواړي،او د عذاب قبر نه او د زندګی او د مرګ د فتني نه،او د مسيح الدجال د فتني نه، بيا چه کومه دعاء يي خوښه وي ودي کړي،او خاص طور باندي ثابت شوي دعاګاني، او ځيني د هغه دعاګانو نه داداي: اللهم اعني على ذكرک وشكرک وحسن عبادتک،اللهم اني ظلمت نفسي ظلما كثيرا ولا يغفر الذنوب الا انت، فاغفرلي مغفرة من عندک ،وارحمني انک انت الغفور الرحيم).

او هرچه اولني تشهد دي په هغي کي به دشهادتينو نه وروسته دريم ركعت ته پاڅيږي،د ماسپښين او د مازيګر او ما ښام او ماسخوتن لمونځونوکي، او که په نبي ﷺ باندي يي درود اوييل نو افضله ده، دعام حديثونو کي د ثبوت دوجي نه ددى باره کي،بيا دي دريم ركعت ته پا څيږي.

# لسم درس

## دلمونځ سنتنونه

١- داستفتاح دعاء ( سبحانک اللهم وبحمدک.....).
٢- دقيام په حالت کي درکوع نه مخکي او وروسته ښي لاس په ګس لاس باندي په سينه کيښودل.
٣- په اولني تکبير او د رکوع نه مخکي او وروسته لاسونه د غوږونو او يا د اوږو برابر اوچتول داسي حالت کي چه ګوتي به يو ځاي کړل شوي وي،او اوږدي به وي،او همدارنګه دريم رکعت ته د اوچتيدو په حالت کي.
٤- رکوع او سجده کي د يو ځل نه ډير تسبيحات ويل.
٥- درکوع نه وروسته د(ربنالک الحمد) نه علاوه نوري دعاءګاني ويل، او همدارنګه ددوه سجدو منځ کي دمغفرت ددعاء ديو نه ډير ويل.
٦- په رکوع کي سر د ملا برابر ساتل.
٧- دسجدي په حالت کي ځنګلي (لاسونه) د دواړو طرفونو(خيټي) نه لري ساتل، او خيټه د ورنونو نه لري ساتل،او ورنونه د پنډيو نه لري ساتل
٨- دسجدي په حالت کي ځنګلي د زمکي نه اوچت ساتل
٩- اولني تشهد او د دوه سجدو په منځ کي په داسی طريقه کيناستل، چه ښی ښپه به ودروي او ګسه خپه باندي به کيني
١٠- دري او څلور رکعته والا لمونځونو کي په اخري تشهد کي تورک کول..

١١- په اولني او دويم تشهد کی داول نه تر اخره پوري دشهادت ګوته باندي اشاره کول. او د دعاء په وخت کي خوځول..

١٢- اولني تشهد کي په محمد ﷺ او د هغه په آل او په ابراهيم عليه السلام او د ابراهيم عليه السلام په آل باندي درود ويل..

١٣- اخري تشهد کي دعاء کول.

١٤- دفجر (سهار) لمونځ کي،دجمعي لمونځ کي، او د اخترونو لمونځونو کي، او د باران لمونځ(استسقاء) او د ماخام ا وماسخوتن اولني دوه رکعتونو کي په جهر سره تلاوت کول.

١٥- دماسپښين او مازيګر او د ماښام د لمونځ دريم رکعت ا ود ماسخوتن د لمونځ اخرى دوه رکعتونو کي په پټه تلاوت کول.

١٦- دفاتحي سره سره دنورو قراني سورتونو قراءت کول. دذکر شوي سنتونو نه علاوه د نورو سنتونو هم خيال او اهتمام پکاردي،لکه د امام او مقتدي لپاره د رکوع نه وروسته ربنا ولک الحمد سره نور وارد شوي الفاظ ويل،ځکه دا سنت دي، او همدارنګه رکوع په حالت کي په په ګوتنو (زنګنونو) باندي لاس کيښودل داسي حالت کي چه ګوتي کولاو وي.

دعاء الاستفتاح

دعاء الاستفتاح د تکبيره تحريمه نه وروسته وي،لکه درسول الله ﷺ نه حديثونو کي داسي ذکر شوي دي:«اللَّهُمَّ بَاعِدْ بَيْنِي وَبَيْنَ خَطَايَايَ كَمَا بَاعَدْتَ بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ، اللَّهُمَّ نَقِّنِي مِنَ الْخَطَايَا كَمَا يُنَقَّى الثَّوْبُ الأَبْيَضُ مِنَ الدَّنَسِ، اللَّهُمَّ اغْسِلْنِي مِنْ خَطَايَايَ بِالْمَاءِ وَالثَّلْجِ وَالْبَرَدِ»، أو «سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، وَتَبَارَكَ اسْمُكَ، وَتَعَالَى جَدُّكَ، وَلَا إِلَهَ غَيْرُكَ».

# یوولسم درس

## دلمونځ باطلونکي کارونه

دلمونځ باطلونکي کارونه اته(۸) دي:

۱- دلمونځ په حالت کي قصدا خبري کول، اما په هیره باندي او د جهل په وجه لمونځ نه باطل کیږي.  ۲- خندا کول  ۳- خوراك.

٤- څښاک.  ٥ د عورت (شرمگاه ) ښکاره کیدل.

٦- دقبلي نه بل طرف ته ډیر مائله کیدل..

٧- لمونځ کي مسلسل بې ځایه حرکات کول.  ٨- داودس ماتیدل

اولني باطلونکي : قصدا خبري کول

قصدا خبري کول ،لیکن که چرته امام سهوه شو یا تلاوت کي خطا شو نو فتح ورکول شي،په دې باندې لمونځ نه باطلیږي.

په لمونځ کي د حرکت کولو حالات:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| حرام حرکت: اودا مسلسل او ډیر حرکت کول بغیر د ضرورته لکه خوراک کول | مکروه حرکت: لږ حرکت دي بغیر دضرورت لکه لږ بل طرف ته مایله کیدل | مباح حرکت: ادا د ضرورت لپاره حرکت کول لکه د ږیري گرول | مستحب حرکت: او ادا هغه چه دڅول لمونځ کمال وربانندي دي لکه صف کي خالي ځاي ډکول | واجب حرکت: او دي پوري د لمونځ صحیح والي تړلي دي، لکه دنجاست لري کول. |

## ضروري يادونه:

دلمونځ شرطونه او ارکان او واجبات او سنت مخکي تير شو فرق يی ذکر کړه؟

| شَّرط | رُکن | واجب | سُنَّت |
|---|---|---|---|
| ددي تعلق دعبادت نه خارج وي | دا په عبادت کي دننه وي | | |
| په پوره عبادت کي د شرط وجود ضروري وي | ددي تعلق د عبادت ځيني اجزاءسره وي. | | |
| دشرط او رکن پريښودلو والا معذور نه وي اګر که دجهل يا دهيريدلو اويا قصدا يي پريږدي. | | ددي پريښودلو والا معذور دي که په جهل يا دنسيان دوجي نه تري پاتي شي اما قصدا نه دي. | ددي پريښودلو والا معذور دي که په جهل يا نسيان او ياقصدا ورنه پاتي شي |
| دشرط پريښودلو لپاره سجده سهو نشته بلکه عبادت ورسره باطليږي | درکن پريښودلو باندي سجده سهو کافي نه ده بلکه ددي اداء کول واجب دي | دواجب پريښودلو حالت کي سجده سهو کافي ده | / |

## سجده سهو:

دسجده سهو دري اسباب دي

### په لمونځ کي زیاد(ډیروالي) کول:

مثلاً: یو انسان په لمونځ کي رکوع یا سجده قیام او ناسته اضافي وکړي.

### په لمونځ کي نقصان(کمي ) کول:

دلمونځ په واجباتو کي کموالي کول

### په لمونځ کي شک پیدا کیدل:

لکه دلمونځ په رکعتونوکي یی شک شي، دري یي کړي دي او که څلور، او دا په دوه قسمه دي:

#### دعبادت د پوره کیدو نه وروسته شک پیدا کیدل:

داسې شک ته به مطلقا څه توجه نه ورکوي تر څو چه یي یقین ورباندي راشي.

#### عبادت کي دننه (دعبادت په حال کي)شک پیدا کیدل:

که د شک نسبت ډیر وو نو توجه به نه ورکوي. او که د شک نسبت کم وو نو بیا چه په څه باندي یقین رالو هغه به کوي، او که شک برابر وو کول او نه کولو کي نو بیا په کم باندي فیصله کوي.

نوټ:

- کله چه په لمونځ کي څوک سهوه شي نو هغه باندي هیڅ هم نشته او لمونځ یي صحیح دي.
- که لمونځ کونکي لمونځ کي کوم رکن پریښودلو نو لمونځ یي نه صحیح کیږي، تردي پوري چه یي کړي نه وي، او اخر کي به سجده سهو هم کوي.
- که چرته کوم واجب سهوا ورنه پاتي شو نو سجده سهو به کوي.

## دلمونځ مختصره طريقه په تصويرانو کې:

- بهتره داده چه مسلمان به کورکي ځان پاک کړي او ښايسته(پاک) لباس واچوي.
- او پيدل (ښپو) لاړشي ( کولی شي چه سورلي باندي هم لاړشي) په عاجزي او سکون سره يعني منډي به نه وهي اخوا ديخوا کتل به نه کوي، اواز به نه اوچتوي.




- کله چه مسجد ته ورسيږي نو چپلي دي اوباسي او دچپلو لپاره چه کوم ځای خاص کړي شوي وي التـه دي کيدي، او دنيا دي هم ورسره التـه پريږدي، همدارنګه جومات کي اختلا او خرخول، او دورک شوي شيز اعلان کول حرام دي.
- مسجد ته دداخليدلو وخت کي به ښي خپه مخکي کوي، او دا دعاء به اوايي: (بسم الله والصلاة والسلام على رسول الله،اللهم افتح لي أبواب رحمتک) او د مسجد نه وتلو وخت کي به کسه خپه مخکي کوي، او دا دعاء ء به وايي:«بِسْمِ اللهِ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَى رَسُولِ اللهِ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ».
- سړي به اول صف ته مخکي کيږي، او ښځي به وروسته ودريږي.(دصف په لحاظ به سړي مخکي او ښځي روسته وي.)..
- که څوک مسجد ته دننه شو او لمونځ ولاړ وو، نو امام سره دي يوځاي شي چه په هر حال کي امام وي، که امام سره د قيام او يا درکوع په حال کي يوځاي شو نو رکعت يي حسابيږي، او که نه نو بيا دسلام نه بعد به رکعت واپس پوره کوي،

– او كه مسجد ته دننه شو او لمونځ نه وو شروع شوي، نو كوم چه د لمانځه نه مخكي سنت وي هغه دي وكړي، او كه چرته د لمونځ مخكيني سنت نه وي نو بيا دي دكيناستلو نه مخكي دوه ركعته نفل تحية المسجد وكړي

– دلمونځ ودرولو په خاطر دي بار بار ګړی (ساعت ) ته كتلو او مری(غاړه) تازه كولو باندي دي د مسجد حرمت نه پامالوي.

- دامام او مقتدي لپاره دا سنت دي چه ستري ته لمونځ وكړي، او د امام ستره د مقتدي لپاره ستره ده



– ددواړه ښپو منځ کی دي د اوږو برابر فاصله وساتي نه دي كموي او نه دزياتوي،او ددواړو باهر حصه د هم برابر وساتي.



کله چه د لمونځ شرطونه پوره کړي نو بیا د (الله اکبر) اوايي،سره د لاسونو اوچتولو دغوږونو نرميو پوري او يا د اوږو پوري، په داسي شکل چه ګوتي به يي يوځاي وي، او د لاسونو منځني حصه (ورغوي) به د قبلي طرف ته کړي.



بیا دي د ښي لاس (ورغوي) دګس لاس (ورغوي) باندي کیږدي او ودي نیسي



– او نظر دي د سجدي ځاي ته کړي، اخوا ديخوا دي نه ګوري.



– او بيا د لمونځ کونکي لپاره مستحب دي چه صرف اول رکعت کي دعاء استفتاح اوايي، او بهتره داده چه نوري دعاء ګانى چه کومي داستفتاح دي او حديث کي ذکر شوي دي هم اوايي.

– بيا دي ثابت شوي الفاظو سره د الله نه پناه وغواړى لکه: «أَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ».

– بيا دي بسم الله اوايي: «بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ».

– بيا دي سورة فاتحه مکمله اوايي دحرکاتو ايتونو او د حروفو په ترتيب سره.

– بيا دي بغير د اعوذبالله نه استحبابا، دقران نه کوم سورت اوايي چه ورته اسانه وي، او بسم الله دي دسورت په اول کي صرف اوايي.

- بيا دي لاسونه اوچت کړي لکه تکبيرتحريمه کي چه يي اوچت کړي وو او الله اکبر دي اوايي او رکوع ته دي لاړشي.

– او خپل دواړه زنګنونو(ګټنو) باندي دي لاسونه کيږدي، دقبضي په شکل. او سر دي د ملا سره برابر کړي.

او يو ځل سبحان ربي العظيم وييل واجب دي او ددي نه علاوه وارد دعاګاني مستحب دى



بیا به د رکوع نه دپاڅیدلو وخت کي او مکمل برابر ودریدلو نه مخکي (سمع الله لمن حمده) اوايي او لاسونه به دغوړونو یا اوږو برابر اوچت کړي.

- چه کله برابر معتدل ودریږي نو (ربنا لک الحمد) به اوايي او که ددي نه بعد نورى واردي شوي دعاګاني وايي هم مستحب دي.

بیا به بغیر د لاسونو اوچتولو الله اکبر اوايي ا وسجده به وکړي په اووه اندامونو باندي: تندي،پوزه،لاسونه، زنګنونه، او دخپو ګوتي.

– خیټه او څنګلي به دیو بل نه لري ساتي، اود خیټي او ورنونو منځ کي به هم لري والي راولي، او د څنګلو او ورنونو منځ کي به هم لري والي وي، او څنګلى به د زمکي نه اوچتوي.



– او بیا به سبحان ربي الأعلى اوايي چه يوځل ويل يې واجب دي، او كه ددې نه علاوه نوري واردي شوي دعاګاني پكې وايي هم مستحب دي، او بيا چه كومه دعايي خوښه وي هغه ويلې شي خو بهتره داده چه صرف وارد شوي دعاګاني اوايي

– بيا به تكبير وكړي او په كسه ښپه به كيني ا وښى ښپه به ودروي، او د ښپو ګوتي به دزمكي طرف ته وي، او لاسونه (ورغوي) به د ورنونو اخري حصې باندې كيدې، اودا ناسته به په ټولو ناستو كي كوي، مګر دري ركعته او څلور ركعته والا لمونځونو په اخري تشهد كي به تورك كوي، يعني كسه ښپه به د ښي ښپي لاندي راوباسي ا وكيني به.



- بيا به الله اکبر اوايي او داولنۍ سجدي په رنګه سجده به وکړي.
- کله چه دويم رکعت کي دويمي سجدي نه فارغ شو نو تشهد ته به کيني
- منځني او دغټي ګوتي نه به حلقه جوړه کړي او د شهادت په ګوته به اشاره کوي او خوځوي به يي.
- تشهد به وجوبا اوايي.
- که چرته لمونځ دوه رکعته والا وو نو بيا د درود ابراهيمي وجوبا اوايي، او د بيا د دخلور شيانو نه پناه وغواړي، ):

«للَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ جَهَنَّمَ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ

**الْقَبْرِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الدَّجَّالِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ**»، او بيا چه يي كومه دعاخوښه وي ودي وايي، اوبهتره داده چه هغه دعاګانى اوايي چه كومي واردي وي سنت كي، سره ددي دعا: «**اللَّهُمَّ أَعِنِّي عَلَى ذِكْرِكَ وَشُكْرِكَ وَحُسْنِ عِبَادَتِكَ**».



- بيا دي ښى طرف ته او ګس طرف ته سلام وګرځى، او سر دي هم ورسره وګرځى بغير د اوږو د ګرځولو نه، او بغير د سر خوځولو نه بره او لاندي، او بغير دلاسونو د اشارو نه.



- او كه لمونځ دري ركعته ا وڅلور ركعته وي، نو بيا به د تشهد ويېلو نه وروسته پاڅيږي، كه دورد براهيمي وايى نو مستحب دي.

- تكبير به اوايي او دريم ركعت ته به ودريږي،درى ركعته به وكړي،كه ددري ركعته والا لمونځ وي بيا دي تشهد ته كيني، او كه څلور ركعته والا لمونځ وي نو بيا به څلورم ركعت ته پاڅيږي، بيادي اخري تشهد ته كيني.

- تشهد به اوايي او درود ابراهيمي به هم اوايي، او دڅلور شيانو نه به پناه وغواړي چه دا دعاء ده: ،( اللهم اني اعوذبک من عذاب جهنم،واعوذبک من عذاب القبر، واعوذ بک من فتنة الدجال،واعوذ بک من فتنة المحيا والممات.)او بيا چه كومه دعاخوښه وي ودي وايي، اوبهتره داده چه هغه دعاګانى اوايي چه كومي واردي وي سنت كي، سره ددي دعا:( اللهم اعنى على ذكرک وشكرک وحسن عبادتک).

- كه فرض لمونځ وي نو د لمانځه نه وروسته وارد شوي اذكار ويېل مستحب دي

- «أَسْـتَغْفِرُاللهَ، أَسْـتَغْفِرُاللهَ، أَسْـتَغْفِرُاللهَ، اللَّهُـمَّ أَنْـتَ السَّـلَامُ وَمِنْـكَ السَّـلَامُ، تَبَارَكْـتَ ذَا الْجَـلَالِ وَالْإِكْرَامِ».

- بيادي( سبحان الله والحمدلله والله اكبر) دري ديرش(۳۳) ځل اوايي، چه ټول نهه نوي(۹۹) ځل برابريږي، او په دي ويېلو سره به سل (۱۰۰) پوره كړي،(لااله الا الله وحده لا شريک له، له الملک وله الحمد وهوعلى كل شي قدير).

- بيا دي ايت الكرسي اوايي: (اللّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ لاَ تَأْخُذُهُ سِنَةٌ وَ لاَ نَوْمٌ لَّهُ مَا فِى السَّمَاوَاتِ وَمَا فِى الأَرْضِ مَن ذَا الَّذِى يَشْفَعُ عِنْدَهُ إِلاَّ بِإِذْنِهِ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَ لاَ يُحِيطُونَ بِشَىْءٍ مِّنْ عِلْمِهِ إِلاَّ بِمَا شَاء وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمَاوَاتِ وَ الأَرْضَ وَ لاَ يَؤُودُهُ حِفْظُهُمَا وَ هُوَ الْعَلِىُّ الْعَظِيمُ) او بيا دي (قل هو الله احد) او (قل أعوذ برب الفلق) او ( قل أعوذ برب الناس) اوايي.

## ضروري يادونه:

دا خبره مخکي تېره شوه چه دلمونځ دصحيح شرطونو نه دا دی چه وجوبا د عورت(شرمګاه) پټول ضروري دي، نو لمونځ ګذار دي ډېر خيال ددي وساتي چه عورت(شرمګاه) يي ښکاره نه شي، دلمونځ په حالت کي ځکه دي سره لمونځ باطلیږي.





- کله چه مقتدي امام سره لمونځ کوي،نو هغه له دا مشروع دي چه د امام ښي طرف ته ودريږي،او ګيټي به د ګيټيو سره برابروي، نه دي ورنه مخکي کيږي او نه د ورنه روسته کيږي، او همدارنګه کله چه په صف کي نورو لمونځ ګذارو سره ولاړ وي همداسي به ودريږي



## دلمونځ مختصره خلاصه:

| نوم | حکم | وخت | عدد | طريقه/صفت |
| --- | --- | --- | --- | --- |
| دجمعي لمونځ | فرض | دماسپښين دلمونځ وخت | دوه رکعته | دجمعي لمونځ جهري وي، او دري کسانو يا دري نه ډيرو باندي جماعت سره اداء کيږي. |
| دکسوف لمونځ | فرض کفايي | دخسوف وخت | دوه رکعته | دوه رکعته جهري لمونځ دي او هر رکعت کي دوه رکوع ګاني وي. |
| دوتر لمونځ | سنَّةٌ مؤكَّدةٌ | دماسخوتن د لمانځه نه ورسته تر سهاره پوري | د يو نه تر يوولس پوري (۱-۱۱) | يا:<br>- يا يو رکعت وي<br>- دري رکعته: متصل وي او صرف اخري تشهد کي به کيني او يا به دوه رکعته بعد سلام وګرځی بيا به يو رکعت وکړي.<br>- پنځه رکعته: په يو تشهد سره يعني اخري تشهدته به کيني.<br>- اووه رکعته: په اوم رکعت کي به صرف تشهد ته کيني.<br>- نهه رکعته: اتم رکعت کي به تشهد ته کيني او بيا به نهم رکعت ته پاڅيږي بغير د سلام ګرځولو، او نهم رکعت کي به تشهد وکړي او سلام به وګرځوي.<br>- دوه دوه رکعته او بيا يو |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | | | | ركعت وتر. |
| دسهار سنت | سنَّةٌ مؤكَّدةٌ | دلمانځه نه مخكي | دوه ركعته | اول ركعت كي به سورت كافرون او دويم ركعت كي به سورت اخلاص اوايي. |
| دماسپښين سنت | سنَّت | ځلور دلمانځه نه مخكي او دوه ركعته دلمانځه نه وروسته | ٤/٢ | دوه دوه ركعته بيل بيل. |
| دماښام سنت | سنت | دماښام دلمانځه نه وروسته | دوه ركعته | اول ركعت كي به سورت كافرون او دويم ركعت كي به سورت اخلاص وايي |
| دماسخوتن سنت | سنت | دماسخوتن دلمانځه نه وروسته | دوه ركعته | |
| تراويح | سنت | دماسخوتن د لمانځه نه تر سهاره پوري | ددوه ركعتو نه تر لس ركعته پوري(١٠/٢) | |
| تحيَّة المسجد | واجب | جومات ته دننه كيدلو وخت كي د كيناستلو نه مخكي. | دوه ركعته | |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ضحی (چاشت) لمونځ | سنت | لمر د اوچتیدو نه تر زوال نه لږ مخکي پوري. | ددوه نه تر اته رکعتونو پوري | |
| استخاره | سنت | هر وخت کي | دوه رکعته | دسلام ګرځولو نه مخکي به داستخاري دعاء وايي |
| داستسقاء لمونځ | دضرورت په وخت کي سنت دي | لمر ديوي نيزي برابر اوچتيدو نه. | دوه رکعته | په اول رکعت کي به د اختر دلمونځ په رنګه اووه تكبيرونه كوي سره دتكبيرتحريمي، او په دويم ركعت كي به پنځه تكبيره كوي بغير د تكبير انتقال نه. |
| اختر لمونځونه | سنّت | لمر ديوي نيزي برابر اوچتيدو نه. | دوه رکعته او دوه خطبې | په او ل رکعت کي به دتكبير تحريمه سره اووه تكبيرات وكړي، او په دويم كي پنځه تكبيرات بغير دتكبير انتقال نه. |

دعاء نفلو اداء کولو ممنوع وختونه:

۱) دطلوع فجر نه د لمر ديوي نيزي برابر اوچتيدو پوري..

۲) دمازيګر د لمونځ نه تر غروب (لمرپريوتو) پوري.

۳) لمر چه کله داسمان منځ برابر وي او مائل شوي نه وي.(تر زوال پوري).

## دلمونځ متعلق سوالونه

۱. دلمونځ څو شرطونه دي ؟ O نهه. O يوولس. O اته.

۲. دلمونځ شرطونو کي د اسلام شرط غلط دي ځکه لمونځ خو مسلمان کوي کافر يي نه کوي، ( صحيح- غلط).

۳. تمييز نه مراد بلوغ دي. (صحيح- خطا).

٤. دناپاکی لري کولو کي بدن ځاي او کپړي شامل دي. ( صحيح – غلط).

٥. دخنزير نجاست: O مُغلَّظةٌ. O متوسِّطةٌ.

٦. مني نجس دي ځکه په وتلو باندي غسل واجب دي. (صحيح – غلط).

۷. په منو باندي اوبه چنکاو کولو او وينځلو کي فرق نشته. (صحيح – غلط).

۸. مرداري تولي نجسي دي. (صحيح- غلط).

۹. دسپي په نجاست کي بغير د خاوري هم پاکوالي حاصليږي او د پاکوالي لپاره نوي وسائل استعمالول کافي دي.(صحيح- غلط).

۱۰. دکوم شي نه چه بچ کيدل مشکل وي هغه اکثره کورونو ته دننه کيږي او باهر کيږي، ددي وجي نه د ځيني خلکو په نظر پيشو پاکه ده او ځيني خلکو په نظر نا پاکه ده. ( صحيح – غلط).

۱۱. کوم نفس چه د بهيدلو والا نه وي، هغه روح وي. (صحيح – غلط)

۱۲. په رګونو کي پاتي شوي وينه: O نجسّه ده . O پاکه ده.

۱۳. دلمونځ څو ارکان دي ؟ O څوارلس. O نهه. O اته.

۱٤. تکبیر تحریمه رفع الیدین دي (لاس اوچتول). (صحیح – غلط)

۱٥. که چرته یي کوم رکن لمانځه کي په سهو سره پریښودلو نو هغه باندي صرف سجده سهوه ده. (صحیح – غلط)

۱٦. دلمونځ څو واجبات دي ؟ O اته. O څوارلس O نهه.

۱۷. چاچه په سجده دا دعاء اویله: (سُبُّوحٌ قُدُّوسٌ رَبُّ الْمَلَائِكَةِ وَالرُّوحِ)، په داسي حال کي چه هغه پوهیدلو چه یو ځل (سبحان ربي الاعلی ویل واجب دي، نو لمونځ یې باطل شو.(صحیح – غلط).

۱۸. په لمونځ کي دا جائز دي چه د ښي لاس ورغوي د کس لاس په ورغوي باندي کیدي،(صحیح – غلط).

۱۹. قراءت په جهر باندي دفرض لمونځ اولني رکعتونو کي وي کله چه دشپي لمونځ وي،او هر لمونځ لپاره د اخترونو د لمونځ په رنګه اجتماع ضروري ده. (صحیح – غلط).

۲۰. دلمونځ باطلونکي شیان څومره دي ؟ O اته. Oنهه. O څوارلس.

۲۱. تورک یه کوم تشهد کي وي: O اول O اخري. O دا کوم چه ذکر شو تولو کي.

۲۲. ربنا لک الحمد کي د شکر لفظ ویلو حکم: لکه ( ربنا لک الحمد والشکر) ویل O جائزة. O مُستحبَّ. O حرامٌ.

۲۳. ددواړو سجدو منځ کي رب اغفرلي ولوالدي ) ویل:

O جائزٌ. O حرام. O مَکروهٌ.

۲٤. په سجده کي ځنګلي په ځمکه باندي کیښودل:

O حرام O مُستحَبٌّ. O مَکروهٌ.

۲۵. دسجده سهو څو اسباب دي ؟ O دوه. O دري. O څلور.

۲٦. دکار کيدلو نه وروسته شک اثر نه کوي ،همدارنګه چه کله شکونه ډير هم وي.
(صحيح – غلط).

۲۷- دسهار د سنتو فرق او خاصوالی د نورو سنت راتبه باندي په فضل کي ، کموالي کي،او خاص قراءت کي. په سفر کي وربانديي اهتمام کولو دوجي ددي د اداء کولو نه وروسته کور کي لږ ارام کولو په وجه دي.(صح – خطأ)

۲۸-دلاندي مسئلو حکم بيان کړه::

| مسئله | حکم |
|---|---|
| څوک چه دين ته کنذلي کوي دهغه لمونځ | |
| دنشي حالت کي لمونځ | |
| د زهايمر د مريض لمونځ | |
| دماشوم (صغير) لمونځ | |
| چاچه په هيره باندي بغير اودسه لمونځ وکړو | |
| په هيره باندي يي نجسه کپړو کي لمونځ وکړو | |
| دغوا متيازي | |
| دکارغه متيازي | |
| په لمونځ کي دواړه پندی ښکاره وي. | |
| دوخت نه مخکي په هيره باندي لمونځ کول | |
| په جهاز کي لمونځ کول | |
| دوقت دفرض کيدلو نيت | |
| په ناسته لمونځ | |
| سورت فاتحه ورنه هيره شوه | |

| | |
|---|---|
| امام سره ركوع كي يو ځاي شو | |
| لمونځ كي جلدي او تيزي كول | |
| ډير شكونو والا انسان ته د لمونځ نه بعد لمونځ كى شك پريوتل | |
| دتكبير تحريمه نه وروسته په اودس كي يي شك پيدا شو | |
| په غلطى كي يوه ركوع اضافي وكړه | |
| تكبير تحريمه يي پريښوده | |
| اولني تشهد يي پريښودلو | |
| اخرني تشهد يي پيښودلو | |
| شك يي پيدا شو چه دري او كه څلور ركعته يي وكړل. | |
| دلمونځ نه بعد يي شك شو. | |
| دلمونځ دوران كي شك شو. | |
| په سهو كي سهو شو | |
| په لمونځ كي په هيره باندي خبري وكړي | |
| لمونځ يي وكړو او د لمونځ نه بعد ورته معلومه شوه چه عورت(شرمګاه) يي ښكاره وه. | |
| دلمانځه ته وتلو نه مخكي كور كي طهارت حاصلول | |
| اخستل خرڅول په مسجد كي. | |
| دپيسو بدلول مسجد كي. | |
| امام سره اخري تشهد كي يوځاي شو. | |
| په لمونځ كي ستره كيښودل | |

| | |
|---|---|
| معمولي بل طرف ته مايله کيدل،. | |
| بل طرفته ډېر مايله کيدل. | |
| په ديروالي سره اخوا ديخوا متوجه کيدل | |
| په تشهد کي درود ابراهيمي ويېل. | |
| لمونځ کي خبري کول. | |
| لمونځ کي حرکت کول. | |
| سورة الفاتحه ورنه هيره شوه. | |
| دجمعي لمونځ | |
| دوتر لمونځ | |
| تحية المسجد | |

۲۹-دشرط رکن واجب او سنت منځ کي فرق بيان کړه:

| شرط | رکن | واجب | سُنت |
|---|---|---|---|
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |

# دولسم درس

## داودس شرطونه

داودس لس (۱۰) شرطونه دي:

۱- سلام. ۲-عَقْلُ.

۲- تَّمْيِيزُ. ٤-نیت.

٥- داودس مکمل کیدلو پوري دنیت ساتل.

٦- داودس په حالت کي داسي کارونه نه کول په کوم چه اودس ماتیږي.

۷- داودس نه مخکي استنجاء یا استجمار کول ( دقضاء حاجت په صورت کي)..

۸- داوبو پاکوالي او مباح کیدل.

۹- دهر هغه شی اخوا کول کوم چه اوبه پوستکي ته رسولو نه منع کوي.

۱۰- دوخت داخلیدل د هغه چا لپاره د چاچه بار بار اودس ماتیږي

## دځینو شرطونو تفصیل(شرح):

- دا شر ط چه:(داودس مکمل کیدلو پوري دنیت ساتل) معنی چه نیت به د اودس د شروع نه تر اخره پوري وي.
- دا شر ط چه:(داودس په حالت کي داسي کارونه نه کول په کوم چه اودس ماتیږي) یعني داسي دي نه کوي چه اودس هم کوي او د اوښ غوښه هم خوري،او یا متیازي کوي، بل خامخا باید اول داسي کارونو نه ځان فارغ کړي چه اودس وربانديي ماتیږي، بیا د اودس شروع کړي.
- دا شر ط چه:(داودس نه مخکي استنجاء یا استجمار کول) ددی نه دوه حالته مستثنی دي او هغه داچه ددي ضرورت نشته په دوه حالتوکي یو هغه وخت کي چه کله اودس د هوا خارجیدلو او یا دخوب او یا داوښ دغوښي دوجي نه کوي .

- دا شرط چه: (داوبو پاکوالي او مباح کيدل) معنی دا چه په ناپاکه اوبو به اودس نه کوي،
- دا شرط چه: (دهر هغه شی اخوا کول کوم چه اوبه پوستکي ته رسولو نه منع کوي لکه وږه شو،او یاد نوکانو رنګونه شو، ځکه دا پوستکي ته اوبه درسولو نه منع کوي.

## فطري(طبيعي) سنتونه:

دفطري سنتونونو نه:

١- ختنه: (ماشوم سنت کول) دا دسړو په حق کي واجب دي، او د ښځو په حق کي سنت دي که حاجت يي ورته وو

٢/٥- دبريتونو لنډول: واړه کول، او د نوکانو کټ کول، او د تخرګونو ويښته ويستل، او د نامه نه لاندي ويښته صفاکول. د انس رضي الله تعالی عنه نه روايت دي چه فرمايي چه رسول الله ﷺ زمونږ لپاره د ويښتو کټ کول او نوکانو کټ کول، او د تخرګونو او دنامه نه لاندي ويښتو دصفا کولو لپاره څلويښت ورځي وخت ښودلي وو،چه د څلويښتو شپو نه ډير يي ونه ساتو. نو حاصل دادي چه دا ويښته بايد دڅلويښت شپو نه ډير پاتي نه شي

٦- دږيري پريښودل(ساتل): دږيري ساتل واجب دي او خريل يي د غټه ګناه ده

٧- مسواک وهل: او دا دمسواک هغه لرګي دي چه دغاښونو د صفايي لپاره استعماليږي، او مسواک استعمالول سنت دي،او هر وخت کي وربانـدي تاکيد کړي شوي دي، داودس په وخت کي د لمونځ په وخت کي، کور ته دننه کيدو وخت کي، د قران کريم د تلاوت په وخت کي، دخوب نه د پاخيدلو وخت کي، او د مرګ په وخت کي ، اوهمدارنګه چه کله د خولي بوي خراب شي

# دیارلسم درس

## داودس فرضونه

داودس شپږ فرضونه دي:

۱- دمخ وينځل اودي سره خولي او پوزي ته اوبه اچول هم شامل دي.( مضمضة او استنشاق)..

۲- دلاسونو وينځل دبندونو سره.

۳- دټول سر مسح کول او دی کي غوږونه هم شامل دي.

٤- دښپو وينځل د ګټيو سره.

٥- ترتيب سره ټول اندامونه وينځل.

٦- پرله پسي د اندامونو وينځل.

د مخ او لاسونو او ښپو دري ځل وينځل مستحب دي، او همدارنګه مضمضة(خولي ته اوبه اچول) او استنشاق(پوزي ته اوبه اچول) او يو ځل وينځل فرض دي، او د سر مسح ديو نه ډير ځل کو ل مستحب نه دي لکه څنګه چه صحيح حديثونه کي وربانـدي دلالت کوي

## موالاة (ترتيب)

دترتيب نه مطلب دادي چه ديو عضو وينځلو نه وروسته بل عضو وينځلو پوري دومره فاصله بايد نه وي چه اولني عضو وچ شي.

# خوارلسم درس

داودس ماتونكي

داودس ماتونكي كارونه شپږ (۶) دي:

۱- ددواړه شرمګاهو نه د کوم شی وتل..

۲- جسم نه كافي مقدار باندي ناپاک څه شي وتل.

۳- د اوده كيدو يا دبل څه په وجه دعقل زائله كيدل.

٤- بغير د كومي پردي شرمګاه مسح كول،كه مخكي وي او كه شاته.

٥- د اوښ غوښه خوړل.       ٦- د اسلام نه اوختل(مرتد كيدل)..

ضروري انتباه:

هر چه  مړي له غسل وركول دي صحيح خبره داده چه دي سره اودس نه ماتيږي،او دا د اكثره اهل علمو قول دي،ددليل د نشتوالي په وجه،چه په دي كوم دليل نشته،ليكن كه چرته د غسل وركونكى لاس بغير د پردي نه د مړي شرمګاه سره ولګيدو نو اودس پري واجب شو،او هغه له دا پكار دي چه د مړي شرمګاه له بغير د پردي لاس ورنه وړي.

همدارنګه د علماو دوه صحيح اقوالو مطابق  دښځي مسح كول باندي اودس نه ماتيږي كه شهوت  دوجي نه وي او كه بغير د شهوت نه، تر څو چه دشرمګاه نه څه شي خارج نه شي. ځكه رسو ل الله ﷺ ځيني بيبياني شكل كړي  او بغير د اودسه يي لمونځ اداء كړو.

اما هر چه  د الله تعالى دا قول دي چه (أو لامستم النساء) نو ددي نه مراد په صحيح قول د علماو وسره جماع او همبستري ده، او دا ابن عباس رضي الله تعالى عنه  او دسلفو او خلفو علماو قول دي.

## دځینو نواقضو (اودس ماتونکي شیانو) تفصیل:

- دا قول چه: (ددواړه شرمګاهو نه د کوم شی وتل) عام طور باندي لکه تشي او ډکی متیازي، مني ، مذي، ودي، هوا،کاڼي، وینه، چینجي، دحیض او نفاس وینه
- دا قول چه: (جسم نه کافي مقدار باندي ناپاک څه شي وتل) راجح قول دادي چه دا اودس ماتونکي نه دي مګر چه د تشو او ډکو متیازو د جنس وي.بیا ماتونکي دي.
- دا قول چه: (د اوده کیدو یا دبل څه په وجه دعقل زائله کیدل) اصل کي خوب بذات خود داودس ماتونکي نه دي، مګر کله چه داسي خوب وي چه هوا وتلو احتمال پکي وي،که چرته یي په ځان یقین وو او دا شعور یي وو چه څه شي نه دي خارج شوي نو بیا دوادس ماتونکي نه دي.
- دا قول چه: (بغیر د کومي پردي شرمګاه مسح کول،که مخکي وي او که شاته) شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله دي تایم کي اودس مستحب ګرځولي دي واجب نه.

## داودس مختصره طریقه په تصویر کې:

- چه کله د اودس اراده (نیت) وکړی نودا مشروع خبره ده چه بسم الله اویې.
- بیا دې خپل لاسونه درې ځل وینځې ا و اوبه دې پرې واچوې .
- بیا دې ښې لاس (لپه) کې اوبه واچوې او خولې ته دې واچوې او خوله کې دې واړوې راواړوې، بیا دې پوزې ته اوبه واچوې، او بره دې کش کړې،داسې حالت کې چه غټه ګوته او ورپسې ګوته باندې به یې پوزه نیولې وي، او دا دې درې ځل وکړې.
- بیا دې مخ درې ځل وینځې، او د مخ حدود دتندې نه د ویښتو شروع کیدلو ځاې نه تر د زنې اخره پورې،په اوږودوالې باندې، او دې بل طرف نه دغوږونو ترمنځ یعنې دیو غوږ نه تر بل غوږ پورې.
- بیا د لاسونه د څنګلو سره دې درې ځل وینځې او شروع به د ښې لاس نه کوې.بیا ګس لاس.
- بیا د سر مسح کړې،لاسونه به د تندې نه (دویښتانو دشروع) نه په سر باندې تیرکړې تر څټ پورې، او بیا به یې واپس راولې خپل ځاې ته.
- بیا به داشارو والا ګوته ددواړو لاسونو په غوږونوکې کیدې او مسح دې کړې
- بیا دې ښپې سره د ګټیو درې ځل وینځې.







– او د اودس نه د فارغیدلو نه بعد دي دا دعاء اوایي: «أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ»، وفي التِّرمذيِّ: «اللَّهُمَّ اجْعَلْنِي مِنَ التَّوَّابِينَ وَاجْعَلْنِي مِنَ الْمُتَطَهِّرِينَ».

## دمشروع(جائز) مقدار نه ډيروالي کول

په اودس کي د جائز شوي اندازي نه د یوشي ډیرول جائز نه دي، لکه ددري ځل نه ډير وينځل او يا د څنګلو دپاسه متې هم وينځل، يا د ګټيو دپاسه پنډۍ هم وينځي، او يا مرى باندي مسح وکړي.



ځيني خبري چه داسلام دارکانو سره يي تعلق دي.

## اول: طهارت(پاکوالي)

### تيمم:

دا د اوبو بديل دي، کله چه اوبه نه وي، يا د اوبو په استعمال دبدن کوم عضو ته ضرر رسيږي،دغه رنګه چه کله انسان د اوبو د استعمال نه معذوره شي نوبيا خاوره داوبو په ځاي استعماليږي.

### دتيمم طريقه:

دتيمم نيت به وکړي،بيا به بسم الله اوايي،بيا به دواړه لاسونه په ځمکه يو ځل اوهي بيا به مخ او لاسونه بهر طرف باندي مسح کړي..



او دځمکي وهلووخت کي ګوتي کولاول نه دي پکار اونه د
لاسونو دمسح کولو وخت کي دګوتو خلال شته



دواجب غسل طریقه:

دغسل او دجنابت دلري کیدلو نیت به وکړي،بیا به بسم الله اوايي،بیا به خوله کي اوبه واچوي مضمضمه به وکړي او بیا به پوزه کي اوبه واچوي استنشاق به وکړي، او دټول بدن او د ویښتو بیخ ته اوبه ورسوي.

دغسل سنتونه:

ددواړو شرمګاه وينځل،بیا لاسونه وینځل، بیا به داسي اودس وکړي لکه لمونځ ته چه يي کوي،او دسر ویښته به وینځي بیادي ښي طرف وینځي او بیا ګس طرف ، بیا به ښپي وینځي.

دغسل واجبونکي کارونه

١) جنابت: دوطي او یا په بل کومه طریقه دمني وتل، اویا همبستري کول.
٢) دحیض او نفاس دویني وتل.
٣) دشهيد نه علاوه دبل چا مره کیدل.

## په موزو(جرابو ) دمسح کولو:

موزي (جرابي ) به يي دپاکوالي حالت كي اچولي وي، يعني په اودس كي به يي ښپې په اوبو وينځلي وي.

موزي،جرابي بايد پاكي وي.

ددواړو ښپو له به پټونكي وي ساتري به وي

مسح به دحدث اصغر يعني وړوكي اودس حالت كي وي، جنابت كي او هر هغه څه چه غسل واجبوي د هغه په ځاي مسح نه كيږي.

دشريعت مطابق محدود وخت پوري مسح كول دي، لكه يوه ورځ او شپه د مقيم لپاره(۲۴ساعته) او دري ورځي او دري شپې د مسافر لپاره (۷۲ ساعته) او د وخت شروع دبي اودسي نه وروسته اولني مسح نه شروع كيږي.

### په خفبن (جورابو) باندي د مسح کولوطريقه):

خپل لاس به د ښپو د ګوتو نه تر پندۍ پوري راښكاږي، يعني د موزو بره طرف باندي به مسح كوي، د خپو د ګوتو نه د پنډيو پوري به لاس وربا‌ندي تيروي،او په دواړو لاسونو به ددواړو ښپو مسح كيږي،يعني ښي لاس دښي ښپې لپاره او كس لاس د كسي ښپې لپاره. او په يو وخت كي به يي مسح كوي، لكه څنكه چه دغوږونو مسح كوي،او دا ظاهري سنت نه ثابت دي.

### د مسح كولو  مسائل

۱- دمسح د وخت ختميدلو او يا چه په څه باندي يي مسح كړي وي (موزه) لري كولو سره اودس نه ماتيږي اودس يي په ځاي وي.

۲- شليدلي موزه يا  نرۍ موزه چه د نري والي دوجي نه پكي پوستكي ښكاري مسح كيدلي شي.

## دقضاء حاجت اداب:

مستحب کارونه:

- کله چه څوک بیت الخلاء ته دننه کیږي نو خپله کسه ښپه به مخکي کړي، او دا دعاء به اوايي:: «بِسْمِ اللهِ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْخُبْثِ وَالْخَبَائِثِ».
- او د بهر راوتلو وخت کي دي خپله ښي ښپه مخکي کړي او دا دعاء دي اوايي: «غُفْرَانَكَ».

او دا ورله ضروري دي واجب دي چه خپل ځان په ديوال يا په بل څه باندي پټ کړي، او كه خالي ځاي کي وي نو بيا بايد چه لري لاړشي.

ناجائز کارونه:

- په لاره کي قضاء حاجت پوره کول، او يا د خلکو د ناستي په ځاي کي ،او يا د ميوه داري ونی لاندي، او يا په داسي ځاي کي چه خلکو ته ورنه تکليف وي، او يا ډلاړو جمع شوي اوبو کي..

- دقضاء حاجت په وخت قبلي ته مخ کول ياشا کول.
- شرمګاه په ښي لاس باندي مسح کول.
- د الله تعالى ذکر.

کله چه يي حاجت پوره کړو، نو بيا دي په اوبو باندي استنجاء وکړي، او يا دي په لوټه باندي صفا کړي،

په لوټه باندي دصفايي حاصلولو شرطونه:

- دري يا دري ځل نه زيات صفايي دي وکړي. او يوه لوټه دي بار بار نه استعمالوي.
- مکمله صفايي دي وکړي، او ددي نښه به دا وي چه لوټه يا ټيشو پيپر به ډچ وي.
- استجمار بايد نجس شي باندي نه وي،او يا محترم شی باندي لکه روټی، و يا هډوکي باندي او يا سپياکو باندي.

او په ولاړه متيازي کول هم جائز دي په دي شرط چه بدن ته او کپړو ته ورنه څاڅکي ونه شي او عورت يي ښکاره نه شي،( اتى سباطة قوم فبال قائما) متفق عليه.

## دطهارت (پاکوالي) متعلق سوالونه

۱. داودس څو شرطونه دي ؟ O نهه. O لس.O اته.

۲. داودس فرضونه:

O څلور اندامونه . O څلور اندامونه او ترتیب او موالاة.

۳. داودس ماتونکي څو دي ؟ O شپږ. O پنځه. O اته

٤. لاندې شیانو کي اودس ماتونکي شیان بیان کړي:

O داوبښ غوښه. O دهرن (غزال) غوښه .

O دخیټې اواز . O هوا وتل . O خوب. O مړي لـه غسل ورکول .

O دښځي مسح کول.

٥. دتیمم طریقه ذکر کړه:

..........................................................................

..........................................................................

..........................................................................

٦. دغسل طریقه ذکر کړه:

..........................................................................

..........................................................................

..........................................................................

۷. دلاندي ذکر شوي مسائلو حکمونه ولیکه:

| الحكم | المسألة |
|---|---|
| | لفظي نيت( په ژبه باندي نيت كول) |
| | په يو اودس باندي ديو وخت لمونځ نيت کړي وو بيا يي پري ډير لمونځونه وکړل. |
| | دقران تلاوت لپاره يي اودس وکړو بيا يي لمونځ هم په هغه اودس وکړو |
| | داودس دوران کي يي نيت ختم کړو |
| | داودس نه وروسته يي نيت ختم کړو |
| | اودس يي وکړو خو پنډي باندي يي وره وو |
| | اودس يي کولو او د اوښ غوښه يي هم خوړله |
| | غلا شوي اوبو باندي يي اودس وکړو |
| | داستنجاء نه مخکي يي اودس وکړو |
| | دغوړنو لپاره يي نوي اوبه راواخستلي |
| | دسر مسح يي دري ځل وکړه |
| | يو يو ځل وينځل |
| | دري دري ځل وينځل |
| | په اودس کي د لاسونو وينځل |
| | دږيري خلال كول |
| | داندام رګړول سولول وينځلو وخت کی |

| | |
|---|---|
| دکوم عضو چه وینځل فرض دي په هغي مسح کول | |
| دسر وینځل | |
| په لوښي کي لاسونه دننه کول | |
| په اودس کي د ښي طرف نه شروع کول. | |
| ددري ځل نه ډیر وینځل | |
| دپنډۍ وینځل | |
| دلامبلو نه وروسته لمونځ کول | |
| دغسل نه وروسته بغیر د اودسه لمونځ کول. | |

## دويم :د زكات بيان

او دا په دوه قسمه دي:

### دمال زكات

اودا داسلام دريم ركن دي،اودا په هر ازاد مسلمان چه دنصاب مالک وي واجب دي،او په مال کي زكات نشته تر هغه پوري چه يوكال وربادني نه وي تير شوي، او يا دزمكي پيداوار وي،او يا چه تابع د اصل وي لکه د نصاب زياتيدل او دتجارت نفع،نو ددي كال داصل په اساس حسابيږي، او ددي څلور قسمه دي:

### دبدن زكات

او دا زكات الفطر دي، چه په هر مسلمان غټ،وړوكي،نر او ښځه غلام او ازاد باندي واجب دي.

### دوه قسمه نقد:

سره زر او سپين زر او يا څه چه ددي په ځاى استعماليږي لکه سيكي پيسي او داسي نور..

د سرو زرو نصاب: ٢٠ مثقال دي چه (٨٥ گرام) سره زرو سره برابر دي.

دسپينو زرو نصاب: ٢٠٠درهم دي چه ٥٩٥ گرام سره برابريږي

### خريدونكي څناور:

هغه څناور چه ډير يا پوره کال خريږي، او د څناوره نه مطلب اوښ، غوا او چيلى ده

### دځمكي پيداوار:

لکه : غله (داني ) او ميوى

### عروض التِّجارة

هر هغه شئ چه د اخستلو او خرڅولو لپاره تيار کړي شوي وي.

## دزکات مستحقين(اهل):

١. فقیران: دا هغه ضرورت مند خلک دي چه د هغوي سره هيڅ شي هم نه وي او يا د ضرورت مطابق ورسره لږ څه وي.

٢. مسکينان: دا هغه خلک دي چه دضرورت مطابق نه لږ ډير مال ورسره وي او يا دضرورت نيم برابر،که چرته د کال اندازه ١٢٠٠٠ ولګوو نو بيا فقير هغه څوک دي چه چا سره ٦٠٠٠ نه کمي وي او يا هيڅ هم نه وي ورسره. او مسکين هغه دي چه چا سره ۶٠٠٠ وي يا ددي نه ډيري وي خو ١٢٠٠٠ نه کمي وي. نو فقير اومسکين ته دومره اندازه به ورکولي شي چه ديوکال لپاره يی کافي وي، ځکه چه زکات په کال کي يو ځل فرض دي.

٣. دزکات په مال باندي کار کونکي خلک: او دا هغه خلک دي چه ياپي ذمه دار دي، يا يي ساتونکي دي،يا تقسيمونکي دي،يا هغه څوک چه د وخت حاکم هغه مسئول ګرځولي دي، او په دي قسم کي د فقر او غربت شرط نشته، بلکه ورکول کيږي به اګر که مالداره هم وي.

٤. تاليف قلب (مولفة القلوب: دا هغه څوک دي چه چانه اسلام کي دداخليدلو اميد کيږي يا يي دشر نه دځان ساتلو، او يا ديو چا ايمان دتقويت په خاطر ورکول کيږي

٥. **في الرِّقاب**: او دا:

أ. هغه مسلمان غلام چه دخپلي ازادی لپاره خپل بادار (سيد) له پيسي ورکول غواړي.

- دمسلمان غلام د ازادولو لپاره
- دمسلمان قيدي لپاره

او په دي حکم کي هغه نه دي شامل کوم چه سيد بادار يي ازاد کړي او هغه بيا زکات کي حساب کړي دا جائز نه دي.

٦. **الغارمون**: (قرضداري)::

أ. هغه چه اختلاف ختمولو (اصلاح) په خاطر قرضداري شوي وي.

ب. خپلي فايدي لپاره قرضدار وي.

دزکات په نيت باندی د هغه قرض نه شي معاف کول.

۷. **في سبيل الله**: په دي حکم کي هغه څوک شامل دي چه کوم داسلام ددفاع لپاره جنګيږي، او کوم څه ته چه يي ضرورت وي لکه اسلحة وغيره.

۸. **ابن السَّبيل**: دی نه مراد هغه مسافر دي د کوم چه په لاره کي خوراک او نفقه ختمه شوي وي نودي له د زکات دمال نه دومره ورکول جائز دي چه کوم دا خپل کورته ورسوي.

ذکرشوي خلکو کي يو کس له ورکولو باندي اکتفاء کول هم جائز دي، همدارنګه زکات مالداره او تندرست چه کوم مال ګټلي شي، او درسول الله ﷺ په آل چه بنوهاشم دي، او دهغوی خپلوان،او يا چه د چا دربانديي نفقه واجب ده او يا کافر له ورکول جائز نه دي . اما نفلي صدقي نو هغه ورکول جائز دي دوی ته او نورو ته،ليکن څومره چه نفع خاص اوعام ته ورسيږی بهتره ده.

## ضروري اصطلاحات (تعريفونه)

- بنت المخاض: دا داوښ هغه بچي دي د کوم چه يو کال پوره شوي وي،او بنت مخاض ورته ځکه وايي چه دده مور حامله وي.

بنت اللَّبون: دا د اوښ هغه بچي دي چه ددوه کلونو وي،بنت لبون ورته ځکه وايي چه مور يي پی (شوده) ورکوي.

- الحِقَّة: دا داوښ هغه بچي دي کوم چه ددري کلونو وي.
- الجذعة: دا داوښ هغه بچي دي کوم چه د څلور کلونو وي، دا ورته ځکه وايي چه دي عمر کي مخکيني غاښونه راوځی.
- التَّبيع أويا التَّبيعة : دا هغه غوا ده چه د يوکال وي.
- المُسنَّة : هغه غوا ده چه دوه کاله يي پوره شوي وي.

## دزکات اندازه:

| مالونه | کال | نصاب/اندازه | دزکات مقدار |
|---|---|---|---|
| څريدونکي حيوانات | شرط دي | دويم جدول وګوره | دويم جدول وګوره |
| دځمکي پيداوار(دځمکي نه راوتونکي شيان | شرط نه دي | ۳۰۰ صاعٍ | چه کوم اسماني باران يا چينو باندي اوبه کيږي هغي کي لسمه حصه (عشر) دي |
| | | | کوم چه خرچ کړي شوي اوبو باندي وي د عشر نيمه حصه ده.يعني د لسمي نيمه حصه. |
| | | | کوم چه دي دواړه شيانو باندي اوبه شوي وي په هغي کي دريمه حصه د عشر ده. |
| نقدي شيان( سره زر سپين زر يا نقدی او يا ددی معنی کي شيان) | شرط دي | ۸۵ ګرامه سره زر<br>۵۹۵ ګرامه سپين زر | څلورمه برخه (ربع العشر) |
| تجارتي مال ( تجارت په نيت تيار شوي مال) | شرط دي | دفقيرانو حصه به د سرو او سپينونو په اندازه لګوي | څلورمه برخه (ربع العشر) |

## دخریدونکو حیواناتو دزکات حد او اندازه:

دخریدونکو حیواناتو دزکات حد او اندازه:

### الغنم: ضأن ، ماعز(ګډي بیزي)

| اندازه: من | اندازه: إلى | زکات |
|---|---|---|
| ٤٠ | ١٢٠ | بیزه |
| ١٢١ | ٢٠٠ | دوه بیزي |
| ٢٠١ | ٣٠٠ | دري بیزي |

بیا په هر ١٠٠ کي

په صدقه کي به سیرلي او بوډا زوړ او نه عیبجن او نه بیکاره مال اخستل کیږي

او همدارنګه به صچقه کي نه اخستل کیږي: کمزوري، او نه حامله، او نه د ډیر خوراک والا، او نه دتولو نه بهترین مال.

### اوښ : ( یو یا دوه کوپي والا)

| اندازه: من | اندازه: إلى | زکات |
|---|---|---|
| ٥ | ٩ | بیزه |
| ١٠ | ١٤ | دوه بیزي |
| ١٥ | ١٩ | دري بیزي |
| ٢٠ | ٢٤ | څلور بیزي |
| ٢٥ | ٣٥ | بنت مخاضٍ |
| ٣٦ | ٤٥ | بنت لبونٍ |
| ٤٦ | ٦٠ | حقّةٌ |
| ٦١ | ٧٥ | جذعةٌ |
| ٧٦ | ٩٠ | دوه بنت لبونٍ |
| ٩١ | ١٢٠ | دوه حقة |
| ١٢١ | ١٢٩ | دري بنت لبونٍ |

بیاپه هر څلویښتو کي یو بنت لبون او په هر پنځوسو کي یو ه حقة ، او وقص ٩ یا ددي نه ډیر

### غوا او میښي

| اندازه: من | اندازه: إلى | زکات |
|---|---|---|
| ٣٠ | ٣٩ | تبیعٌ یا تبیعةٌ |
| ٤٠ | ٥٩ | مُسنَّةٌ |
| ٦٠ | ٦٩ | تبیعتان |

بیا په هر ٣٠ کي یو تبیع او په هر ٤٠ کي یو مسنة

## دزکات متعلق سوالونه

١. چه کوم مال باندی کال تېر شوي نه وي په هغي کي زکات نه وي:
O هجري. O میلادي. O څه فرق نه کوي چه هر یو وي.

٢. دکال تېریدل دکومو شیانو لپاره لازم نه دي:
O رکاز ( دفن کړي شوي مال (خزانه). O دزمکي نه راوتلي شیان O دا ټول.

٣. د سروزرو د زکات اندازه اونصاب: O ٨٥ گرام. O ٥٩٥ گرام. O ٩٥ گرام.

٤. دسپین زرو د زکات اندازه نصاب: O ٢٠٠ درهم. O ٥٩٥ گرام. O دا ټول.

٥. بهیمة الأنعام کي اوښ غوا میښه او چیلي شامل دي. (صحیح – غلط).

٦. په میوو کي زکات نشته . ( صحیح – غلط).

٧. خریدونکي حیواناتو نه مراد: O د کوم چه ریټ ډیر وي. O کوم چه پوره کال او یا ډیر وخت څریگي

٨. مباح څریدل: O چه کوم پاک خوراک کوي O د کوم چه مالک نه وي

٩. چه کله د مسکین ذکر وشو نو فقیر پکي هم شامليږي. (صحیح – غلط).
١٠. فقیر له به دومره زکات ورکول کیږي چه یي کافي شي د: O کال. Oمیاشت.
١١. زکات باندي کار کونکي:
O هر هغه څوک چه وربانديکار کوي . O صرف هغه خلک چه حاکم (بادشا) مقرر کړي وي کار باندي.

۱۲. لاندي شيانو كي دزكات مقدار وليكئ:

| مال | د زکات اندازه | وقص كه چرته وو |
|---|---|---|
| ۱۰۰ درهمٍ | | |
| ۳۰۰ دينارٍ | | |
| ٤۰۰ درهمٍ | | |
| ۸۰ گرامه سره زر | | |
| ۵۰۰ گرام سپين زر | | |
| ۳۰ چيلى | | |
| ۶۰ چيلى | | |
| ۵۶۵ چيلى | | |
| ۴ اوښان | | |
| ۱۷ اوښان | | |
| ۴۴۹ اوښان | | |
| ۳۰ غواګاني | | |
| ۴۹ غواګاني | | |
| ۷۷ غواګاني | | |
| ۹۹ غواګانى | | |
| ۲۰ ميليون ريال | | |
| ۴۰ ريال | | |
| ۴۵۶۷۹ ريال | | |
| ۲۵۵ صاع غنم | | |

۱۳. مولفة قلوبهم کي هغه کافر هم شامل دي د کوم چه د اسلام راوړلو امید نه وي. (صحیح – غلط).

۱٤. که بادار خپل غلام ازاد کړي نو د زکات نه به ورکول کیږي . ( صحبح – غلط)

۱٥. د مالداره سړي ققیر سره څه مال دي ورنه یي غواړي، هغه مال ورته په زکات کي حسابوي او معاف کوي یي. دا کار یي صحیح دي. (صحیح –غلط).

۱٦. تول د خیر کارونو کي خرچ کول في سبیل الله کي راځي لکه مسجد جوړول . ( صحیح – غلط).

۱۷. د نقدو زکات ( سره او سپین) به ٤۰ باندي تقسیمیږي او متعین کیږي به. ( صحیح – غلط).

۱۸. په حیواناتو کي په څریدونکو حیواناتو کي زکات واجب دي ، نه په هغه چه کارونو کي پکاریږي لکه د زراعت کار کي، او هغه حیوانات چه هغي له خوراک ورکول کیږي هم نه دی واجب. (صحیح – غلط)

۱۹. ددانو (غله) او میوو فصل چه کله تیار شي او دخوراک قابل شي نوکه د زکات مقدار ته ورسیږي نو زکات ورباندي واجب دي. (صحیح – غلط).

۲۰. کومه غله (فصل) چه په خرچه باندي اوبه کیږي ( باراني نه وي) په هغی کي به د عشر نیمه اندازه به زکات کي ورکول کیږي.(صحیح-خطا).

۲۱. دسرو زرو اندازه چه کله ۲۰ مثقال ته ورسیږي نو زکات پکي واجبیږي. ( صحیح- خطا).

۲۲. کومو شیانو کي چه زکات واجبیږي دائره ورنه تاو کړه

O چرګه. O دوکان. O کډی چیلی چه خرچه ورباندي شوي وي د خوراک(څریدونکي نه وي).

O څریدونکي اوښان . O دکجورو باغ . O ۲٥ مثقال سره زر.

۲۳. تبیع هغه غوا ته وایی چه عمر یي دوه کاله نه کم وي. (صحیح – خطأ).

۲٤. د نقدي روپو نصاب به په څه شي معلوموي:

O تجارت مال باندي. O دسرو او یاد سپینو د نصاب قیمت باندي

O د سرو او سپیینو د نصاب  قیمت په اندازه.

۲٥. په نقدو روپو کي  واجب زکات: O ربع العشر.   O نصف العشر.

۲٦. د ۸۰ ګرامه سرو زرو زکات:

O دوه ګرامه          O ۴ ګرامه  .          O زکات پکي نشته.

۲۷. داوسیدو لپاره  تیار کړي شوي کورونو کي زکات واجب دي. ( صحیح – غلط).

هر څوک چه مسافر وي زکات به ورکول کیږي ځکه چه ابن السبیل کي راځي. ( صحیح –غلط).

**دریم روژه :**

روژه په لغت کی  د یو شي نه منع کیدلو ته وايي. او د شریعت په اصطلاح کي روژه د الله تعالی لپاره د عبادت په نیت  د سهار صبح صادق د راختلو نه تر لمر پریوتلو پوري د خوراک او څښاک او د هر هغه څه نه منعه کیدل دي چه کوم روژه ماتوي.

## د روژي ارکان

۱-نیت

۲- دروژي ماتونکي شیانو نه ځان ساتل

**دفرض روژي نیت**

دفرض روژي نیت د شپي نه کول ضروري دي یعني د طلوع فجر نه مخکي، او دمیاشتي په داخلیدلو سره  نیت کو ل هم کافي دي، او د نیت ځاي زړه دي په ژبه (لفظي)باندي نیت کول بدعت دي.

**دنفلي روژي نیت**

ددي نیت د ورځي هره حصه کي کیدلي شي تر هغي چه د روژه ماتونکي کارونو نه يي ځان ساتلي وي،او اجر به ورته د نیت کولو سره ملاویږي.

## دروژي اقسام

**واجبٌ:**

رمضان، کفارات . او د نذر روژي

**نفلٌ:**

دواجب نه علاوه نوري روژي

## دروژي د واجب(فرض) کیدلو شرطونه:

۱- – اسلام

۲ – بلوغت: اما ماشوم ته به د ولي الامر له طرفه د روژي ترغیب ورکولي شي.

۴ – مقیم : مسافر باندي روژه واجب نه ده،او بهتره داده چه که سفر کي مشقت نه وي نو روژه دي ونیسي،ددي وجي نه چه یو خو درسو ل الله ﷺ فعل دي ، او بل دي سره د انسان ذمه هم بري شي،او په دي کي دروژه دار لپاره اساني هم ده او د روژي د میاشتي فضیلت هم حاصل کړي.

۵ – صحت ۶ – دښځو د حیض او نفاس نه پاکیدل.

### دروژي په حالت کي د مرض اقسام

**دائمي مرض( د کوم چه د ښه کیدلو امید نه وي):**

او په دي کي عمر رسیده کمزوري خلک هم شامل دی چه دروژي نیولو نه عاجز وي، یعني روژه وربandي نشته خو د هغي بدل کي به یو مسکین له روټي ورکوي، یا به دوړخو مطابق مسکینان راټول کړي، او دماسخوتن یا د غرمي روټی د ورکړي، او یا بیل بیل دوړخو مطابق ورکړي، هر مسکین له به د نبوي صاع مطابق څلورمه حصه د صاع ورکوي،یعني نیم کلو او لس ګرامه بهترین قسم د جوارو د وړو، او بهتره داهم ده چه د هغي سره د خوراک پخولو سامان لکه غوښه تیل وغیره هم ورکړي.

**موقت مرض: داسي مریض چه د هغه د ښه کیدلو امید وي خو روژه نیول ورته مشکل وي:**

او په دي کي د حیض او نفاس والا زنانه او مسافر هم شامل دي،نو کله چه د مرض نه د (عذر نه) خلاص شو بیا به ددي روژو قضا راګرځوي، او که د ددی نه مخکي وفات شو نو ورنه ساقط کیږي.

**درمضان د میاشت داخلیدل څنګه ثابت کیدلي شي؟**

د رمضان د میاشت لیدلو سره او یا د شعبان ۳۰ ورځي پوره کیدلو سره.

**دروژي مفسدات(هغه څه چه روژه فاسدوي)**

۱ – قصدا خوراک یا څښاک کول، او که د چانه روژه هیره وه او خوراک څښاک یي وکړو روژه یي صحیح ده.

۲ –جماع (همبستري ) که یو سړي د ورځي دروژي په حالت کي جماع وکړه او دا روژه واجب وه وربادندي (درمضان میاشت) نو ده باندی کفاره مغلظه ده، او هغه دغلام ازادول دي، که نه وي، دوه میاشتي مسلسل روژه نیول دي، او که دا هم نه شي نو ۶۰ مسکینانو له به روټی ورکوي.

۳ – د مني وتل: دخزي سره میلاویدلو باندي څکلولو باندي یا غیږ کي نیولو باندي او یا داسي نور..

۴ –کوم شي چه د خوراک څښاک په معنی کی شامل وي، لکه طاقت او خوراک والا انجکشن، اما که د طاقت او خوراک والا نه وي بیا وربانديروژه نه ماتیږي.

۵ – حجامت سره وینه ویستل: اما د ټیسټ (معاینې) لپاره معمولي لږه وینه ویستلو باندي روژه نه ماتیږي.

٦– قصدا القی کول.

۷ – د حیض او د نفاس وینه راتلل..

**دروژه دار لپاره ځیني مباح کارونه**

لاړي تیرول. دضرورت په وخت کي د روټی څکل د مالګي لپاره، لمبل، مسواک وهل، خوشبویي لګول، یخوالی .

## دروژي مستحبات:

١ – سحور(پیشمني کول)  ٢ – په سحور کي تاخير روسته والي کول٣ – روژه ماتي کي تعجيل کول

۴ – تازه کجورو (رطب) باندي روژه ماتول که نه وي په عامو کجورو باندي، وتر (تاق) کجوري خوړل، که دا هم نه وي نو په اوبو باندي د روژه ماتي کړي که هغه هم نه وي زړه کي دي نيت وکړي د ماتولو.

۵ – دروژه ماتي وخت کي او د روژي په حالت کي دعاء کول.   ۶ – دصدقي ډير والي

٧ – دشپي لمونځ(قيام الليل) باندي اهتمام کول.   ٨ – دقران تلاوت

٩ – چه څوک ورته کنځلي وکړي نو دا ويل( اني صائم) زه روژه دار يم.

١٠ – عمره کول.

١١ – په اخری لس ورځو کي اعتکاف کول

## دروژي مکروهات

١- مضمضة او استنشاق کي مبالغه (ډيروالي ) کول..

٢- بغير د ضرورت نه د خوراک ذائقه کتل.

روژه دار بايد دا کارونه ونه کړي

١- د بلغم تيرول خو روژه وربandي نه ماتيږي.

٢ – خکلول د هغه چا لپاره چه د روژي خرابيدو نه په امن کي نه وي.

٣ – دروغ ويل( او دي کي هر حرام کار شامل دي).

۴ – جهالت( او دي کي بي وقوفي شامله ده او نا بالغ ).

۵ – وصال: يعني دوه ورځي مسلسل دي بغير روژي نه پاتي کيږي رمضان کي

نفلي روژي:

۱- دشوال د مياشتي شپږ روژي د هغه چا لپاره چه درمضان دمياشت روژي يي پوره کړي وي،او بهتره پکي دا ده چه مسلسل ونيول شي.

۲- دعرفي د ورځي روژه د هغه چا لپاره چه حج کي نه وي.

۳- د عاشوراء روژي سره نهمي او يا يوولسمي ورځي روژه.

٤- د جمعرات ( يوم الخميس) او پير(يوم الاثنين) د ورځي روژي نيول.

٥ دهري مياشتي دري ورځي روژي نيول، او افضل دادي چه د ايام بيض روژي ونيسي(۱۳-۱٤-۱٥).

٦- يوه ورځ روژه نيول يوه ورځ نه نيول

۷- دمحرم د مياشتي روژه نيول.

۸- د ذي الحجة د مياشتي ۹ روژي نيول.

۹- دشعبان د مياشتي روژه نيول خو مياشت به نه پوره کوي

مکروهه روژه:

دجمعي او هفتي او اتوار ورځ روژه لپاره خاص کول،او که د کوم سبب د وجي نه دي ورځو سره برابر شی (لکه د عرفي دورځي روژي سره )نوبيا څه مسئله نه ده.

حرام روژي:

۱- درجب مياشت د روژي لپاره خاص کول.

۲- داختر په ورځ روژه نيول.

۳- دشک روژه،او که څوک روزانه روژه نيسي يا قضايي او دي ورځي سره برابر شي نو څه مسله نه ده.

٤- ايام تشريق د حج دورځو روژه نيول مکر د هغه چا لپاره چه دقرباني استطاعت يی نه وي(حج کي) او روژه نيسي.

٥- ټول عمر روژه نيول..

## دقضاء احکام

- قضايي روژي مسلسل نيول مستحب دی.
- او پکار ده چه قضايي روژو باندي د اختر نه فورا بعد اهتمام وکړی يعنی د اختر نه بعدي ونيسي.
- دقضايي روژو بل رمضان پوري وروسته کول جائز نه دي.
- او که بغير د کوم عذر نه يي پريښودلي نو د فرض قضايي روژو نه علاوه نوري وربانديي نشته ليکن گناهگار دي.

## زکات الفطر

درمضان د مياشتي د اخري ورځی د لمر پريوتلو سره په هر مسلمان غټ، وړوکي ،نر، او ښځه .غلام او ازاد باندي زکات فطر واجبيږي، بهتره د اختر په شپه او يا د اختر په ورځ ورکول لمونځ پوري، يو صاع.

او دا زکات به د خپل کور د حاجاتو نه اضافي وي، او دا زکات د جنين نه ورکول مستحب دي.

او ددي د مشروعيت حکمت:

دروژه دارو د گناهونو نه د پاکوالي ذريعه ده.

### دزکات الفطر د أداء کولو وخت:

| جائز وخت: | مستحب وخت: | حرام وقت: |
| --- | --- | --- |
| داختر دورځي نه يوه ورځ يا دوه ورځي مخکي. | داختر د لمانځه نه مخکي او د سهار لمانځه نه وروسته | داختر د لمانځه نه بعد. |

## دزكات الفطر اندازه

زكات الفطر د خلكو د خوراک شيانو نه يو صاع وركول دي،چه دوزن په حساب يي دوه كيلو او څلويښت ګرامه دي. او دا زكات د پيسو او د روپو په شكل وركول جائز نه دي..

## داختر لمونځ

دا په هر مسلمان فرض دي،او د اختر د لمانځه وخت ديو نيزي برابر چه كله لمر راوخيژي، ترزوال پوري دي، او كه دا لمونځ قضا شي نو ددي قضا نشته،او ددي لمونځ بهر په صحرا كي كول سنت دي، او په مسجد كي هم جائز دي،او د لمانځه نه مخكي يو څو كجوري وخوري، خپله صفايي او خوشبويي او ښايسته كپړي دي واچوي،چه په يوه لاره باندي لاړشي نو په لار دي بيا راشي، او د اختر مباركي وركولو كي څه حرج نشته چه داسي اوايي:( تقبل الله منا ومنكم)داختر د شپي نه تر داختر دورځي د لمر پريوتلو پوري د لمونځونو نه بعد هم تكبير مطلق وييل سنت دي، او طريقه يي داده: (الله اكبر الله اكبر،لااله الا الله ،والله اكبر،الله اكبر ولله الحمد) او د لمونځ طريقه داده چه دوه ركعته به دخطبي نه مخكي وكړي، په اولني ركعت كي د تكبير تحريمه نه وروسته شپږ(۶) تكبيرات اووايى، او په دويم ركعت كي د دقراءت نه مخكي به د تكبير قيام نه بغير پنځه(۵) تكبيرات اوايي.

## دروژى متعلق سوالونه

١. دروژي څو اركان دي ؟ O دوه. O دري. O څلور.

٢. روژه په چا فرض ده ؟

أ. ........................................................................

ب. ........................................................................

ج. ........................................................................

د. ........................................................................

٣. هره بيماري دروژي نه انسان پاتي كوي. ( صحيح – خطا)

٤. دلاندي كارونو حكم وليكئ:

| مسألة | حكم |
|---|---|
| د سهار نه بعد يي د روژي نيت وكړو | |
| بغير د نيت روژه نيول | |
| د ماشوم روژه | |
| دمسافر روژه | |
| د نفاس مرض والا زنانه روژه | |
| دكمزوري عاجز روژه | |
| روژه وو او خوراك يي وكړو | |
| طاقت او خوراك والا انجكشن | |

| | |
|---|---|
| دسترګو قطري اچول | |
| د درد نه دارام انجکشن | |
| حجامت کول | |
| الټی کول | |
| دلاړو تېرول | |
| دروتی ځکل | |
| خوب | |
| لامبل | |
| يخوالي | |
| بخور(خوشبويي والا لوګي) | |
| دسحور وخت (پيشمني) | |
| مسواک | |
| په څه باندي به سحور کوي؟ | |
| په څه باندي به روژه ماتوي؟ | ..................که نه وي نو<br>.........................<br>که نه وي نو ..............................<br>که نه وی نو...................................... |
| دتراويح لمونځ | |
| په رمضان کی عمره کول | |
| دروژي په حالت کي مضمضه کي مبالغه کول | |
| د روژي په حالت کي خكلول | |
| دوه ورځي مسلسل روژه نه نيول | |

| | |
|---|---|
| دشوال شپږ روژي نيول | |
| دعرفي د ورځي روژه نيول | |
| دشک روژه | |
| داختر به ورځ روژه | |
| دايام التشريق روژي نيول | |
| دمحرم د مياشتي روژه نيول | |
| درجب د مياشتي روژه نيول | |
| ټول عمر روژه نيول | |
| دجمعي د ورځي روژه نيول | |
| بل رمضان پوري دقضا شوي روژي روسته کول | |

## څلورم : حج

حج داسلام د ارکانو نه پنځم رکن دي، او دا داسلام او عقل بلوغ ازادي او استطاعت په شرط باندي واجب دي، او د ښځی لپاره یو اضافي شرط دي چه هغه د محرم دي که چرته سفر ته يي ضرورت وو د حج لپاره، او د حج څلور ارکان دي:

### احرام

دا په نسک کي دداخليدلو نيت ته وايي،تلبيه ويل څادر او ازار احرام کي شامل نه دي..

### دعرفي ميدان باندي اودريدل:

ذذي الحجی دنهمی ورځي د لمر دزوال نه تر داختر د ورځي دسهار راختلو پوري. رسول الله ﷺ فرمايي: «الْحَجُّ عَرَفَةُ».

### طواف افاضه (طواف زيارت)

او دا د عرفي دودريدلو نه وروسته وي،او دا دطواف قدوم نه علاوه دي.

### سعي کول

دصفا او مروه په منځ کي الله تعالی فرمايي: (ان الصفا والمروة من شعائر الله)

### دنسک (حج)

### افراد

دا هغه نسک دي چه صرف د حج نيت پکي وکړي او صرف د حج اعمال اداء کړي.

### قران

او دا هغه نسک دي چه د حج او د عمري نيت يو ځاي وکړي او ددواړو اعمال عليحده وکړي، او قرباني هم ځان سره بوځي..

### تمتع

او دا داسي چه د حج او د عمري نيت وکړي ا وعمره د حج په مياشتو کي وکړی اوبيا د حج احرام وتړي، او قرباني هم پکي وکړي.

## دحج واجبات

چاچه ددي واجباتو نه کوم واجب پرېښودلو نو هغه له پکار دي چه دم ورکړي،او دم یوه چیلي ورکول دي په حرم کي او د مکي په فقیرانو باندي تقسیمول دي، او هغه له يي خپله خوراک جائز نه دي،

دمیقات نه احرام کول(دحج کي داخلیدلو نیت)

دعرفي میدان باندي ودریدل تر لمر پریوتلو پوري چه څوک دورځي نه ولاړ وی.

مزدلفه کي شپه تېرول

دایام تشریق شپي په منی کي تیرول

دجمراتو ویشتل

ویښته خریل یا کټ کول

طواف الوداع د هغه چا لپاره چه د مکي نه ځي اګر که دحج دمیاشتو نه وروسته هم وي. او حائض او نفاس والا ښځه باندي نشته.

## دحج او عمري مواقيت

### زماني

او دا د حج میاشتي دي: شوال، ذوالقعده،ذوالحجة، دا د حج لپاره خاص دي، اما د عمري لپاره خاص وخت نشته. هر وخت يي کولي شی..

### مکاني

- ذوالحلیفة دمدینی او د هغه چالپاره چه وربانديي تیریږي
- الجحفة دشام او مصر او مغرب لپاره
- قرن المنازل د نجد لپاره.
- يلملم د یمن لپاره
- ذات عرق د عراق لپاره

# دحج مستحبات

داحرام لپاره لمبل او خوشبويي ولګول

سپين څادرد او ازار (لنګ) اچول د سرو لپاره

دنوکانو کټ کول او د هغه ويښتو صفا کول د احرام د نيت نه مخکې د کوم چه اخستل لازم وي

داحرام نه تر جمرة العقبي ويشتلو پوري تلبيه ويل

دحج مفرد او قارن حاجي لپاره طواف قدوم.

په طواف قدوم کي او طواف العمرة (حج تمتع )کي دطواف او لني دري چکرو کي رمل کول. او رمي نه مراد لږ تيزی سره تلل.

په طواف قدوم او طواف عمرة کي اضطباع کول( ښي اوږه ښکاره کول).

په مزدلفه کي د ماښام او د ماسخوتن لمونځ جمع تقديم سره.

دعرفي شپه په منی کي تيرول.

دحجر اسود ښکلول

په مزدلفه کي ودريدل دسهار نه تر لمر راختلو نه لږ مخکي، او مزدلفه ټوله دودريدو ځاي دي.

## داحرام په حالت ممنوع کارونه (داحرام محظورات)

او دا نهه کارونه دي: د سر او د بدن نه ویښته کټ کول اخستل، دنوکانو کټ کول،دسړو لپاره په ټوپۍ باندي سر پټول، دسړو لپاره ګنډل شوي کپړي اچول،(هغه کپړه چه د جسم یا د جسم د کومي حصی لپاره ګنډل شوي وي، دښځي لپاره دستاني او نقاب اچول، خوشبويي لګول،(دي حکم کي خوشبو والا صابون هم شامل دي). دوچي حیوانات (ځناور) قتل کول،یا ښکار کول،خپله نکاح کول یا د بل لپاره نکاح کول،همبستري کول.دښځي سره مباشرت بغیر د همبستري نه. که چا دا کارونه دنسیان او یا د جهل او داکراه په حالت کي وکړل نو د شرعا وربانديي هیڅ کفاره نشته، البته ښکار کونکي باندي فورا مطلق فدیه شته، اما قصدا دا کارونه کول بیا په څلور تقسیمه دي:

### هغه کار چه فدیه وربانديي نشته:

نکاح کول ځان لپاره او یا د بل لپاره، او همدرانګه د ښځي سره میلاویدل بغیر د همبستري نه او بغیر د انزال د منو نه.نو کفاره وربانديي نشته او توبه به اوباسي

### دکوم چه فدیه د هغه د کار مثل او برابر وي:

او دا د وچي حیوانات یا قتل کول دي، او چاچه قتل کړو نو هغه باندي مطلق فدیه ده،او هغه: جزاء من النعم یحکم به ذوا عدل) ذوا عدل ته فدیه مطلق وییل کیږي.

### دکوم چه فدیه مغلظه ده:

او دا همبستري کول دي، چاچه داول تحلل نه مخکي جماع وکړه نو حج یي فاسد شو،ا همدي حالت کي به حج پوره کوي،او هغه باندي د حج اعاده ده بیا به یي کوي، او بدنه وربانديي واجب ده.

### د کوم چه فدیه،فدیه اذی ده:

او دا باقي محظورات دي او ددي په فدیه کي اختیار دي: یا دري ورځي روژي نیول، او یا شپږ مسکینانو له روټی ورکول،هر مسکین لپاره نیم صاع، او یا چیلي حلالول دي د حرم په فقیرانو به تقسیمیږي.

## دحج د ورځو نومونه

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| يوم الترويه دا اتمه ورځ ده،په دي ورځ به خلكو منى له اوبه وړلي | دعرفي ورځ: او دا د عرفي په ميدان ودريدل دي اودا نهمه ورځ وي | د اختر ورځ: يا يوم النحر چه دا لسمه ورځ ده | يوم القر: دايوولسمه ورځ ده. | يوم النفرالاول: دا دولسمه ورځ ده. | يوم النفر الثاني: داديارلسمه ورځ ده. |

ليلة جمع: اودا د اختر شپه ده، او دا ورته ځكه وايي چه دي شبه باندي به خلك راټوليدل د عرفي نه وروسته،نو ځكه د مكي خلك به د عرفي نه نه وتل..

## په حج كي ددعاء پنځه ځايونه دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| دعرفي ميدان كي د زوال نه وروسته په نهمه ورځ تر لمر پريوتلو پوري. | په مزدلفه كي دفجر نه وروسته تر رڼا لكيدو پوري. | ايام تشريق كي د وړوكي او منځني جمره ويشتلو نه وروسته | په طواف كي. | صفا مروى سعي كي او ددوي په منځ كي |

## دعمري او حج طريقه

**شيخ عثيمين رحمه الله تعالى فرماييلي دي$ :**

كله چه تاسو ميقات ته ورسيدى نو غسل وكړى، خپل بدن باندي سر او ږيره باندي خوشبويي ولګوى،بيا احرام وكړى د تمتع په نيت باندي، او مكي ته تلبيه ويونكي روان شى، او كله چه بيت الحرام ته ورسيدى نو اووه چكره طواف د عمري وكړى،او په دي باندي هم پوهه شي چه ټول مسجد الحرام كعبي ته نژدي او لري دطواف لپاره دي، لكن نژدي والي ورته بهتر دي، كه د رش دوجي تكليف نه وي، خو كه رش وي بيا لري خه دي، او الحمد لله دي معامله كي وسعت دي، كله چه د طواف نه فارغ شوي نو دوه ركعته دمقام ابراهيم سره وكړي كه درته اسانه وي، او كه نه وي نو لري يي ورنه هم كولي شى، مهمه دا ده چه مقام ابراهيم ستا او د كعبي په منځ كي وي،بيا د عمري د سعي لپاره روان شى،او د صفا نه شروع وكړى،چه كله دا اووه چكري پوره كړى نو بيا د ټول سر ويښته واړه كړى،دسر د يوي حصي نه دويښتو كټ كول جائز نه دي،د ډيرو خلكو كارونه بايد تاسو ونه كړى.

كله چه بيا د ذوالحجي اتمه ورځ وي، نو غسل وكړى او خوشبويى ولګوى، او د حج لپاره احرام وتړى په كوم ځاي كي چه موجود يي، او د منى طرف ته روان شى،او په منى كي د ماسپښين مازيګر ،ماښام او ماسختن لمونځونه قصر وكړي په خپل خپل وختونو كي، ځكه ستاسو نبي محمد ﷺ به په منى او مكه كي لمونځ قصر كولو او جمع يي نه ده كړي، اوكله چه د عرفي د ورځي لمر راوخيژي نو د عرفي ته تلبيه ويونكي دعاجزى په حالت كي د عرفات طرف ته روان شى، او په عرفات كي د ماسپښين او مازيګر لمونځ قصرا (دوه دوه ركعته)يو ځاي جمع تقديم وكړى، بيا الله ته دعاء او زاري كولو لپاره ځان فارغ كړى، او كوشش كوى چه طهارت په حالت كي يى، او د قبلي طرف ته مخ كړى اګر كه غر مو شاته هم وي،ځكه مشروع خبره قبلي ته مخ كول دي، ا وخاص طور باندي د عرفات حدود او نښو ته ډير فكر كوى ځكه ډير حاجيان د عرفات نه بهر ولاړ وي، او څوك چه په عرفه باندي ونه دريږي نو حج يي نه كيږي، درسول الله ﷺ د قول مطابق:ﷺ «الْحَجُّ عَرَفَةُ»، او عرفه ټوله د ودريدولپاره ده كه شرق دي او كه غرب. جنوب او شمال مګر صرف د وادى عرنة منځ دودريدلو لپاره نه دي، درسول الله ﷺ دقول مطابق.

کله چه لمر پریوتلو او یقیني شوي د لمر د پریوتلو نه بیاد مزدلفي طرف ته روان شي،تلبیه ویونکي،عاجزی سره،او سکینة او وقار سره چه ځومره کیدلي شي،درسول الله ﷺ د قول مطابق،دعرفي نه روان وو اودا یي ویيلي (ایها الناس السکینة السکینة).

کله چه مزدلفي ته ورسیدی نو التة د ماښام او ماسخوتن لمونځونه وکړی، بیا تر سهاره وده شی،او د سهار نه مخکي دمزدلفي نه دوتلو اجازه رسول الله ﷺ نه ده ورکړي،مګر هغه کسانو له چه کمزوري وي نو هغوی ته اجازه ده،چه دشپي اخري حصه کي دي ووځي .نو کله چه د سهار لمونځ وکړی قبلي ته مخ کړی، تکبیر او د الله تعالی حمد او ثنا اوايي او دعاء وغواړی، تر رڼا لګیدلو پوري، بیا د منی طرف ته روان شی، بیا اووه واړه کاڼي راواخلی، او د جمرة العقبه طرف ته لاړ شی، او دا اخري جمره ده چه ددي نه وروسته بیا مکه ده،او بیا دا د لمر د راختلو نه وروسته په اووه کاڼو د تکبیر سره وولی، په داسي حالت کي چه تکبیر وایي او عاجزی سره، او د الله تعالی د عظمت د یادولو سره.

او په دي هم پوهه شی چه د رمي (ددي کاڼو دویشتلو ) نه مقصود د الله تعالی عظمت او د هغه ذکر قائمول دي، او دا هم ضروري ده چه کاڼي حوض ته ورسیږي وروغورځیږي، او هغه ستن ویشتل شرط نه دي، کله چه د جمري دویشتلو نه فارغ شوی ،نو بیا قرباني(هدي) وکړی د حج، او هدي هر هغه ځاروي باندي کافي ده کوم چه قرباني وربانديکیږي، اوددي قرباني لپاره که وکیل ونیول شي نو هم جائز دي،چه ستا پر ځای یي حلال کړي، بیا د ذبح نه روسته خپل سرونه وخریي او پکار ده چه مکمل سر وخریيل شي،د سر ځیني حصه اخستل او ځیني پریښودل جائز نه دي،او ښځي به د سردویښتو د طرفونو نه د ګوتي د بند په اندازه ویښته کټ کوي، ددي سره او لني تحلل حلال شي کیږي به واچوی، نوکان کټ کولي شي،خوشبویي لګولي شي لیکن ښځو ته نه شي نزدي کیدلي، بیا د غرمي د لمونځ نه مخکي مکي ته لاړشي، او د حج طواف وکړی، او سعي وکړي، بیا مني ته لاړ شی، نو طواف او سعي رمي او حلق نه بعد تحلل ثاني حاصلیږي او هر کار چه احرام کي ممنوع وو هغه کولی شی حتی چه ښځو سره هم میلاوېدلی شی.

اي خلکو! حاجي د اختر په ورځ څلور کارونه کوي، د کاڼو ويشتل، بيا قرباني کول، بيا ويښته کښ کول، بيا طواف او سعي کول،او دا کامل ترتيب دي،ليکن که کوم کار مو مخکي وروسته کړو لکه د ذبح نه مخکي د سر ويښته کښ کړل، نو څه حرج نشته، او که طواف او سعي مو د مني نه دراتلو پوري روسته کړه هم څه خبره نشته،او که ذبح مو په مکه به ديارلسمه ورځ وکړه هم جائز دي، خاص طور باندي د ضرورت او مصلحت په وخت کي.

او بيا يولسمه شپه په منی کي تيره کړی،بيا به د لمر د زوال نه وروسته دري واړه جمرات په کاڼو اوولی، اولني بيا منځنۍ او بيا عقبه، هر يو جمره به اووه کاڼو باندي ويشتل کيږي، او هر ګذار سره به تکبيروايی، د اختر په ورځ د جمراتو ويشتلو وخت د لمر د راختلو نه وروسته دي د هغه چا لپاره چه قادر وي، او د کمزورو او بوډا ګانو لپاره ددشپي اخري حصه کي هم اجازت شته دي، او د اختر دورځي نه وروسته د جمراتو وخت د زوال نه وروسته دي، تر لمر پريوتلو پوري، او د زوال نه مخکي يي ويشتل جائز نه دی، او که د ورځي رش ډير زيات وي نو بيا دشپي هم دجمراتو ويشتل جائزدي،او که څوک جمرات نه شي ويشتلي لکه ماشوم يا بوډا کمزوري، نو هغه د خپل ځان لپاره څوک وکيل نيولي شي، او وکيل کولي شي چه د خپل ځان نه او چا چه وکالت ورکړي دي کاڼي اوولي په يو وخت کي، ليکن او ل به د خپل ځان لپاره وولي بيا د وکالت. کله چه په دولسم ورځ کاڼي وولی نو حج ختم شو، نو بيا اختيار دي که د چا خوښه وی تعجيل کوي د مني نه ووځي او که په منی کي شپه کوي،او بيا په سبا ديارلسمه ورځ جمرات اوولي،د زوال نه بعد او دا افضل دي ځکه رسول الله ﷺ داسي کړي دي.

بيا چه د مکي نه د وتلو اراده وکړي نو طواف وداع دي وکړي، حائضه ښځه او نفاس والا باندي دا طواف نشته، او د مسجد دروازی ته راتلل يا ودريدل ورله هم نه دي جائز.

## د حج متعلق سوالونه

٥. په چا باندي حج فرض دي ؟

أ. ..........................................................................................................

ب. ..........................................................................................................

ج. ..........................................................................................................

د. ..........................................................................................................

هـ. او د ښځو لپاره دا اضافي دي:

..........................................................................................

٦. د حج څو اركان دي ؟ O دوه O دري. O څلور.

٧. احرام د حج داركانو نه يو ركن دي، او دي نه مطلب څادر او ازار د ميقات نه اچول دي.( صحيح – خطأ).

٨. طواف الافاضة د طواف زيارت نه بغير دي، اولني ركن دي او دويم سنت دي. ( صحيح – خطا).

٩. رسول الله ﷺ دري حجونه كړي دي. ( صحيح – خطا)

١٠. دحج اداء كول فورا واجب دي. ( صحيح – خطأ).

١١. د مديني خلک به د يلملم ميقات نه احرام تړي. ( صحيح – خطا).

١٢. دعمري ميقات زماني د رمضان مياشت ده. ( صحيح – غلط).

١٣. لاندي جملو كي خالي ځايونه ډک کړی: حج او عمره ..........................................پـه عمـر كي ....................................... يـو ځل، او چاچه حج وكړو او ................................ونه كړه. او ....................................... ونه كړه،د ګناهونو نه داسي پاک شو لكه لكه مور نه چي نوي پاک صفا پيدا شوي وي، اود حج مبرور بله بدله نشته سوا د .................................نه.

١. د مکي خلک له د حج لپاره د تنعیم نه احرام تړي. (صحیح – غلط).
٢. ښځه به د احرام لپاره سپینه کپړه اچوي. (صحیح- خطا).
٣. څـــوک چـــه د احـــرام اراده لـــري هغـــه لـــه مســـتحب دي چـــه ..............................خوشـبو ولګـوي او............................تـه خوشـبو ونـه لګوي.
٤. ښځي له د ګنډل شوي کپړو اچول جائز نه دي. ( صحیح – خطا).
٥. د محرم لپاره د ملا کمربند(حزام) اچول حرام دي.( صحیح – خطا).
٦. محرمه ښځه به نه ............................. او نه ..................................اچوي.
٧. اضطباع کول سنت دي په: O طواف عمرة کي.O طواف القدوم کي.
O طواف زیاره کي. O اول او دویم کي .O دا ټول ذکر شوي کارونو کي

٨. په سعي کي تیز تلل مستحب دي. ( صحیح- غلط).

٩. سـعي د ......................نـه شـروع کیـږي او د پـه .................................... ختمیږي.

١٠. حاجی به د عرفات نه د لمر پریوتلو نه مخکي ووځي. ( صحیح – غلط).

١١. په عرفه باندي ودریدل د حج د واجباتو نه دي . ( صحیح – غلط).

١٢. د حج کارونه د ........................... د ورځی نه شروع کیږي او تر ........................................ اخری پوري وي.

١٣. عرفات په ورځ غر ته ختل جائز نه دي. ( صحیح – غلط).
١٤. د متمتع او قارن لپاره قرباني کول واجب دي او د مفرد لپاره سنت دي.
١٥. ( صحیح – خطا).

١٦. د اختر پـه ورځ د عقبې ويشـتلو نـه وروسـته تلبيـه ويـل ختميږي.(صحيح – خطا).

١٧. کـه حـاجي چرتـه هغـه جمره ونـه ولي او کاني حـوض تـه ورسـيږی نـو رمي يي صحيح دي.( صحيح- خطا).

١٨. حاجي به په لسمه ورځ دري واړه جمرات وولي.( صحيح – خطا).

١٩. ايام تشريق کي دزوال نه وروسته رمي شروع کيږي.( صحيح – خطا).

٢٠. دجمـرة العقبـة د ويشـتلو نـه وروسـته دعـاء کـول مشـروع دي. ( صـحيح – خطا).

٢١. که چرته طواف افاضة دمکي نه د وتلو پوري روسته کړي نودطواف وداع لپاره هم کافي دي، لکه دطواف عمري به رنګه مکر په ........................... کي او ................................ .

٢٢. قارن او مفرد باندي واجب دي چه سعي وکړي................. اما متمتع سعي به کوي ...........................

٢٣. اذكر حكم الأعمال التَّالية:

| مسأله | حکم |
|---|---|
| دماشوم حج | ........................................ |
| دښځي محرم نه بغير حج کول | ........................................ |
| دقرضداری حج کول(چه په چا باندي قرض وي) | ........................................ |

# پنځلسم درس

## دهر مسلمان په ښایسته اخلاقو باندي ښایسته کیدل

هر مسلمان له په ښایسته او شرعي اخلاقو باندي ښایسته کیدل، او ددی اخلاقو نه ځیني دادي:

ریشتنولي (صدق) امانت، حیاء او پاکدامني، شجاعت، سخاوت، وفاداري،دهر هغه شي نه چه الله تعالی حرام کړي دي ځان ساتل، ښه همسایه توب،د خپل وس مطابق د حاجتمندو مدد کول، او داسي نور اخلاق چه په مشروعیت یي قران وسنت کي دلائل وي.

## ضروري خبري:

- (الصِّدْقُ) ریشتنولي: خپل خبرو کارونو او عقیده کي به الله سره صادق وي، او همدغه رنګه د الله د بنده ګانو سره، او ددي ضد دروغ دي.
- (الْأَمَانَةُ) دا یوه غټه فریضه ده چه انسان باندی ددي بوج اچول شوي دي، او ددي ضد خیانت دي..
- (الْعَفَافُ) پاکدامني: دحرامو نه لري کیدل.
- (الْحَيَاءُ) دا داسی عادت دي چه نیکو کارونو باندي موصوف کیږي او د بدو نه دی ساتي.
- (حُسْنُ الْجِوَارِ) ښه ګاونډیتوب: او ددي د لوازمو نه دادي چه سترګي به ټیټوي، او د ګاونډیانو عورات او زنانه ته به نه ګوري.
- (مُسَاعَدَةُ ذَوِي الْحَاجَةِ)، د حاجتمندو مدد کول: رسول الله ﷺ فرمایي: «**مَنْ نَفَّسَ عَنْ مُؤْمِنٍ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ الدُّنْيَا، نَفَّسَ اللهُ عَنْهُ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ، وَمَنْ يَسَّرَ عَلَى مُعْسِرٍ يَسَّرَ اللهُ عَلَيْهِ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ، وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا سَتَرَهُ اللهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ، وَاللهُ فِي عَوْنِ الْعَبْدِ مَا كَانَ الْعَبْدُ فِي عَوْنِ أَخِيهِ**» أخرجه مسلمٌ.

# شپاړسم درس

## په اسلامي ادابو ښايسته کيدل

اسـلامي ادابـو بانـدي ښايسـته کيـدل، او ددي نــه: ســلام اچول،کـولاو تندي(بشاشـت) پـه ښي لاس باندي خوراک او ښـاک کول، دخوراک پـه شـروع کي بسـم الله ويـيل، او د روټـۍ نـه فارغيـدلو وروسـته الحمـدلله وييـل،او د پرنجي نـه وروسـته الحمدلله وييل، او د پرنجي والا لـه بيا جواب ورکول چه کله الحمد لله اوايي، بيمارپرسي کول،دجنـازي سـره تلل او دفـن کول،مسـجد تـه او کورتـه دننـه کيـدلو او وتلـو وخـت کي دماشـوم د پيـدا کيـدلو د مبـارکي ورکولـو وخـت کي،د واده د مبـارکي پـه وخـت کي، د فـاتحي پـه وخـت کي،پـه سـفر کي د مـور پلارسـره د خپلوانـو سـره،کاونډيانو سره،ماشـومانو او غتـانو سـره او داسـي نورکاونو کي دشرعي ادابو خيال ساتل، لکه دکېږو اچولو، او ويستلو کي او د چپلو اچولو او ويستلو او داسي نور........

<u>ضروري خبري:</u>

- سلام اچول، او پوره سلام يعني : السلام عليكم ورحمة الله وبركاته.) سلام به اچوي په هر چا چه يي پيژني او که يي نه پيژني، او جواب به ورکوي چه چا دربانديِ سلام واچولو.

- (په ښي لاس باندي خوراک او ښاک کول).: يعني وجوبا به په ښي لاس باندي خوراک او ښاک کوي،او په دري ګوتو باندي به خوراک کوي، او په همدي باندي راکړه ورکړه مستحب ده.

— (التسمية عند الابتداء) يعني بسم الله وييل.

- (والحمد عند الفراغ) لکه دا قول وارد شوي دي:( الحمدلله الذي اطعمني هذا ورزقنيه من غير حول مني ولا قوة).

— :«الْحَمْدُ للهِ الَّذِي أَطْعَمَنِي هَذَا وَرَزَقَنِيهِ مِنْ غَيْرِحَوْلٍ مِنِّي وَلَا قُوَّةٍ».

- او مشروع خبره داده چه د خپلي مخي نه خوراک وکړي، او خوراک کي عيب راونه باسي.

- (وَالْحَمْدُ بَعْدَ الْعُطَاسِ) يعني: د پرنجي نه وروسته «الْحَمْدُ لله» ويل.
- (وَتَشْمِيتُ الْعَاطِسِ إذَا حَمِدَ اللَّهَ) يعني: «يَرْحَمُكَ اللهُ»ويل، بيا به پرنجي كونكي وايي: «يَهْدِيكُمُ اللهُ وَيُصْلِحُ بَالَكُمْ».
- (وَعِيَادَةُ الْمَرِيضِ) يعني د بيمار تپوس به كوي،او بار بار به ورځي مناسب وختونو كي.او ډير وخت به ورسره نه تېروي، او همدارنګه داسي خبري به نه كوي چه هغه د الله نه نا اميده كړي.
- (وَاتِّبَاعُ الْجَنَائِزِ لِلصَّلَاةِ وَالدَّفْنِ) (دجنازي سره تلل او دفن كول): دا دسرو لپاره د ښځو لپاره تلل نشته.
- (مسجد كور ته دننه كيدلو او وتلو وخت كي شرعي ادابو خيال ساتل): يعني مسجد ته دننه كيدلو وخت كي ښي ښپه مخكي كوي،او دا دعاء به وايي: «بِسْمِ اللهِ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَى رَسُولِ اللهِ، اللَّهُمَّ افْتَحْ لِي أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ»، او د راوتلو وخت كي به ګسه ښپه مخكي كوي اودا دعاء به وايي: «بِسْمِ اللهِ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَى رَسُولِ اللهِ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ»، هر چه كور ته دننه كيدل دي په هغي كي ښي ښپه مخكي كول دننه كيدلو وخت كي او د كور نه وتلو وخت كي دا دعا به وايي: «بِسْمِ اللهِ، تَوَكَّلْتُ عَلَى اللهِ، وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ أَنْ أَضِلَّ أَوْ أُضَلَّ، أَوْ أَزِلَّ أَوْ أُزَلَّ، أَوْ أَظْلِمَ أَوْ أُظْلَمَ، أَوْ أَجْهَلَ أَوْ يُجْهَلَ عَلَيَّ»، وعند الدُّخول: «اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَيْرَ الْمَوْلِجِ وَخَيْرَ الْمَخْرَجِ، بِسْمِ اللهِ وَلَجْنَا وَبِسْمِ اللهِ خَرَجْنَا، وَعَلَى اللهِ رَبِّنَا تَوَكَّلْنَا» بيا دي خپل اهل باندي سلام واچوي.
- (دواده مباركي وركول): يعني دا دعا دي اوايي: «بَارَكَ اللهُ لَكُمَا، وَبَارَكَ عَلَيْكُمَا، وَجَمَعَ بَيْنَكُمَا فِي خَيْرٍ».
- (دمړي فاتحه كول): او دا به دري ورځو پوري وي ددي نه ډير به نه وي.

## اولسم درس

### شرک او د ګناهونو نه خبرداري ورکول(یرول)

د شرک او ګناهونو نه یره ورکول او ځان ساتل، او ددي نه : اووه هلاکونکي ګناهونه چه هغه دادي: د الله سره شرک کول،جادوکول، بغیر د حق قتل کول،چه الله تعالی حرام کړي وي، سود خوړل،دیتیم مال خوړل، د جنګ نه تختیدل،مومنو غافلو پاکو ښځو باندي تهمت لګول.

او همدارنګه : د مور پلار نافرمانی کول، صله رحمي ختمول،ددروغو ګواهي ورکول، ددروغو قسم کول، ګاونډي له تکلیف ورکول،دخلکو په مال عزت او وینه کي ظلم کول، دشرابو څکل، قمار کول،غیبت کول، چغل خوري کول،او داسي نور کارونه چه الله او د الله رسول ورنه منع کړي وي.

<u>ضروري خبري:</u>

- (دالله سره شرک) په دي کي شرک اکبر او اصغر ټول شامل دي.
- (جادو) چاچه جادو وکړو، یا ورباندي راضي شو، نو کفر یي وکړو، او دوي له ورتلل هم حرام دي، دجادو والا تي وي چینلونه کتل، داسي اخبارونه او مجلي کتل کوم چه په هغي کي ابراج وي،حرام دي،او جادو به په جادو باندي نه ختموي،بلکه شرعي دم باندي او دعاء باندي، او مباح دواګانو او حجامت باندي به علاج کیدلي شي.
- (دحرام کړي شوي نفس قتلول): هغه که مسلمان وي او که معاهد وي او که ذمي وي او که مستامن وي.

– (مکر جائز طريقه باندي): دچاچه قتلول جائز دي هغه دري قسمه دي: دنفس بدله کي نفس، بوډا (شادي شده) زناکار، ددين پريښودونکي د جماعت نه وتونکي. **النَّفْسُ بِالنَّفْسِ، وَالثَّيِّبُ الزَّانِي، وَالتَّارِكُ لِدِينِهِ الْمُفَارِقُ لِلْجَمَاعَةِ**».

– (يتيم): دا هغه څوک دي چه پلار يي مړ شوي وي، او بلوغ ته نه وي رسيدلي.

– د جنګ نه تختيدل: مراد ورنه د الله په لاره کي د غازيانو فوج دي.

– (پاکو زنانه باندي تهمت لګول): يعني ازادي ښځي، واده شوي ورنه مراد نه دي بلکه ازادي ښځي.

– ددروغو قسم: همدارنګه د الله نه بغير په بل چا باندي قسم کول. لکه د پيغمبر په ذات نوم باندي قسم کول، او شرف او عزت زندګی، قبر بودوالي وغيره باندي قسم کول.

– د قمار لوبي کول: او ديته ميسر هم وايي: هر هغه معامله چه د ګټي او نقصان سره يي تعلق وي.

– غيبت: رسول الله ﷺ يي داسي تعريف کړي دي: د خپل ورور په هغه څه باندي ذکر کول چه هغه يي بده ګڼي.

– چغل خوري: د خلکو منځ کې يو بل ته خبرې نقلول

دمسابقي حکم

**عوض (بدل) وغيره په صورت جائز دي:**
د اوښانو او اسونو او غشو مسابقه: درسول الله ﷺ د قول مطابق: «**لَا سَبْقَ إِلَّا فِي خُفٍّ أَوْ حَافِرٍ أَوْ نَصْلٍ**».

**مطلق حرام:**
نرد ، شطرنج او ددي په رنګه لوبي.

**بغير د عوض نه جائز دي او د عوض سره نه دي جائز:**
دذکر شوي شيانو علاوه ټول

# اتلسم درس

## دمړي تیارول لمونځ وربانديي کول او دفنول.

ددي تفصيل داسي دي:

اولني خبره: د مرګ په وخت کي د کلمي (لا اله الا الله) تلقين کول مشروع خبره ده،لکه څنګه چه رسو ل الله ﷺ فرماييلي دي: (لقنوا موتاکم لا اله الا الله) د لته مراد د مړو نه هغه څوک دي چا باندي چه د مرګ علامات ښکاره شوي وي.

دويمه خبره : کله چه يي مرګ يقيني شو چه وفات شو نو د هغه دواړه سترګي به بندي کړي شي او زنه به يي وتړي لکه څنګه چه سنت کی ثابت دي.

دريمه خبره: مسلمان مړي له غسل ورکول واجب دي مګر هغه چه د جنګ په ميدان کي شهيد شوي وي نو هغي له به غسل نه ورکول کيږي او نه به ورباندي جنازه کيږي، بلکه د شهادت په کپړو کي به دفن کيږي، لکه څنګه چه رسول الله ﷺ أحد شهداو له نه غسل ورکړو او نه يي ورباندي لمونځ وکړو.

څلورم: مړي له د غسل ورکولو طريقه: دمړي شرمګاه به پټه کړي شي، او بيا به لږ اوچت کړي شي او په خيټه به يي نرمی سره لږ زور وکړي شي، بيا دي غسل کونکي خپل لاس نه کپړه يا څه شي تاو کړي او بيا دي هغه صفا کړي،بيا دي ورله دلمونځ د اودس په رنګه اودس ورله وکړي، بيا دي د بيري وغيره اوبو باندي د هغه سر او ږيره وينځي،بيا د د هغه ښي طرف او بيا کس طرف وينځي همدارنګه دي دويم ځل او دريم ځل وينځي،او په هر ځل دي ورله په خيټه باندي لاس راښکاږي که چرته څه شي ورنه اوتل نو صفا کوي دي، او د راوتلو ځاي دي په مالوچو وغيره باندي بند کړي، که مالوچ نه وي، که بيا هم نه بنديږي بيا خالص خاوره(خته) باندي او يا نوي (ميډيکل) ډاکټري سامانونو باندي(پټی وغيره) دي بند کړي،او اودس به ورله دوباره وکړي، که په دري ځل يي صفايي حاصله نه شي نو پنځه نه تر اووه ځل پوري دي وينځل شي، او په کپړه باندي دي وچ کړي شي،بيا دي ورله بغلونو جوړونو کي (ډينډيو او لاسونو) او د سجدي ځايونو باندي خوشبويي ولګوي،او که ټول بدن باندي يي خوشبويي ولګوله نو ډيره ښه ده،او کفن باندي دي هم بخور استعمال کړي شي،که نوکان او بريتونه

يي غټ وو نو واړه دي کړي او کنه پرېږدي يي هم څه خبره نشته پکي.او ويښتو کي د ږمنځ نه وهي او نه دي د نام نه لاندي ويښته کټ کوي،او نه دي سنت (ختنه)کوي. ځکه په دي باندي کوم دليل نه دي ثابت.او د ښځو به د ويښتو نه دري کمڅۍ جوړي کړي شي او شا ته به يي واړول شي.

پنځم: مړي له کفن ورکول:بهتره داده چه سړي له دري سپينو کپړو نه کفن ورکړل شي،چه په دي کي قميص او عمامه نه وي،لکه څنګه چه رسول الله ﷺ له کفن ورکړل شوي وو،او دا کپړي به يو بل کي وردننه کوي. او که په قميص ازار او لفافه کي کفن ورکړل شي هم څه حرج نشته پکي.

او زنانه له به پنځه کپړو کي کفن ورکولي شي،قميص،لوپټه، ازار او دوه لفافي،او ماشوم له به د يوي نه تر دري کپړوپوري کفن ورکول کيدلي شي،او ماشومي جينۍ له به قميص او دوه لفافو کي کفن ورکول کيږي. او ټول په يوه غټه کپړه کي پټول واجب دي،دټولو لپاره. لکن که چرته مړي محرم وو د احرام په حالت کي وو، نو دا به په اوبو او بېره باندي به غسل ورکول کيږي. نو په هغه څادر او ازار کي به کفن ورکول کيږي يا ددي نه بغير که بل څه وي.مخ او سر به ورله نه پټوي،او نه به ورباندي خوشبويي لګوي، ځکه هغه به د قيامت په ورځ تلبيه ويونکي راپاڅيږي، لکه څنګه چه صحيح حديث کي درسول الله ﷺ نه ثابت دي، او که چرته ښځه داحرام په حالت کي وه دي له به د نورو کپړو په رنګه کفن ورکول کيږي لکن خوشبويي به ورباندي نه لګوي،مخ به ورله په نقاب باندي نه پټوي، اونه لاسونه په دستانو باندي، ليکن مخ او لاسونه به يي په کفن باندي پټ کړي شي لکه څنګه چه مخکي دښځي له د کفن ورکول طريقه کي ذکر شو.

شپږم: مړي له د غسل ورکول او هغه باندي د لمونځ کول ډير مستحق:

اولني هغه کس چه د چا باره کي يي وصيت کړي وي،بيا پلار بيا نيکه بيا نژدي خپلوان د مړي د عصبوو نه. او ډير مستحق د غسل ورکولو ښځي له، هغه څوک دي چه وصيت يي ورباندي کړي وي، بيا مور بيا نيا بيا نژدي خپلوان د ښځي.

او همدارنگه ښځه او خاوند يوبل له غسل ورکولي شي،ځکه ابو بکر الصديق رضي الله تعالى عنه له يي ښځي غسل ورکړي وو،او علي رضي الله تعالى عنه خپله ښځه (فاطمة رضي الله تعالى عنها ) له غسل ورکړي وو.

اووم: په مړي د جنازي اداء کولو طريقه: د جنازى لمونځ كي څلور تکبيرونه دي،د اول تکبير نه وروسته سورت فاتحه او يا كه لنډ ايتونه يو دوه اوايي هم ښه ده،لکه څنګه چه دابن عباس ﷺ نه صحيح روايت كي دي. بيا به دويم تکبير وکړي،او په رسول الله ﷺ به درود اوايي،لکه څنګه چه يي تشهد كي وايي،بيا به دريم تکبير وکړي،اودا دعاء به اوايي: ( اللهم اغفر لحينا وميتنا وشاهدنا وغائبنا وصغيرنا وكبيرناوذكرنا وانثانا،اللهم من أحييته منا فاحيه على الاسلام ومن توفيته منا فتوفه على على الايمان،اللهم اغفرله وارحمه،وعافه،واعف عنه،واكرم نزله،ووسع مدخله،واغسله بالماء والثلج والبرد،ونقه من الخطايا كما ينقى الثوب الأبيض من الدنس،وابدله دارا خيرا من داره،وأهلا خيرا من أهله،وادخله الجنة،وأعذه من عذاب القبر،وعذاب النار،وافسح له في قبره،ونورله فيه،اللهم لا تحرمنا اجره،ولا تضلنا بعده،) بيا به څلورم تکبير وکړي، او ښي طرف ته به يو سلام وګرځوي.

او د هر تکبير سره لاس اوچتول مستحب دي.

او كه چرته مړي زنانه وي، نو بيا ذكر شوي دعاء كي ( اللهم اغفرلها ....) وايي.

او كه جنازى دوه وي بيا دي :(اللهم اغفرلهما) وايي.

او كه جنازي ډيري وي نو بيا به: (اللهم اغفرلهم) وايي.

او كه چرته مړي ماشوم وي نو بيا به ددعاء په ځاي دا اوايي:( اللهم اجعله فرطا وذخرا لوالديه،وشفيعا مجابا،اللهم ثقل به موازينهما،وأعظم به أجورهما،وألحقه بصالح سلف المؤمنين،واجعله في كفالة

ابراهيم عليه الصلاة والسلام، وقه برحمتك عذاب الجحيم.).
او امام له د سړي سر ته او د ښځی منځ برابر ته ودريدل سنت دي،او که اجتماعي جنازه وي نو سړي به د امام مخي ته وي او زنانه به د قبلي مخي ته، او که ماشومان پکي وي نو ماشوم به د زنانه نه مخکي کوي، بيا ښځه،بيا ماشومه جينۍ او د ماشوم سر به د سړي د سر سره برابر وي،او د ښځي منځ به د هم د سړي د سر سره برابر وي،همدارنګه د ماشومي سر به د ښځي سر سره برابر وي،او منځ به يي د سړي د سر برابر وي، او مقتديان به ټول د امام نه وروسته ولاړوی، مګر که چرته يو مقتدي وي نور نه وي، او يا روسته ځاي نه وي نو د امام ښي طرف ته ودريږي.
اتم: د مړی ددفن کولو طريقه:
قبر بايد د سړي د ملا پوري جور وکنستل شي،او د قبلي طرف ته به لحد وي،او مړي به په لحد کي په ښي طرف باندي کيښودلي شي،او د کفن غوټي به کولاو کړي،او همدغسي دي پريښودل شي، او مخ به ورله نه ښکاره کوي که مړي سړي وي او که ښځه،بيا دي په لحدباندي کچه خاوري ښختي کيدي، بيا دي په ختو باندي بند کړي شي چه مظبوط شي او دننه خاوره نه ورځي، او که د خاوري ښختي نه وي نو بيا ورباندي تختي هم کيخودلي شي،يا کاني،او يا لرګي چه د خاوري د ورتللو نه يي وساتي،بيا دي ورباندي خاوري واچول شي، او دي وخت کي دا دعاء وييل مستحب دي (باسم الله وعلى ملة رسول الله) او قبر به د يو لويشت برابر اوچتولي شي،او که کيدلي شي نو واړه کاني دي ورباندي کيښودل شي،او د اوبو چنګاو دي ورباندي وکړي. او خپلوانو له دا جائز دي چه دقبر فارغيدلو نه وروسته قبر سره ودريږي او مړي ته دعاء وکړي،ځکه رسول الله ﷺ چه کله به د مړي د دفن کولو نه فارغ شو نو په قبر به ودريدلو او وييل به يي: (استغفروا لأخيكم واسألوا له التثبيت، فانه الآن يسأل). خپل ورور لپاره مود مغفرت دعاء وکړی او د الله نه استقامت ورله غواړی ځکه چه د هغه سره به اوس سوال جواب کيږي.
نهم: که چا نه د جنازی لمونځ پاتي شوي وي، نو هغه له جائز دي چه قبر باندي يي جنازه وکړي،ددفن کيدلو نه وروسته،ځکه نبي ﷺ داسي کړي دي،

خو دا به په یو میاشت کې دننه وي، که چرته د یومیاشت نه یې ډیر وخت شوی وي نو بیا ورله قبر باندې لمونځ کول جائز نه دي، ځکه دنبي ﷺ نه د یو میاشت نه وروسته به قبر باندې د جنازې لمونځ کول ثابت نه دي.

لسم: د مړي کور والا له پکار نه دي چه خلکو له روټۍ تیاره کړي، د ابن جریر عبدالله البجلي ﷺ د روایت مطابق چه جلیل القدر صحابي دي، فرمایي: چه مونږ به د مړي په کور کې راټولیدل او التبه روټۍ خوړل د نیاحت (مړي باندې ژړا) نه حسابوله، البته د مړي کور والا او میلمنو له یې روټۍ تیارولو کې څه حرج نشته اوخپلوانو او ګاونډیانو له یې دا پکار دي او جائز دي، چه د مړي کور لپاره روټۍ تیاره کړي، ځکه نبي ﷺ ته چه کله د جابر ﷺ د وفات خبر راغي،چه په شام کې وو، نو  خپل اهل ته یې حکم وکړو، چه د جعفر د کور د خلکو لپاره روټۍ تیاره کړي، او دا یې اوبیل چه هغوی له داسې غم راغلي دي چه مشغوله کړي یې دي. او د مړی کور والا کولې شي چه کومه روټۍ چه ورله راغلي ده چه  هغې کې خپل خپلوان او ګاونډیانو له  هم دعوت ورکړي.

یوولسم: ښځې له جائز نه دي چه هغه په مړي باندې ددرې ورځو نه ډیر غم وکړي.مګر هغه ښځه چه خاوند یې وفات شوی نو هغې له پکار ده چه څلور میاشتې او لس ورځې د زیب او زینت نه ځان لرې وساتي. او که حامله وي نو تر حمل ختمیدلو پورې به وي،ځکه چه دي باندې  صحیح احادیث درسول الله صلی الله علیه وسلم نه ثابت شوي دي. اما هر چه سړي دي نو هغه له نه ده پکار چه په خپلوانو یا وغیره باندې  داسې غم وکړي.

دولسم: سړو له پکار دي چه وخت تر وخته د قبر زیارت وکړي هغوی ته دعاء وکړي، او د الله نه د رحمت طلب وکړي. او مرګ او د مرګ نه وروسته حالات یادکړي، رسول الله ﷺ فرمایي: (زوروا القبور فانها تذکر الآخرة) دقبرونو زیارت کوی ځکه چه دا انسان ته اخرت یادوي. او صحابو ته به یې دا تعلیم ورکولو چه کله به یې د قبرونو زیارت کولو چه دا دعاء اوایي:( السلام علیکم اهل الدیار من المؤمنین والمسلمین، وانا ان شاء الله بکم لاحقون، نسال الله لنا ولکم العافیـــــــــــة، یـــــــــرحم الله المســــــــــتقدمین مناوالمســــــــــتأخرین).

او هر چه ښځې دي د هغوی لپاره د قبرونو زيارت کول نشته، ځکه رسول الله ﷺ دقبر زيارت کونکو ښځو باندي لعنت ويلي دي. او ځکه چه ددوی د زيارت کولو کي د فتني اودصبر د کموالي يره ده. همدارنګه ښځو له نه دي پکار چه جنازو سره قبر پوري لاړي شي، ځکه رسول الله ﷺ ددي نه منعه کړي دي، اما د جنازي لمونځ په جومات کي يا په مصلی کي ښځو او سړو ټولو لپاره جائز دي.

هذا آخر ما تيسر جمعه، و ﷺ على نبينا محمد، وآله وصحبه .

دقبرونو دزيارت کولو قسمونه

| شرعي زيارت: | بدعي زيارت: | شرك والا زيارت: |
| --- | --- | --- |
| دا هغه دي چه دي کي د اخرت دياددولو نيت وکړي شي، او ددي لپاره دی د سفر تياری نه کوي، او کومي دعاګاني چه وارد دي هغه دعاګاني وکړي، او د شريعت مخالف کوم کار د پکي نه کوي. | ددي نه مقصد هغه زيارت دي کوم کي چه قبر سره د الله نه ددعاء کولو نيت کړي شوي وي يعني التة د الله نه ددعاء غوښتلو په نيت باندي وي. | په دي زيارت کي د قبر والا نه د څه غوښتني نيت وي نو دا شرک دي. |

## دتیر شوي درسونو متعلق سوالونه

١. په شرعي ادابو او نظام باندي پابندي کول د مسلمان د اخلاقو نه دي. ( صحیح- خطا)
٢. زما دین ماته دا حکم کوي چه د بدو خلکو ملګرتیاوکړم او د نیکو خلکو نه لري شم. ( صحیح – خطا).
٣. اسلا مونږ ته دا راښودلي دي چه د عمالو او خدمتګارانو سره ښه اخلاق او معامله وکړو. ( صحیح – خطا).
٤. څوک چه خلکو له په ژبه او لاس باندي تکلیف ورکوي د هغي دوستي وکړم. ( صحیح – خطا).
٥. چا چه راته کنذلي وکړي زه یي هم ورته کوم او خوند ورنه اخلم. (صحیح – خطا).
٦. اسلام دا راښودلي دي چه محتاج او ضعیفانو سره مدد وکړم. (صحیح – خطا)
٧. دیو مسلمان به بل مسلمان باندي دا حق دي چه دمرض په وخت کي یي تپوس وکړي او د شفا لپاره ورته دعاء وکړي.(صحیح – خطا).
٨. د ګاوندیانو اسرار او پټو رازونو باندي ځان خبرول د مومن صفات دي.(صحیح – خطا).
٩. الله ته په خلکو کي محبوب ترین هغه څوک دی کوم چه خلکو ته فایده رسوي.(صحیح – خطا).
١٠. د کور نه دوتلو دعاء: ( بسم الله ولجنا وبسم الله خرجنا وعلى ربنا توكلنا).(صحیح – خطا).
١١. څوک چه د پرنجي جواب راکړي نو زه به ورته:( يهديكم الله ويصلح بالكم) وایم.(صحیح – خطا).
١٢. اذکار ویبل د مسلمان لپاره حفاظت او الله ته نژدي والي دي. (صحیح – خطا).

۱۳. د خپل مسلمان ورور سره دي د محبت نښه څه ده ؟

..................................................................................

۱٤. د مسلمان ورور سره حسد کول د ایمان د کموالي نښه ده. (صحیح – خطا).

۱٥. د محبت د حاصلولو اسباب څه دي ؟

..................................................................................

۱٦. نشه کونکي شیانو کي حرام هغه دي کوم ته چه شراب ویلي شي.(صحیح – خطا).

۱۷. په خوراک یا څښاک کي پوکي کول مکروه دي. (صحیح – خطا).

۱۸. د خوراک نه وروسته او د لاس وینځلو نه مخکي ګوتي څټل مستحب دي.(صحیح – خطا).)

۱۹. خوراک څښاک لباس کي وسطیت مطلوب دي.(صحیح – خطا).

۲۰. حقدار د مړي له د غسل ورکولو . جنازي کولو، او دفنولو
.........................................بیا
.........................بیا.....................بیا.....................

۲۱. دمړي نه قرض اداء کول: O واجبٌ دي. O مَسنونٌ دي. O مُباحٌ دي.

۲۲. د مړي دفن کولو حکم: O سنت. O واجب. O فرض کفایي.

۲۳. مړي ته کلمه تلقین کول: O واجب. O سنت.O حرام.

۲٤. مړي له غسل ورکولو والا نه بغیر د نورو خلکو راجمع کیدل:
O حرام. O مُباح. O مَکروه.

۲۵. کله چه مړی قبر ته دننه کړي شي نو د کفن غوټې به ورله کولاو کړي شي.(صحیح – خطا).

۲۶. ښځه او خاوند یو بل به نه لمبوي ځکه چه د مرګ سره یي نکاح ختمه شوه.

( صحیح –خطا).

۲۷. سړي او ښځې به غسل ورکوي هغه چاله چه.........................................

۲۸. چانه چه د جنازي لمونځ پاتي شي نو هغه د ................................ اودا به ..........................کوي.

۲۹. مړي باندي ژړا کول مطلق جائز دي. ( صحیح – خطا).

۳۰. مړي به په لحد کي قبلي ته مخامخ کیښودلي شي. (صحیح- خطا).

# دموضوعاتو فهرس


د مقدمى شرح ........................................................ ٢
داولني درس شرح: سورة فاتحه اود لنډو سورتونو تفصيل.............. ٤
د تفسير (تيسير الكريم الرحمن )نه ځيني مقتطفات ..................... ٦
د مقدمي او تفسير متعلق سوالونه..................................... ٣١
ددويم درس شرح: د اسلام اركان...................................... ٤٨
ددريم درس شرح: دايمان اركان ....................................... ٥٦
دخلورم درس شرح: دتوحيد اقسام، او د شرک اقسام ................. ٦١
د پنځم درس شرح: احسان............................................. ٦٦
دتوحيد متعلق سوالونه ............................................... ٦٧
دشپږم درس شرح: دلمونځ شرطونه .................................. ٧٣
د اوم درس شرح: دلمونځ اركان....................................... ٧٧
داتم درس شرح:دلمونځ واجبات ...................................... ٧٩
دنهم درس شرح:د تشهد بيان ......................................... ٨٠
دلسم درس شرح ...................................................... ٨١
ديولسم درس شرح: دلمونځ سنتونه.................................... ٨٣
دسجده سهو احكام .................................................... ٨٥
دلمونځ مختصره طريقه په تصويرانو كي.............................. ٨٦
دلمونځ د او د احكامو خلاصه ......................................... ٩٦
دلمونځ متعلق سوالونه ................................................ ٩٩

ددولسم درس شرح: داودس شرطونه ........................................ ١٠٤
ددیارلسم درس شرحه:داودس فرضونه ........................................ ١٠٦
دخوارلسم درس شرح:داودس نواقض ........................................ ١٠٧
داودس مختصره طريقه په تصويرانو كي ........................................ ١٠٩
دپاكوالي (طهارت ) متعلق ځيني خبري ........................................ ١١٢
دپاكوالي متعلق ځيني سوالونه ........................................ ١١٦
د زكات د احكامو بيان........................................ ١١٩
دزكات متعلق سوالونه ........................................ ١٢٤
دروژي بيان........................................ ١٢٨
دروژي متعلق سوالونه........................................ ١٣٥
دحج او عمرى بيان........................................ ١٣٨
دحج متعلق سوالونه........................................ ١٤٦
دپنځلسم درس شرح: شرعي اخلاقو باندي ښايسته كيدل ........................................ ١٤٩
دشپاړسم درس شرح: اسلامي ادابو باندي ښايسته كيدل........................................ ١٥٠
د اولسم درس شرح:دشرك او ګناهونو نه ځان ساتل ........................................ ١٥٢
داتلسم درس شرح: د مړي تیارول........................................ ١٥٤
دادابو او جنازي متعلق سوالونه ........................................ ١٦٠

# مصادر او مراجع

[١]. «القرآن الكريم»، برواية حفصٍ عن عاصمٍ.

[٢]. «الجامع المُسنَد الصَّحيح المُختَصر من أُمور رسول الله ﷺ وسُننه وأيَّامه»، للإمام أبي عبد الله محمَّد بن إسماعيل البخاريِّ الجعفيِّ $ (ت ٢٥٦هـ).

[٣]. «الجامع المُسنَد الصَّحيح»، للإمام أبي الحسين مسلم بن الحجَّاج النَّيسابوي $ (ت ٢٦١ هـ).

[٤]. «الشَّرح المُمتع على زاد المُستقنع»، للشَّيخ محمَّد بن صالحٍ العثيمين $ (ت ١٤٢١هـ).

[٥]. «القول المفيد على كتاب التَّوحيد»، للشَّيخ محمَّد بن صالحٍ العثيمين $ (ت ١٤٢١هـ).

[٦]. «تيسير الكريم الرَّحمن في تفسير كلام المنَّان»، للشيخ عبد الرَّحمن بن ناصر السِّعديِّ $ (ت ١٣٧٦هـ).